
# The Montly Leekwal - Peshawar

Vol.: 14 no.: 5 May 2006

Chief Editor: Nurul Bashar Naweed

## A special edition for the late Dr. Kabir Stori



# “ لیکوال میاشتینۍ - پېښور
## پېنځمه ګڼه څوارلسم کال ۲۰۰۶
## زمه وار او چلوونکی: نورلبشر نوید
## ځانګړې ګڼه


THE MONTHLY LEEKWAL PESHAWAR.

میاشتنۍ لیکوال پېښور

چیف ایډیټر: نورالبشر نوید

ایګزیکټیوایډیټر: منیر هزاروی

قانونی مشیر: فضل الهی ایډوکیټ

مشاورتی بورډ: سلیم راز_هاشم بابر، ډاکټر محمد اعظم اعظم

نګران: منصف علی خان اپریدے

E-mail: leekwaal@yahoo.com


څوارلسم جلد پنځمه ګڼه مئی 2006ء

# ترتیب



| لیک | لیکوال | صفحه |
| --- | --- | --- |
| په سیاسی شطرنج کښې | اداریه | 02 |
| څلورم اپرېل | عبدالبصیر ستوری | 04 |
| د وحدت ستورے | محمد افضل خان | 09 |
| کبیر جانه ----- | ډاکټر شاه جهان سید | 11 |
| عملی مبارز | لائق زاده لائق | 14 |
| د "ستوری" اخری چغه | انور ظفری | 19 |
| ډاکټر کبیر ستوری سره --- | محمد شیرین کردی وال | 23 |
| سپین غر ته | اجمل ختک | 24 |
| اؤ ماته رایاد شول | ډاکټر غزن ختک | 26 |
| موجوده پښتون | طاهر بونیرے | 29 |
| د تېږې هنداره | اداره | 34 |
| یو مئی ----- | منان باچا | 35 |
| مزدور په نمانځلو کښې | جمیل یوسفزے | 38 |
| د پښتنو د وحدت د پاره---- | سید مدثر شاه | 40 |
| بلوچ مزاحمتی ------ | خان زمان کاکړ | 42 |
| مزاحمت یا مصلحت | اکرم مبارز | 45 |
| بنګله دېش اؤ پښتونستان | ولی دومړ | 48 |
| هنګو د اور په لمبو کښې | منیر حسین طوری | 51 |
| کراچی کښې د پښتنو هلې ځلې | ساګر تنقیدی | 54 |
| د یو پاکستانی افسر---- | اداره | 57 |
| حمزه بابا مونږ ملامته یو | شوکت حیات خان | 58 |
| یو لیک یو تاثر | لیک: عادل خان | 61 |
| | تاثر: نورالبشر نوید | |




کلامونه:

عبدالوهاب سرتېر، عرفان الله کوتوال، انجنیر اتل، ساګر تنقیدی،
سراج محمد افریدے، فیصل فاران، داؤد بخت مندوخیل

وطن نه بهر نمائنده کان

| امریکه | ناروے | هالینډ |
| --- | --- | --- |
| عظیم شکیب | یوسف خدمتګار | زرغونه یا خون کالام |
| جرمنی | افغانستان | بیلجیم |
| میم غریب | نجیب عامر | خان فخر عالم |

د وطن دننه نمائنده کان

| | |
| --- | --- |
| کوئټه | عبدالواحد شیرانی |
| ژوب | بشرمل ناصر، محمود خان شیرانی |
| قلعه سیف الله | حبیب الله خوشحال |
| کراچی | ساګر تنقیدی |
| جیکب آباد | سیف الدین افغان |
| اسلام آباد | عمرمختار اپریدے |
| ډیره اسماعیل خان | اطلس خان شیرانی |
| بنوں | حمیدعلیشاه بنوځے |
| سوات | عطاء الله جان |
| کرم ایجنسی | منیر حسین طوری |
| جنوبی وزیرستان | نثار وزیر |
| باجوړ | جعفر خان جعفر |

دلیکوال بیعه: 25 روپۍ

دوطن نه بهر بیعه: پنځه ډالره

اکاونټ نمبر: 6583 - 4 M.C.B. G.T Road Branch Peshawar City

مظهر پریس پېښور

پوسټ بکس نمبر 41 جی پی او پېښور

موبائل نمبر: 0300-5939673

ادارىه:

# په سياسي شطرنج کښې د باوردي صدر "چال"

په سياسي بساط چې هر کله په کومو دوررونو کښې باوردي فوځي جرنېل د اقتدار لوبې ته ناست دے نو د بده مرغه هغهٔ سره په دغه پېښه کښې د جمهوريت پسندي د دعوؤ خلق ناست دي يا پس پرده چې کوم د اشارو لوبغاړي د کور بنده ته وائي بېدار شه او غل ته وائي غلا وکړه په مصداق د "دوه سري" سياستدان رول ادا کوي۔ دا څومره د حېرت او افسوس مقام دے چې په داسې هر امريتي دور کښې جمهوريت پسند د خپل سياست په خپله جنازه کښې ولاړ وي۔ په خپل لاش خاورې اچوي او د خپل قبر په کتبه کنده شوي لفظونه گردانوي!!!

مجھے محفوظ کرلیں اے زمانے
میں اک کتبہ ہوں مٹتا جارہا ہوں

مونږ په سياسي داسې څومره دوررونو کښې د خود کشي په مرگ مړهٔ شوي يُو او بيا د خپل قبرونو د کتبو د حرفونو پښان الوتي، وران شوي او ورک شوي يُو۔ د مصلحتونو ، خوش فهمو او ذاتي غرضونو او هوسونو په دغه خودسوزي، خودکشي او کردارکشي کښې ځيني نومونه داسې راشي چې قلم ئې په ليکلو او ژبه ئې په وئيلو شرميږي۔ نن په دغه عالمي، ملکي او علاقائي منظرنامه کښې يو ځل بيا د زوړ رسم د ادا کولو وخت راغلے دے چې يا خو به د پاکستان په سياسي شطرنج کښې خپل واضحه "چال" کوُل غواړي يا به د سرکاري سياست دا لوبه قبلول وي۔ يا به په ځان پسې بند قبرونه شلوُل وي او يا به نورې خاورې په ځان انبارول وي۔ يا به په عالمي بساط ځان ته د ناستې، د شناخت ، د خپل نوم ځاې پېداکوُل وي او يا به په پردي لستونړي کښې لاس ورکول وي۔

اوس په دغه مېدان کښې ځان واضحه څرگندول دي ځکه چې يو فوځي جرنېل چې هغه د ملک تنخادار دے سرکاري نوکر دے خو د سياسي سرکاري مسلم ليگ د شنې جنډې لاندې په عوامي اجتماعاتو کښې د "سرکاري عوامي" نعرو جواب په فوځي وردۍ کښې ورکوي۔ زمونږ د قامي مسئلو په ضد ښکاره وائي!!!

کالاباغ ډېم به ضرور جوړوؤ!!!

د پنجاب نه بغیر نهٔ کیږی!!!

وردی د ملک اؤ قام ضرورت دے!!!!

صدر د خپلې وردی اؤ صدارت د تجدید د پاره موجوده اسمبلی نه بیا د ووټ اخستو خبره کوی۔ دلته خو په پښتونخوا کښې سرکاری مسلم لیگ د دهوالونو اؤ پوسټرو په نعرو کښې د نوی وزیراعلیٰ غږ هم کړے دے۔ هر چا خان خان له په ملکی اؤ صوبائی سطحو د عوامی رائې نه وړاندې خپلې خپلې چوکی خوښې کړی دی اؤ د هغې باقاعده اعلانات ئې هم کړی دی۔ په دې ټوله غیر سیاسی ، غیر جمهوری لوبه کښې صدر وړاندې اؤ سرکاری سیاستدانان ور پسې عوامی اجتماعاتو کښې نعرې وهی!!!!

*"جنرل مشرف صدر ہمارا"*

په هر دور کښې هغه کهٔ فیلډمارشل دے کهٔ جنرل دے د مسلم لیگ نه یو څیز جوړ کړی اؤ لس پؤولس کاله حکمرانی وکړی۔

جنرل مشرف چې په اول اول کښې ئې ځانته د سیکولرازم په حواله د کمال اتاترک پرستار وئیلو نو کېدې شی چې د اتاترک د دې خبرې نه ناخبره وو چې هغه وئیلی دی!!!

"د دنیا هیڅ یو طاقت داسې نشته چې هغه به یو قام د ژوند د بنیادی حق نه محروم وساتی"۔

په داسې حالاتو کښې چې یو باوردی صدر خپل حیثیت په سرکاری اؤ سیاسی دوارو سطحو یو شان ځان سره ساتل غواړی اؤ د پاکستان د څلورو صوبو د لویو قامونو کښې فقط د یو "پنجاب" د خوښولو جذبات هم نهٔ پېژنی نو سیاسی جمهوری ډلې اؤ سیاستدانان دې ولې په سیاسی شطرنج کښې خپل "چال" پټ کړی بلکه باید چې جمهوریت پسند، ترقی پسند، سیکولر قوتونه خصوصاً پښتانهٔ قام پرست بنهٔ په جار په ډاگه ووائی!!

چې زمونږ منزل اؤ مرام یو قامی اولسی جمهوری پاڅون دے۔ داسې پاڅون چې خپله نامه، خپل شناخت، خپل اختیار اؤ خپل واکدار ولری۔

څنگه چې ډوبېدونکے هرڅوتی ته لاس اچوی نو دا وخت پښتون په داسې بوخته کښې انښلولی شوے دے چې هغه د افغانستان په آئینه کښې ځانته گوری اؤ بیا په پاکستان کښې خپل موجوده شناخت اؤ د خطرو اوازونو ته گوری نو د شک اؤ گمان په تیارو کښې د رڼا په نامه وائی!!!

کهٔ د قبلې ډوډې راخېژی کهٔ د بلې ډوډې

مونږه تیارو وهلو خلقو له خو نمر ٠ پکار دے



ستوری د خپل څوی عبدالبصیر ستوری سره

لیک: عبدالبصیر ستوری

# څلورم اپریل زمونږ د کورنۍ دروند غم

ما ته د خپل پلار دا خبره په ثبوت ورسېده "چې ما تاسی ته کهٔ مادی اؤ مالي شتمنی نهٔ ده پرېښې خو معنوی پانگه مو له هر چا زیاته ده" نو زهٔ په دې ویاړم چې زمونږ پلار مونږ ته ډېر څهٔ پرېښې چې د ډېرو لږو خلقو په نصیب کېږی

څلورم اپرېل زما لپاره هغه دردناکه اؤ له غمه ډکه ورځ وه چې ما د خپل پلار ډاکټر کبیر ستوری د مړینې خبر د ټېلیفون په لیکه سحر اتهٔ (8) بجې واورېد، په رښتیا چې انسان د کانی کلک اؤ تر گل نازک دے، د خبر په اورېدو مې د ټېلی فون غوږی له لاسه ولوېده، نهٔ پوهېدم چې په ما څهٔ وشو۔ د خولې څخه مې بې درېغه چغې وختې، یو دوه را نه خطا شول، زما په فریاد اؤ چغو زما مېرمن اؤ بچی له ما راتاؤ شول، له ما څخه ئې وپوښتل چې څهٔ چل شوے دے۔ خو ما خپل هوش اؤ حواس بائېللې وو نهٔ پوهېدم چې څهٔ ورته ووایم، خو هغوی زما په حال پوه شول په ټول کور کښې ویر اؤ ماتم جوړ شو، ما ته خپله بې وسی اؤ د مسافرۍ غم بیا بیا مخې ته کېدهٔ، په لږه شېبه کښې زمونږ خپل، خپلوان اؤ دوستان خبر شول، مشره ترور مې اؤ د لائق زاده کورنۍ چې زما د ورورۍ اؤ د خپلوۍ رشته ور سره وه اؤ زمونږ په گاونډ کښې وسېدل تر ټولو د مخه راورسېدل، هغوی هم راسره وژړل اؤ بیا بیا ئې راته تسلی اؤ ډاډگیرنه راکوله، څو ساعته وروستهٔ زمونږ ټول خپلوان زمونږ کور ته راجمع شول۔ زما دوستان، زما د پلار ملگری اؤ مینه وال چې د دغه غمژنې پېښې څخه خبرېدل چا به کور ته ځان رارسوٗ۔ چا به د ټېلی فون په

ذریعه غمرازی او ډاډګیرنه راکوله، هغوی به وئیل چې مونږ ټول له تاسره په دې درانه غم کښې شریک یُو، ته خان یوازې مهٔ بوله، ستوری یوازی ستا پلار نهٔ وو هغهٔ د ټول پښتون قام لارښود، ملی او قومی سرمایه وه، زما حوصله د دوی د ډاډګیرنو سره ورو ورو قوی کېده او د پلار د غم دغه درونډ بار مې د اوږو کمېدهٔ، ما مې د خپل پلار څخه په خپل ژوند یوه خبره اورېدلې وه "چې پښتون هر چرته وی ، هغهٔ کهٔ د ډېرو شتو څښتن وی او یا ډېر غریب خو په مینه، محبت او اخلاص کښې د نړی یو قوم د پښتون مقابله نشی کولے، خو په رښتیا چې د لرو اوبرو پښتنو دا خبره ثابته او په ډاګه کړه چې د خپل محسن او خواخوږی سره ئې په ژوند کومه مینه کړې وه هم هغه شان ئې د هغه په مرګ هم وژړل او د غم دغه درنه لمحه ئې زمونږ د کورنی سره شریکه کړه۔

زما د پلار ډاکټر کبیر ستوری دا لوې ارمان وو چې کله خپل عالی تحصیلات بشپړ کړی نو پښتونخوا ته به ورځی او دلته به د خپلو پښتنو ورونو او اولس سره یو ځائې ژوند کوی خو دا ارمان ئې د زړهٔ د ناڅاپی ناروغی په وجه پوره نشو۔

زهٔ لا ډېر ماشوم ووم چې پلار مې د کابل د رحمان بابا دلیسی څخه فارغ او د لوړو زده کړو لپاره جرمنی د ممتازو زده کوونکو په ډله کښې لاړ، لوړی زده کړی ئې په جرمنی کښې سر ته ورسولې او په ساپوهنه (سکالوژی)، فلسفه او سیاسی علومو کښې ئې (Ph.D) پی ایچ ډی ډکتوره ترلاسه کړه۔ مونږ به د پلار د مینې لارې څارلې او دا رانګ ورځې به مو شمېرلې چې په افغانستان کښې حالاتو بدلون ومونډ، او پېښور ته کډاول شو۔ د مهاجرت په شپو ورځو کښې مونږ هم لکه د نورو افغانانو ډېرې ستونزې او کړاؤنه ولیدل، یو ځل مې ورته لیک ورولېږو او ورته مې لیکل چې ورونه او خوېندې مې د تعلیم او زده کړې څخه بې برخې کېږی، ستونزې مو ډېرېږې، ستاسو راتګ هم ناشونی دی نو مور او ورونه مې جرمنی ته درتلل غواړی، هغهٔ په جواب کښې راته ولیکل چې زهٔ په اروپاکې ژوند کول نهٔ غواړم او کهٔ خدائے حالات سم کړهٔ زهٔ به خپلې خاورې او خپل اولس ته درځم هلته به یو ځائے ژوند کوو۔ خو چې حالات ورځ تر ورځه خرابېدهٔ او سمون ئې نهٔ خوړو نو زما د مشر ترهٔ عبدالجلیل ملنګ په وینا ئې زما مور، ورونه او خوېندې جرمنی ته وبلل، زهٔ لا هم هغه شان د پلار د نژدی او دایمی مینې څخه بې برخې پاتې شوم۔ د هغه د ژوند د سفر ۴۲ کلونه په جرمنی کښې تېرشول خو په دې ورستیو څو کلونو کښې کله چې د پښتونخوا په هر ګوټ کښې د پښتو او پښتنو په باب کومه غونډه جوړېده، پلار به مې ورته په ډېره خوشحالی ځان رارسوو۔ هغه په پښتنو مئین وو، په خپله ژبه پښتو مئین وو، د پښتنو د اتحاد، اتفاق او یو والی مینه ئې په زړهٔ کښې وه، پښتون قامی وحدت ئې لویه ارزو وه، د محترم مشر محمد افضل خان لالا د پښتون قامی وحدت په ترون ئې په دوه درې غونډو کښې شرکت وکړو، د پښتو عالمی کانفرنس، پښتو عالمی کنونشن او د رحمان بابا په سیمنار او نورو ادبی غونډو کښې په ډېره مینه شرکت وکړو۔ هغهٔ

چې به کله پېښور ته راغې نو خوب به ئې کم، د زړهٔ د ناروغی سره سره به د پښتنو شاعرانو، لیکوالانو، ادیبانو، صحافیانو (ژورنالستانو) او سیاسی مشرانو سره د لیدلو، کتلو او کېناستلو ډېر ارمانجن وو ما ته به ئې همېشه وئېل چې د هرې ورځې پروګرام جوړوه چې زهٔ پکښې دغه ټول پښتانهٔ په نوبت وینم- په خپل لند تنگ سفر کښې به ئې د خپل پلرنی ټاټوبی کونړ او د هغه ځاے د اولسی مشرانو او کشرانو مینه هم د یاده نهٔ وتله- د خپل سفر په جریان کښې به حتماً دوه درې ورځې د خپل کور کلی او خپل اولس لیدلو ته ایستلی ځان به ئې کونړ ته رسوؤ- هلته به ئې ښهٔ دروند استقبال کېدهٔ او د اولس مینه هم ورسره دومره زیاته وه چې د دهٔ د دلیدو تنده به ئې په دې دوه ورځنی سفر کښې نهٔ ماتېده- ډلې ډلې خلق به ورته راروان وو او دهٔ به ورسره خپل پښتون نظر شریکوو- د خبرو کولو انداز او لهجه ئې د هر چا خوښېده، ځوانان سپین ږیری او ماشومان به ترې راتاؤ وو- هغهٔ به د ټولو سره ډېره مینه کوله په ولسوالی او کلی کښې ئې د ځوانانو او پښتو کلتوری ټولنی جوړې کړی اؤ تر خپله وسه به ئې مرسته ورسره کوله او وسائل به ئې ورته برابرول- هغه د پښتنو ټولو سیاسی مشرانو ته خاص عقیدت او احترام درلود- خو د دوی په بې اتفاقی ډېر خوږېده، په جرمنی کښې ئې هم لر او بر پښتانهٔ د پښتون سوشل ډېموکراټیک، گوند د سیوری لاندې راټول کړی وو- غونډې او سېمنارونه به ئې جوړول په اروپا کښې د پښتنو د دود دستور کلتور او کلچر د ساتلو لپاره به ئې هلې ځلې کولې چې په ټول یورپ (اروپا) کښې هر پښتون خپل او پردی به ورته د ډېر احترام او مینې نه "ماما" وئېل، او هغه ماما چې کله له دې فانی دنیا څخه سترگې پټې کړې نو ټولو پښتنو په اروپا کښې خانونه د ډېرو لری لری ځایونو څخه جرمنی ته راورسول او د خپل "کبیر ماما" په جنازه کښې ئې شرکت وکړو- ټولو پرې وژړل، اوښکې ئې توې کړې- کله چې د خدای بخښلی جنازه د مسافرو پښتنو څخه پېښور ته راورسېده نو د دې ځای پښتنو هم خپله پښتونولی او مینه وښوده- چا خان سحر وختی پنځهٔ بجې هوائی ډگر (ایرپورټ) ته راورسوو او څوک د تورخم پورې د افضل خان لالا په مشری د جنازې سره بدرگه لاړل-

د افغانستان حکومت او اولس ئې هم ډېر درناوی وکړو په خاصو تشریفاتو ئې جنازه تر خاص کونړ پورې ورسېده- په زرگونو خلقو ، لوړپوړی دولتی چارواکو، قومی او سیاسی مشرانو ئې په جنازه کښې گډون وکړو- د اپریل په پنځلسمه نېټه اروابناد ډاکټر کبیر ستوری فاتحه د پېښور په سپین جماعت یونیورسټی روډ کښې واخستل شوه چې په ډېر کڼ شمېر کښې قومی مشرانو، شاعرانو، ادیبانو د ادبی او فرهنگی ټولنو استازو او د پښتنو ټولو سیاسی مشرانو څخه تر اخره ناست وو- وروستهٔ د ANP مشران او په خاصه توگه د پښتونخوا ملی ادیب، شاعر او سیاسی مشر اجمل خټک بابا په ناروغ وجود جومات ته خان راورسوو او د رارسېدو سره سمدستی ئې وویل چې ما ته د خبرو کولو موقع راکړئ- هغه د ډاکټر کبیر ستوری په سیاسی، ادبی او ټولنیزو هلو ځلو رڼا واچوله

اؤ په ابدی دنیا کښې ئې ورته د مغفرت دعا وکړه۔ هم دا شان د اپرېل په 22نېټه د کابل ښار د عیدګاه په جامع جومات کښې په خاصو مذهبی اؤ دولتی اعزاز تر سره شوه چې په کښې ګڼ شمېر حکومتی لوړپوړی چارواکو، د ملی فوځ اؤ ملی پولیسو لوړ رتبه افسرانو قومی، سیاسی، ادبی اؤ د ژوند د بېلا بېلو طبقو اشخاصو اؤ اولسونو پکښې برخه واخسته۔

د غمرازی دا سلسله لا دوام لری خو زۀ د هغه ټولو مشرانو،کشرانو، قومی سپین ږیرو، خوانانو، شاعرانو، ادیبانو، صحافیانو اؤ فرهنګیالو څخه چې زما د پلار په مړینه ئې خفګان اؤ خواشینی څرګنده کړی اؤ د جنازې، تدفین اؤ فاتحې په مراسمو کښې زمونږ د کورنی سره برخه اخستی ډېره ډېره مننه کوم ما ته د خپل پلار دا خبره په ثبوت ورسېده "چې ما تاسی ته کۀ مادی اؤ مالی شتمنی نۀ ده پرېښې خو معنوی پانګه مو له هر چا زیاته ده" نو زۀ په دې ویاړم چې زمونږ پلار مونږ ته ډېر څۀ پرېښی چې د ډېرو لږو خلقو په نصیب کېږی، د هغه نوم ژوندی دی اؤ تر عمره به ژوندے یادېږی لکه چې په خپل شعر کښې وائی:

د انسان ژوند یو څو ورځې وی تېرېږی
ښۀ ده ښۀ ده چې په ښۀ نوم څوک یادېږی
مړ هغه دے چې ئې نوم اؤ اثر نۀ وی
چې ئې نوم اثر ژوندے وی نۀ مړکېږی

لوے خدایے (ج) دې زما پلار ته جنت فردوس ور په برخه کړی۔

## ویرنه


(عبدالوهاب سرتېر، جرمنی)

یو ستوری وو کبیر، چې له مداره څینی ووت
د ژوند له دې نمکړی شان ، بازاره څینی ووت
خوا خوږی مهربانه اؤ متین په پښتو ژبې
په اړو کښې زمونږ اړوله کاره څینی ووت
مرګی په بې رحمی سره چمن ته مخه کړے
کبیر مو لکه ګل چې د ګلزاره څینی ووت
خفه په پښتنو یم چې د سر خلق ئې سرخوری
کوم ستوری چې زمونږ د شب و تاره څینی ووت
کبیر داسې پښتون وو مور راوړی چې "سرتېره"
د نرخ څینی وته ووت خو د ښاره څینی ووت

## د ارواښاد ډاکټر عبدالکبیر ستوری روح ته عرفان الله کوټوال ډالی

دا د کوم اجل جرس وو چې په غوږ مو لګېدلے
چې د ستورو له مداره مو یو ستورے غورځېدلے
یا به مونږه بدنصیب یُو یا خدایه ستا رضا وه
ستا رضا ده ستا رضا ده ، دا مو تا ته در بخښلے
د پښتو د پټکی ول وو د غرور یوه شمله وه
زمونږ ستوری د اقبال وو چې په سر مو اوسېدلے
زمونږ لعل، زمونږه ګنج اؤ دا زمونږ د ژوند رڼا وه
چې بغېر له دې ژوندون وی مونږ به ولې ژړېدلے
دا به څو مره نېکمرغی وی چې د خپل ستوری رڼا ته
مو فرهنګ غېږې وهلې اؤ یو بل ئې څملولې
دا به فخر دا به ژوند وی چې یو ستوری مو پلاس وی
دا وړه ، وړه پښتو مو لاس نیولی ګرځولے
د کوټوال به په تندی کښې رڼا ئې د ستورو نه وه
کنه ستوری به تر عمره مو په تنده ځلیدلے

# ستوري د تصوير په آئينه کښې









دوه ملګری، دوه همخیال ستوری اؤ خان لالا

✍: محمد افضل خان

(قام پرست مشر اؤ پخوانے وفاقی وزیر)

# د وحدت ستورے

**زما یقین دے چې د ستوری د وفات نه پس به د پښتون سوشل ډیموکریټک پارټی مشران اؤ غړی، د ستوری کشران اؤ د ANP مشران اؤ غړی به د قامی وحدت دا مرام په خپلو کوششونو تر لاسه کړی**

"ستورے" په ونه لوړ نهٔ وو خو په عزم اؤ ارادو د تاترې نه ډیر دنګ اؤ اوچت وو۔ د "ستوری" د رڼا یو اړخ نه وو بلکې هر لوری اؤ هر اړخ ته د هغهٔ د رڼا پلوشې خورې وې۔ په علم اؤ پوهه کښې پی ایچ ډی وو اؤ هغهٔ هم په ساپوهنه کښې، شاعروو، ادیب وو، جرنالسټ وو، مصنف وو اؤ د ټولو نه زیات بې کچه قام پرست وو۔ په رښتا چې کبیر "ستورے" وو۔ د هغهٔ قام (پښتون) په کال 1893ء کښې فرنګیانو څلور ټوټې کړو اؤ هغهٔ ته د خپل اولس د دې تقسیم پوره پوره احساس وو۔ هغهٔ پوهېدو چې د هغهٔ قامی وجود نشته۔

هغهٔ ته دا احساس په المان کښې د تعلیم د حاصلولو په موده کښې شوے وو۔ اؤ چې کله بیا وروستو په المان غږ راډیو کښې ملازم شو نو دا احساس ئې نور هم زیات شو ځکه چې المانی قام هم فاتحینو څلور ټوټې کړې وو۔ چې وروستو بیا په مشرقی اؤ مغربی جرمنی یادېدو۔ د جرمنی قام سره اؤ خاص کر د مغربی جرمنی د اولس سره د دې خبرې د اولې ورځې نه احساس وو چې د هغوی قام غېرو تجزیه کړے دے اؤ قامی وجود ئې نشته۔

جرمنی قام په 45 کالو کښې دا احساس دومره پیاوړے کړو چې د برلن دېوال ئې له منځه یوړو اؤ خپل قامی وحدت ئې بیا حاصل کړو۔ د ستوری سره هم دا احساس وو اؤ هغهٔ په المان کښې د پښتون قامی وحدت د حصول د پاره خپل ګوند د پښتون سوشل ډیموکریټک پارټی په نوم راجوړ کړو۔

ستوری په خپل ګوند کښې دننه قامی وحدت تر لاسه کړے وو۔ ځکه چې د هغهٔ په ګوند کښې د ډیورنډ د کرښې نه لاندې اؤ باندې دواړه اړخونو ته پراتهٔ "افغانان" شامل وو۔ ستورے په دې هم خوش بخته وو چې د ډیرو صلاحیتونو اؤ عزم افغانان ورسره په ګوند کښې د غړو په حېث شامل وو اؤ متفقه طور ئې د وحدت د حصول اؤ مرام تر اوسه وړاندے بوتلو اؤ باور لرم چې د ستوری د وفات نه پس به هم دغه ملګری د پښتون قامی وحدت د حصول پورې خپل کوششونه جاری

وساتی۔

ستوری دا نه چې پواځې په المان کښې د قامی وحدت د حصول د پاره افغانان راغونډ کړی وو بلکې په لرو بر پښتونخوا کښې هم د هغهٔ نظر په هاغه ټولو مشرانو پرېوتے وو چا چې د قامی وحدت حصول خپل د ژوند مرام ګرځولے دے۔

د خپل ګوند د جوړولو نه څو کاله پس ستوری خپل ملګری پاکستان ته په دې غرض را اولېږل چې المان کښې د خپلې پارټۍ د کنونشن د پاره ما مشر مېلمه کړی۔ هغوی چې دلته راغلل نو هاغه وخت ورته د ANP صوبائی مرکز غړو ووئیل چې "خان لالا" اوس د پارټۍ صوبائی صدر نهٔ دے۔ هغوی ورته سپینه کړه چې مونږ ANP په صوبائی صدر پسې نهٔ يو راغلی، مونږ په محمد افضل خان پسې راغلی يو۔ د پېښور نه بیا دغه کسان سوات ته راغلل او ما ته ئې د ستوری بلنه راورسوله۔

زهٔ په ټاکلی تاریخ په کنونشن کښې حاضر ووم۔ په یورپ د دومره تعداد غونډې او هغهٔ هم د بېرونی خلقو ما ډېرې کمې لیدلی دی۔ په کنونشن کښې په "وحدت" ډېرې کوټلې وېناګانې وشوې او بیا د "کولن" د ښار نه علاوه په نورو ښاریو کښې هم لوې لوې غونډې وشوې۔ چې د ټولو نه فعال غړے ئې کبیر ستورے وو۔

په پېښور کښې چې مونږ په کال 2000ء کښې د پښتون قامی وحدت په حواله يو لويه قامی جرګه رابللې وه نو "ستورے" سره د خپلو نورو ملګرو په هاغه دوه ورځنی جرګه کښې حاضر وو۔ چې د يو نشست صدارت د هغهٔ مشر ورور وکیل عبدالجلیل ملنګ هم کړے وو۔ دغه وېناګانې مونږ د "جرګې" په نوم په کتابی شکل کښې چاپ کړی دی۔ چې د ستوری وېنا پکښې واضحه پرته ده۔ وروستو چې بیا کله مونږ د "ډیورنډ" په کرښه د پېښور په پریس کلب کښې دوه ورځنی کانفرنس منعقد کړے وو نو په هغې کښې هم ستورے د المان نه پېښور ته د ګډون په غرض رارسېدلے وو۔ او دواړه ورځې په کانفرنس کښې شریک وو۔ دغه وېناګانې هم مونږ په کتابی شکل کښې چاپ کړی دی چې پکښې د ستوری وېنا په مؤثر ډول لیک ده۔

ستوری دا ارمان لرلو چې پښتون قامی وحدت د هغهٔ په ژوند کښې حاصل شی خو دا ارمان ئې پوره نشو۔ البته د "وحدت" د حصول په لاره دومره رڼا غوزولې وه چې زما یقین دے چې د وحدت دا مرام به ډېر زر تر لاسه شی۔ هاغه لوستی پښتانهٔ چې د "وحدت" خبرې ته غوږ نهٔ اېښودو د "ستوری" د هغهٔ د ملګرو او دلته د پښتونخوا قامی پارټۍ د غړو په کوششونو هغهٔ نن په دې وېنا مجبور دی۔ چې د پښتون / افغان قام د مسائلو حل د قامی وحدت نه بغېر نشی کېدے۔

زما یقین دے چې د ستوری د وفات نه پس به د پښتون سوشل ډیموکریټک پارټۍ مشران او غړی، د ستوری کشران او د ANP مشران او غړی به د قامی وحدت دا مرام په خپلو کوششونو تر لاسه کړی او پښتون قام به هم د دنیا په قامونو کښې د پیاوړی قامی وجود خاوند شی۔

☆☆☆☆☆☆

✍ :ډاکټر شاه جهان سید

د پېښور پوهنتون د جرنلزم ډیپارټمنټ چئیرمین

# کبیر جانه ، ډېر یادو نه دې پر پښو دل

**د ولی خان تر مشرۍ لاندې، ملی عوامی گوند NAP او ANP ئې د لویدیزې نړۍ د سوشل ډیموکرېټک گوندونو سره په نظریاتی توگه نږدې بللو نو ځکه ئې د خپل گوند ته هم پښتون سوشل ډیموکرېټک گوند نامه ورکړې وه**

ما په خپل ژوند دا نهٔ کتله چې ما ته به وونېل شی چې د کبیر جان په حقله راته څهٔ ولیکه۔

څو مره گران کار دے، د هغه چا په باره کښې څو کرښې لیکل چې تهٔ ئې تر اوسه د ځانه جدا نهٔ بولے۔ خو څنگه چې د نړیوالو دود دے، نو څهٔ به لیکل وی۔ په ساده ټکو څو کرښې ، څو یادونه۔

☆ ورخ خو راته یاده نهٔ ده خو میاشت او کال راته یاد دے، چې کله ما کبیر جان په رومبی ځل د جرمنی فرانکفرټ ښار کښې ولیدو۔ June 1974، دوه دېرش کاله پوره کېدونکی دی چې مونږ د ژوند د سفر په ډېرو اړخونو کښې یو وو۔

کبیرجان چې په دغه وختونو 1973-74 ئې



اروابناد ستوری د پېښور په یوه غونډه کښې د افضل خان لالا، سلیم سیف الله او سلیم راز سره

خپله نوم د کبیر میرداد خېل نه په کبیر لعل اړولے وو۔ ځکه سردار داؤد خان دا حکم کړے وو۔ چې قبائیلی نامې به څوک په خپل ځان سره نه ږدی نو د لعل لقب ئې خوښ کړے وو۔ خو یو ماښام ورته ټوقو ټقالو کښې ملگرو وونېل چې لعل خو هندوستان کښې مشهور نوم دے نو سوچ کښې لاړو۔ هم هغه شپه ئې په ما باندې د "هوښیارتیا د تلے" -Intelligence Test تجربه کوله چې غونډه کتابچه کښې ستوری، ستوری وو، زهٔ تنگ شوم او ما ورته وونېل چې کبیر جان لالا دومره ستوری دی راباندې شمېر کړل چې تهٔ هم "ستورے" راته ښکارې۔

ډېر ئې وخاندل او صبا سحر چې ئې راته، نوے

شعر اوررولو نو دې پکښې ستورے شوے وو۔

د دهٔ د سیاسی ژوند اؤ کرنلارې باندې لنډ لیکل خو زیاتے دے خو د ژوند هلې ځلې ئې د یو ټکی نه تاوېدو، راتاوېدو، چې هغه پښتانهٔ دی۔

په هلکوانی اؤ ځوانی کښې ئې په جرمنی کښې د افغانستان د محصولینو "Students" ټولنه کښې ېرې دا تور وو چې پښتون نېشنلسټ دے خو د دهٔ ېرې چرت خراب نهٔ وو اؤ د پښتو د پاره به ئې هره غونډه کښې غېږ پورته کولو۔ اؤ چې کله ئې مخالفین ډېر شو نو د ځینی ملګرو سره ئې په ګډه د پښتنو اؤ بلوڅو د ملی ازادۍ بخښونکی ټولنې تر نامې لاندې یوه ډله جوړه کړه کومه چې د کوزې خوا په سیاسی ډګر کښې د دهٔ د دلچسپی ښکاره ثبوت دے۔ هم په هغه وختونو کښې د NAP سره د زور زیاتی له کبله د ځینی پښتنو ځوانانو یورپ اؤ خصوصاً جرمنی ته تښتېدل اؤ سیاسی پناه اخستل یو نوې سیاسی پلېټ فارم جوړ کړو۔ اؤ د پښتنو اؤ بلوڅو د ملی ازادۍ بخښونکی ټولنې هلې ځلې پراخه شوې۔

په افغانستان کښې د ثور انقلاب ووشو چې په روسی پراؤ کښې خو ئې د جرمنی روشنفکره پښتانهٔ هر کلے وکړو خو ډېر زر دا هلته د اوسېدونکو پښتنو د سیاسی بېلوالی ښه ونیوله۔ چې دا پړاؤ د کبیرجان د پاره ډېر سخت وو ځکه چې د دهٔ ډېر سیاسی ملګری په ډلو ووېشل شول۔ په دهٔ هم ډېر فشار راویستلے شو چې په خلقو ډیموکرېټک ګوند کښې غړیتوب تر لاسه کړی۔

**میوزک ئې ډېر خوښېدلو، خو یواځے د پښتو، د ځوانی ورځو شپو کښې به ئې کله کله رباب هم غږولو۔ ګډا ئې خوښه وه، خو خپله نه ورتله**

خو دهٔ خان منځګړے وساتلو۔ خو ډېر زر، لکه څنګه چې د افغانستان هغه بدلون په سیمه اؤ نړی کښې ستړې اغیزې درلودې نو په جرمنی کښې د وسېدونکو پښتنو سیاسی چوکاټ هم بدل شو۔

د افغانستان د شخړې له کبله، د زرګونو پښتنو یورپ اؤ جرمنی ته تښتېدو له کبله هلته سیاسی ساحنه بدلېږی اؤ د کبیر جان تر مشری لاندې د پښتون سوشل ډیموکرېټک ګوند بنسټ کېښودلے شو۔ داسې د دوی سیاست یو نظریاتی اؤ ګوندی چوکاټ غوره کړو۔ کهٔ څه هم، د کبیر جان خپله سیاسی نظریه د باچاخان د فلسفې نه رڼا اخلی اؤ تل به ئې په ډاګه وئېل چې زمونږ سیاسی هلې ځلې د باچا خان د سیاسی غورځنګ پرمختګ دے۔ خو ورسره ئې د لویدیځے نړی د سیاسی سسټمونو ژوره مطالعه کړې وه اؤ د ولی خان تر مشری لاندې، ملی عوامی ګوند NAP اؤ ANP ئې د لویدیځے نړی د سوشل ډیموکرېټک ګوندونو سره په نظریاتی توګه نژدے بللو نو ځکه ئې د خپل ګوند ته هم پښتون سوشل ډیموکرېټک ګوند نامه ورکړې وه۔

د کبیر جان Ideal باچاخان وو۔ ادبی نړی کښې د اجمل خټک صېب نه متاثره وو۔

ولی خان ئې ډېر خوښ وو اؤ د افضل خان لالا د یو والی د سیاسی تګ لاره ټینګ ملګرے وو۔ د هلکوانی اؤ ځوانی راهسې ئې د لیک لوست اؤ څېړنو Research سره ډېره مینه وه۔

د المان غږ راډیو د پښتو خپرونو ، چې په کال

1970ء کښې پښېل شوی دی، د بنسټ اېښودونکو کسانو کښې راځی۔ په جرمنی کښې د افغان پوهېدونکو محصولینو چې کومې خپرونې کېدلې هغو کښې ئې لیکنې کولې، لکه "سپرغی، د خېبر وږمه" تر څو چې ئې خپل کتابچې او کتابونه چاپول شروع کړل او بیا ئې د خپل ګوند له خوا پښتون مجله او پښتونخوا راوېستل چې تراوسه چاپ کېږی۔ د چاپ شوو کتابونو List ئې هم اوړد دے۔

میوزک ئې ډېر خوښېدلو، خو یواځے د پښتو، د خوانی ورځو شپو کښې به ئې کله کله رباب هم غږولو۔ ګډا ئې خوښه وه، خو خپله نه ورتله۔ د ژوند پښتنو به چې چابد وئېل۔ باچاخان پسې به چې چا بدې کولې، د افغانستان د شاهی کورنۍ بی ځایه ستائینه، د مُلایانو پخې پخې خبرې، وغېره۔

☆ پښتور اوپښتونخوا ئې ډېر خوښ وو۔ چې په دغه سفرونو کښې هغهٔ ناوړه، یادونه هم دی، چې دې د جنرال ضیاء الحق وخت کښې د سیاسی هلو ځلو په تور ونیولے شو او بندی شو او چې کله جرمنی ته بېرته لاړو نو لکه د زړو خدائی خدمتګارانو په دغه وېاړ وو چې بندی خانه کښې ئې ښهٔ ملګری وموندل۔

کبیر جان د خپل ژوند زیاته برخه د ملګرو سره او مسافری کښې تېره کړې ده۔ او دهٔ ته د جرمنی

## د کبیر جان Ideal باچاخان وو۔ ادبی نړۍ کښې د اجمل خټک صیب نه متاثره وو

عامو خبرو اترو او د ملګرو منځ کښې به دومره ساده وو چې د چا به پرې دا یقین نهٔ راتلو چې دا هغه کبیر جان دے چې د بحث وخت کښې څومره جدی او د پښتو د پار ضدی وو چې د خپلې خبرې به چا اړولے نشو۔

په خوانی کښې به ئې چائې او سګرېټ کمزوری وه۔ خوراک ئې ډېر ساده۔ په کوچو کښې ها (اګی) او تازه پیاز ئې ډېر خوښ وو۔

د دوستانو محفل، سیاسی بحثونه، د پښتو موسیقی، د پښتنو مشرانو صفتونه او ستائینه او ټوقې ټقالو به ډېر خوند ورکوو۔

خو ځینې شیان به ئې ډېر بدی شول۔ لکه پښتون به چې په فارسی یا اردو خبرې کولے۔ دروغژن کس، بې شعوره، تعلیم یافته ضدی پښتون، سیاست کوونکی پښتانهٔ، بې وخته چې چا د خوبه پاځولو، د پښتنو د "ماما" لقب ور رسېدلے وو۔ هېڅ چا ترېنه مخ نشو اړولے، کهٔ هغهٔ به د دهٔ د ګوند ملګرے وو او کهٔ نه خو د یو پښتون مشر په حېث ټول یورپ کښې د جرګو او مرکو سرے وو۔

ښکاره خبره ده چې د یو انسان ځاے بل کس نشی نیولے خو د کبیر جان ځاے هېڅ څوک نشی نیوے۔ کهٔ څهٔ هم د سیاسی مفکورې پلوشې به ئې پراخېږی او د پښتنو مشرانو په تاریخ کښې ئې ځانګړے وومنلو خو د یورپ او د جرمنی پښتانهٔ ئې یتیمان کړل۔ مونږ ئې د ژوند مقابلې او پښتنی جلوجهد ته یواځې پرېښودلو خو په خپل ژوند ئې دومره څهٔ پرېښودل چې پښتانهٔ ئې تر رڼا لاندې ډېر څهٔ موندلے شی۔

☆☆☆☆☆☆☆☆☆


اروابناد د خیال محمد اؤ لائق زاده لائق سره

لیک: لائق زاده لائق

# عملی مبارز

چې کله د هغهٔ نامه د خپلو نورو ملګرو تر څنګه د المان د پاره غوره کړې شوه نو په هاغه ورځ ستورے ډېر خوشحاله وو۔ د هغهٔ مشر وررور عبدالجلیل ملنګ د الله تعالی شکرونه اداکول اؤ د عظیمې مور ئې په سترګو کښې د خوشحالۍ غټې غټې اوښکې راتلے۔ هغهٔ زر زر د خپل ځوانی مرګ مېړه لعل محمد خان قبر ته ورغله اؤ د دعا نه پس ئې ورته ووې چې "لعل محمد خانه مبارک شه ستا ستورے نن په رښتیا ستورے شو" هغه۔۔۔ به اوس ستا نامه کښتی۔ هغه به د حافظ اشرف روح ته نوے ژوند ورکوی"۔ ننګیاله پښتنه چې په باوقاره قدمونو د قبر د خوا نه راتله نو داسې ئې محسوسه کړه لکه د هغې د خاوند روح هغې ته وائی ". ستا دې مبارک شی زما ملالې ۔۔۔ دا خو هم ستا د تربیت نتیجه ده"

ما د کونړ د سیند نه زار کړی

زما جانان به پکښې مخ وینځلے وینه

ډېر کاله وړاندې به چې کله ما د خداے بخښلی عبدالرحمان اور په اواز کښې دا ټپه اورېده نو ذهن ته به مې د کونړ خائستونه راغلل۔ زهٔ به د خیال په سیلی سور شوم اؤ د کونړ د شنو اؤ ګل ورینو غرونو په لمن کښې به مې اوږدے اوږدے ساه ګانې واخستې۔ زهٔ په دې پوهېدم چې د کونړ دا ټپه ټپه غېږه د خپل اهمیت ډېرې حوالې لری۔ چې پکښې د هر څهٔ نه زیاته د لوے پښتون جمال الدین افغانی حواله ده۔ چې نړی ته ئې د اسلام ډېر بنیادی نکتې د وخت د تقاضو په چوکاټ وړاندے کړے۔ د دغه لوے لاربنود نه علاوه د کونړ غېږې نور ډېر پیاوړی اؤ توریالی بچی زېږولی دی۔ چې پکښې د قام پرستی، وطن پالی اؤ پښتونولی په حواله د خداے بخښلی ډاکټر کبیر ستوری نامه ډېره جوته ده۔

ستورے د خپل وخت د نوموړی عالم دین حافظ اشرف کړوسے، د میرزمان خان نمسے اؤ د لعل محمد خان ځوے وو۔ چې په کال 1940ء کښې ئې د اپرېل په شپږمه نېټه سترګې وغړولې۔

په قام میرداد خېل یوسفزے وو۔ په کونړ کښې زیات تر مومند اباد دی۔ د یوسفزو شمېر پکښې کم دے چې مشری ئې د پېړو راسې د ستوری د کورنی په غاړه پاتې شوې ده۔

د ستوری پلار به د خپلې درنې زمینداری اؤ خانی نه علاوه د لرګو تجارت هم کولو څکه نو د پېښور اؤ کوزې پښتونخوا د نورو ښارونو د پښتنو سره ئې اړیکې راجوړې کړې وې۔ د هغهٔ عمر خواؤ شا پنځه دېرش کاله وو۔ چې ناروغه شو۔ بیماری ئې ډېره اوږده نشوه څکه چې دغه وخت په کونړ کښې د علاج اسانې بېخی نهٔ وې۔ ناروغتیا د لعل محمد خان ارمانونه نیمه خوا پاتې کړهٔ اؤ

ښاغلے ستورے په داسې عمر کښې يتيم پاتے شو چې لا د ژوند په مفهوم هم نۀ پوهېدو۔

د ستورى نور دوه وروڼه يو عبدالجميل او بل محمد نعيم هم د حالاتو په دغه لمبه کښې راګېر شول۔ عبدالجميل د ټولو مشر او محمد نعيم تر ټولو کشر وو۔

د پلار د مرګ نه پس د ستورى د لارښودنې ټوله ذمه وارى د هغۀ عظيمې مور په خپل سر واخسته۔ هغۀ پښتنه وه۔ د ژوند په رموزو پوهه وه۔ دا هم د هغې عظمت وو چې ستورى په پوره باور او اعتماد د زده کړې د پاره د خپل کلى د سکول مخه وکړه۔

ستورے په خپلې مور ډېر ګران وو۔ دا په دې چې هغۀ د نورو وروڼو په مقابله کښې ډېر خاموشه وو۔ هغۀ به چې ستړے ستړے د سکول نه کورته راغے نو مور په سينه پورې جوخت ونيوو۔ ډېر خله داسې وشوه چې د مور په سترګو کښې ورته تودې تودې اوښکې۔ ستورى به مور ته کتل او ورته به ئې ونېل چې "مورې" دا ولې" هغې به اوږده ساه راښکله ، ستورے به ئې په دواړه مخه ښکل کړو او په څۀ بهانه به ئې خبره بدله کړه۔

د پلار د نشت يو لاشعورى احساس د ستورى په مزاج کښې فکر او سوچ ته لارې پرانستې۔ هغۀ د ورکوټوالى نه ژوند ته د ژوند په سترګه وکتل۔

د خپل ورکوټى کلى تنر Tannar د سکول نه پس ستورى د رحمان بابا په لسيه کښې داخله واخسته۔ اوس هغۀ د ماشوم والى د پړاونو نه راوتے وو۔ د هغۀ فکر خلا او ښکلا لرله۔ هغه په کتابونو کښې د پوهې لټون شروع کړو او په دغه لټو کښې دومره بوخت شو چې د خپل تاريخ د لوستو سره ئې د ذهن کالۀ ته د ميرويس نيکۀ او احمد شاه بابا فکرونه نيغ په نيغه راغلل۔ هغۀ د پښتو ژبې او پښتون کلتور په تقاضو پوهه شو۔ او هم دغه وجه وه چې ستورى په خپل کالج کښې ډېرې ښې لمبرې واخستې۔

دا هاغه ورځې شېې وې چې د افغانستان پاکه او سوچه خاوره د "پردو" د اثر نه پاکه وه او کوم چا به چې ښې لمبرې واخستې هغۀ به د غوره تعليم د پاره خارجى هېوادونو ته لېږلے شول۔ د ستورى په برخه هم دغه خوش بختى ورسېده۔ او چې کله د هغۀ نامه د خپلو نورو ملګرو تر څنګه د المان د پاره غوره کړې شوه نو په هاغه ورځ ستورے ډېر خوشحاله وو۔ د هغۀ مشر ورور عبدالجليل ملنګ د الله تعالى شکرونه اداکول او د عظيمې مور ئې په سترګو کښې د خوشحالى غټې غټې اوښکې راتلے۔ هغۀ زر زر د خپل ځوانى مرګ مېړه لعل محمد خان قبر ۰ ورغله او د دعا نه پس ئې ورته ووې چې "لعل محمد خانه مبارک شه ستا ستورے نن په رښتيا ستورے شو" هغه---- به اوس ستا نامه ګټى۔ هغه به د حافظ اشرف روح ته نوے ژوند ورکوى"۔

ننګياله پښتنه چې په باوقاره قدمونو د قبر د خوا نه راتله نو داسې ئې محسوسه کړه لکه د هغې د خاوند روح هغې ته وائى " ستا دې مبارک شى زما ملالې --- دا خو هم ستا د تربيت نتيجه ده"۔

او بيا په کال 1960ء کښې ستورے مسافر شو۔ هغۀ د کونړ د يخو اورينو ښکلاګانو نه د جرمنى خودسره او بې پرواه ځائستونو ته ورسېدو۔ په المان کښې چې کله هغۀ د .Ph.D د پاره د مضمون انتخاب کولو نو فکر ئې په "ساپوهنه" اودرېدو۔ دا څکه چې دا مضمون د هغۀ د مزاج او سوچ ترجمان وو۔ په دې مضمون کښې د خپل اولس د فکرى او ذهنى صلاحيتونو د پېژندو رازونه پټ

وو۔ زده کړه شروع شوه۔ خو چې کله به ستړے اودهٔ شو نو ټوله ټوله شپه به د کوټې په سردرو کښې ګرځېدو۔ د هغه په شونډو به د وطن د خائستونو ټپې راتلې۔ کله کله به ئې خپله خره پښتونخوا داسې په زړهٔ راورېده چې په نیمه شپه کښې به راپاڅېدو۔ د هاسټل نه باهر به ولاړ وو۔ کله به ئې ستورو ته کتل۔ اؤ کله به ئې د سپوږمۍ سره خبرې کولې۔

هغهٔ ته به د سپوږمۍ په مخ کښې د وطن رنګونه هم ښکارېدل اؤ د خپل "جانان" مخ هم۔ هاغه "جانان" چې د ستوری د ماما لور اؤ د هغهٔ د ژوند ملګرې وه۔ دواړه په یو بل ګران وو۔ هغهٔ به چې کله ستوری ته په مینه کبیرجان ووې نو د ستوری په روح کښې به د مینې یو تود احساس چورلګونه اوخوړل۔ څهٔ د وطن جدائی اؤ څهٔ د جانان جدائی۔ دې ټولو تاودو جذبو په ورمبی خل د ستوری په شونډو شعرونه راښکاره کړل۔ اؤ هغهٔ ته احساس وشو چې د هغهٔ دننه شاعر په پوره شعور سترګې غړولې دی۔

ستوری د خپلې مطالعې سره سره په المان غږ راډیو کښې جزوقتی کار شروع کړو۔ دغه رنګ د ستوری د ژوند فکر وسعتونه نور هم فراخه شول۔ هغهٔ د جرمنی اولس د جذبو په پوره غور جائزه واخسته اؤ په دې نتیجه ورسېدو چې دکومو حالاتو سره پښتون قام مخ دے هم په هاغه اور کښې د جرمن اولس شپې سبا کوی۔ دواړه د غاصبو قوتونو د لاسه تالاوالا پراتهٔ دی۔ ستوری په دې حالاتو د خپلو المانی ملګرو سره خپل جذبات شریک کړل۔ هغهٔ د باچاخان د فلسفې ژوره مطالعه وکړه اؤ دا باور ئې پوخ شو چې د پښتون اولس د یو والی نه بغېر د هغوی اجتماعی مسئلې نشی حل کېدے۔ هغهٔ په خپله یونیورسټی کښې په ورمبی خل د پښتون بلوچ سټوډنټس فېډرېشن بنیاد کېښودو۔ چې پکښې زیات شمېر د پښتنو وو۔ ستوری په دغه ورځو شپو کښې د "سپرغی" په نامه یوه مجله جاری کړه چې پکښې زیاته برخه د قام پرست مشر خان عبدالغفار خان د افکارو وه۔ څو کاله په ئې یو بله رساله د "لمبې" په نامه شروع کړه۔ لمبه هم د پښتون قام د اولس د جذبو ترجمانه وه۔ چې څنګه څنګه دغه تاودهٔ فکرونه خپرېدل نو د ستوری غږ ژوند موندلو اؤ بیا چې کله د ستوری د شعور اؤ پوهې نور رازونه ولټولو۔ نو دا ضرورت ئې محسوس کړو چې پښتانهٔ دې د خپلې خبرې د پاره یو باقاعده پلېټ فارم ولری۔ هغوی د خپلو ملګرو سره صلاګانې شروع کړې اؤ دغه رنګ په کال 1981ء کښې ئې د پښتون سوشل ډیموکرېټک پارټی بنیاد کېښودو۔ چې په بارنی ارکانو کښې ئې د ستوری نه علاوه د ښاغلی علی خان محسود، ښاغلی لیاقت وطن پال، ښاغلی فردوس تندر اؤ نورې نامې د ذکر وړ دی۔ د ګوند ورومبے باقاعده اجلاس د جرمنی په کولن ښار کښې وشو۔ د اجلاس ټوله کارروائی په سوچه پښتو کښې وشوه کومه چې د فارسی بانو په مخ ورومبې څپېړه وه۔ په پردی وطن "خپل ګوند" پښتون ته د وحدت احساس ورکړو اؤ د لرې لرې نه ملګری پښتانهٔ په دې ګوند کښې شریک شول۔

په المان کښې د پښتنو په یو ډګر راغونډېدل اؤ بیا د پښتون د یووالی خبره کول عام واقعه نهٔ وه دا خبره هاغه قوتونو ته هم ورسېده څوک چې کله هم د پښتنو یوالی نهٔ غواړی۔ هم دغه وجه ده چې کله په کال 1982ء کښې ښاغلے کبیر ستوړے پېښور ته راغے نو لکه د نورو قام پرستو مشرانو اونیولے شو چې خپل دریز بدل ترې خو

هغه په اصولو باندې سودا وو نکړه. په خپل خبره لکه د غر ټينګ ولاړ وو. په ستوري مقدمه وچلېده او اتلس مياشتې يعنې يو نيم کال بندي پاتې شو.

د جېل په ورځو کښې ستوري ته دا احساس کېدو چې هغه د باچاخان په قدم پوخ قدم ايښے دے. هغۀ ته د غه ورځې شپې خپل افتخار او خپل وياړ ښکارېدو. هم د جېل په ورځو شپو کښې د هغۀ د ډېرو قامي مشرانو سره د نزدې نه ملاقاتونه وشول. ستوري هغه وپېژندل او هغوی ستورے وپېژندلو.

کله چې د قام پرستۍ په تور بنديان ازادېدل نو ستورے هم د بندونو نه خلاص شو او واپس المان ته لاړو. خو اوس ستورے هاغه ستورے نۀ وو. هغه يوه لويه حوصله مونډلې وه. هغۀ د يو نوی عزم خاوند وو. زر زر ئې خپله پارټی بيا فعاله کړه او ددې تر څنګه ئې د لرو بر د پښتنو قامي مشرانو سره رابطې وکړې. د پارټۍ د وړومبی کنونشن په موقع افضل خان لالا مېلمه کړے شو. د ښاغلي افضل خان لالا المان ته تګ پښتنانۀ نور هم بېدار کړۀ او بيا د غه سلسلې دوام و مونډلو.

پرون چې PSDP د المان پورې محدوده پارټی وه نن ئې په چيکو سلکواکيه ، ناروې، هالېنډ، بلجيم، ډنمارک، او امريکا کښې هم څانګې ولرلے. د دې سوچ خپورېدل د ستوري د خوب تعبير وو. د هغۀ د ارمان تکميل وو. ستوري د ټولو هېوادونو د غرو سره رابطې ولرلې، او په دې خبره ټينګار وکړې شو چې زياته توجه او زياته وده ژبې ته ورکړے شي. ستوري به وئيل چې ژبه ورکه شي نو قام ورک شي، چې ژبه ژوندے وی نو ور سره قام ژوندے وی. دا فيصله وشوه چې د وادۀ ښادی او نورو د ستورو بلنې به په اردو مرو په پښتو کښې وی.

د خپلې ژبې سره مينه د هر انسان په خټه کښې شامله وی. ځکه نو د ستوري او د هغۀ د ملګرو دې کوششونو ډېر زر رنګ راوړو. په پښتو کښې ليکل لوستل عام شو.

د کبير ستوري د ژوند د ټولو نه لويه معجزه دا ده چې هغه په خپل څلور شپېتۀ کاله عمر کښې د خپل وطن والو سره د پښتو نه علاوه بله کومه ژبه نۀ ده وئيلے. هغه پښون وو او په پښتونولی ډېر ښۀ پوهېدو.

ستوري چې په خپله خواني کښې د شعر د ناوې سره کومه اشنائي شروع کړې وه د هغې لمن ئې هم ټينګه ونيوله او د خپلې مينې سره ئې هم اړيکې ټهنګې وساتلې. چې کله به هم د المان ستړی ژوند نه ستړے شو نو د کونړ غېږے ته به راغے. دلته به ئې د غرونو په لمن کښې او يخو اوبو په غاړه خپل پښتنانۀ فکرونه خوارۀ وارۀ اوشيندل.

د لوے تعجب خبره دا ده چې په دومره فعال ژوند کښې هغۀ خپلو بچو ته هم مينه ورکړه. د هغۀ پنځه څامن بصير ستورے، نصير ستورے، کروړ ستورے، نسيم ستورے او اېمل خان ستورے د خپل پلار په فکری لار روان شول. په دې وارو کښې اېمل خان ستورے د ټولو کشر او په پلار ګران وو. خو د غه ګرانی هم د پښتنو، ګرانی وه. هغۀ خپلو بچو ته دا درس ورکړو چې پښتو دې وائی او پښتو دې کوی.

د بچو سوچه او پاکو جذبو د ستوري کور ته په المان کښې د اکېډمۍ حېثيت ورکړو.

د ستوري سترګې او نظر د پښتون قامي وحدت په لور وو. هغۀ به هر وخت د پښتونخوا په لور کتل چې کله هم دلته د پښتو اواز راپورته شي او ستورے ورته خان

په منده ورسوی۔ دا تشه د خلې خبره نۀ وه بلکې عملاً هغۀ داسې وکړۀ۔ او دې عمل د ستورى قد نور هم اوچت کړو۔

د ستور دا لوے ارمان وو چې د همېشه د پاره خپلې پښتونخوا ته راشى خو چې کله ئې د ژوند ملګرے او څلورځامن المان ته لاړل نو بيا د هغۀ د پاره راتګ ګران وو۔ څو ځله ئې د دې ارمان اظهار کړے وو۔ خو ارمانونه د چا پوره کېږى۔ چې د ستورى به پوره شوے وو۔

د نن نه يو کال وړاندې چې کله ستورى د خپلو سترګو د معائنې په خاطر هسپتال ته راغے نو ډاکټر انور ورته ووې چې د سترګو د اپرېشن نه وړاندې بايد تۀ د خپل بدن نور تشخيص مکمل کړے۔ او بيا چې کله د هغۀ د زړۀ معائنه وکړې شوه نو ډاکټران حېران پاتے شو چې د دې باوجود چې د هغۀ د زړۀ دوه والونه بېکاره دى۔ ستورے بې غمه فعال ژوند تېروى۔

ډاکټر انور ورته د اپرېشن مشوره ورکړه خو ستورے دې ته تيار نۀ وو۔ چې کله ئې ساه واخسته نو په پېښور کښې ډېورنډ د کرښې په سېمنار او د پښتنو په عالمى کنونشن کښې د برخې اخستو په خاطر په اخرى ځل دلته راغے۔ دا ځل ستورے د معمول نه زيات تازه وو۔ او داسې نۀ معلومېده چې هغۀ د زړۀ مريض دے۔ هغۀ د کلونو کلونو راسې د سيګرټو سخلو سلسله ختمه کړې وه۔ او داسې ښکارېدۀ چې اوس به د ستورى نوره خوربېږى۔

د عالمى کنونشن په موقع هغۀ د پښتونخوا د ټولو مشرانو سره ووکتل۔ د شاعرانو سره ئې ګپونه ولګول۔ د خپل فکر او خپل سوچ رنګونه ئې په هر چا وشيندل۔ او د خپل خوى نصير چې ټول عمر ئې د پلار په خدمت کښې تېر کړے دے د منع کولو باوجود کونړ ته هم لاړو۔ هغۀ د خپل تاله واله وطن په اخرى ځل ديدن وکړو او بيا۔۔۔۔۔

په مات زړۀ المان ته لاړو۔ خدائے خبر چې دغه يو کال به ستورى څنګه تېر کړے وى۔ ځکه چې د هغۀ زړۀ دلته او وجود هلته وو۔ په دې موده کښې ئې د خپلې شاعرى اخرى کتاب "خوږې مصرې" راټولې کړې خو د بده مرغۀ هغۀ خپلې مصرې د کتاب په شکل کښې وو نۀ ليدلے۔ د اکتوبر د مياشتې څلورم تاريخ دغه په کلونو کلونو خور عظيم ستورے زمونږ نه د همېشه د پاره پټهل کړو۔ د هغۀ جنازه په المان کښې هم وشوه او په خپل وطن کونړ کښې هم۔ د هغۀ درنې درنې فاتحه هلته هم وشوې او دلته هم۔۔۔۔۔۔

ځکه چې داسې خلق په صدو کښې پېدا کېږى۔ کۀ مونږ ډېر ځله راغونډ شو نو د ستورى د خدمتونو حق نشو ادا کولے۔

هغۀ د مرګ نه پس هم د پښتو شمله جګه ساتل غوښتل:

چې زما ستورى په قبررا تېرېږے
په پښتو را ته دعا کړه پرې مشن يم

لکه چې ورته معلومه وه چې زما روح بله ژبه اورېدو ته تيار نۀ دے۔ نو ۔۔۔۔ ضرورت د دې خبرې دے چې د داسې اتلانو د مشن د تکميل د پاره کار وکړے شى چې د دوى ابدى ژوند په سکون او ارام تېر شى۔

ځنې خلق د خپل ځان د پاره مړۀ شى
د چا مرګ د ټول اولس د پاره مرګ وى

☆☆☆☆☆☆☆

✍ : انور ظفری

# د "ستوری" اخری چغه......!!!

## "پښتونه پښتو ټینګه کړه"

زه او ډاکټر کبیر جان ستوری په یو کال د دولسم ټولګی نه خلاص شو- او په 1964 کښې کال کښې د ستمبر د میاشتې په څلورمه ورځ د کابل نه د جرمنی په لور روان شو- شپه مو د بېروت په ښار کښې د ایرانی بحیرې په غاړه د الکازار په هوټل کښې تېره کړه چې د دې هوټل او د بېروت د ښارد ډېرو ښکلو ماښیو په لیدلو سره کبیرجان په سوچونو کښې لاړو او ماته رانزدې شوا او څه پټ شانتې ئې راته ووئېل "دلته خلق د ښه ژوند نه برخورداره دی او زمونږ خلق د ناداری نه ښه ورځ نه لری څه باید وشی؟

ما ځواب ورکړو چې کبیرجانه دا مونږ چې اروپا ته روان یو د دې د پاره خو چې کله بېرته راستانه شو نو د دغه بې وزلو او نادارو خلقو خدمت ته به بیا ملا تړو-

په جرمنی کښې د میونخ ښار ته نزدې مونږ د ژبې کورس وهلو چې یوه ورځ د میونخ په ښار کښې مونږ ګرځېدلو نو ده راته بیا په خبرو پیل وکړو چې وېنې په دې ښار کښې خو د نړی د کوټ کوټ نه د هر قوم خلق شته دی- خو زمونږ د څوکنو پرته نور پښتانه خو دلته نشته- دا بهرنیان ډېر په ویاړ سره دلته ګرځی او د یو



ستوری د انور ظفری سره

قامی هویت لرونکی دی- خو مونږ تاسی څوک پېژنی هم نه-

د هم دغه 1964ء کال په پائې کښې مونږ یوه هیله پانه ترتیب کړه او د افغانی مقاموڅخه مو هیله وکړه چې مونږ ته د افغانی محصلینو د ټولنې د جوړولو اجازه راکړی-

هغه مهال په بن کښې خدائے بخښلی ډاکټر علی احمد یو بل سفیر وو او په میونخ کښې پوهاند ډاکټر مهاؤالدین د کلتوری چارو رئیس وو- مونږ په دې بریالی شو چې د محصلینو د ټولنی تاسیس اجازه په لاس راوړو- د قدر الرحمان د فرانکفورت په ښار کښې د 1965 ء کال د جون جولائی میاشتې دی چې مونږ د محصلینو د ټولنی د بنسټ اېښودلو لپاره خپلې هلې ځلې نورې هم زیاتې کړې- په کومه ورځ چې زمونږ د غونډې د رابللو ورځ وه نو د شپې لس بجې وې کبیر جان راته ووئېل چې ما یو څه فکر کړے دے او د سبا ورځې د غونډې لپاره مې یو څه خان چمتو کړے دے غواړم چو تا پرې اخوا دېخوا خبر کړم ما وئېل وایه زه ئې اورم:

"زما ګران ملګری او وررور مسکے شو او وې

ونیل چې د دې ټولنې د مشرۍ لپاره به ته زما کاندید ئې اؤ بله دا چې زمونږ په سپاسنامه کښې به دا ټکی د یوې مادې په توګه لیکل کیږی چې د محصلینو د ټولنې ټولې شفاهی اؤ لیکلی چارې به په ملی ژبو پښتو کیږی۔ هم داسې وشوه تر څو چې دغه ټولنه وه اؤ مونږ وو د محصلینو د اتحادیې ټولې لیکنې په پښتو ژبه دی اؤ د دغه محصلینو د ټولنې دارګان نوم سپرغی وه چې هغه هم په پښتو ژبه نشریدله ډاکټر عبدالکبیر ستوری یو افغانی محصلینو د ټولنی د بنسټ ایښودونکو څخه وو چې په دغه ټولنه کښې د پښتو اؤ پښتنوالی بیرغ اوچت وساتلو۔

دهٔ به د لری پښتونخوا پښتانهٔ هم رایاد کړل خو د باچاخان فخرافغان اؤملی شاعر اجمل خټک پرته ده د بل چا سره اشنائی نهٔ لرله۔ خو ما ته به ئې تل هم دا ونیل چې له خیره بیرته ستانه شو ما اؤ تا به ضرور پیښور ته خو۔

د 1969ء کال د ستمبر میاشتې په پائې کښې پښتون بابا ولی خان جرمنی ته راغلو ، د شپې لس بجې وې چې ما ته ریاض خان چې د پښتون مشر حاجی صیب بلور د خپلوانو څخه وو ټیلیفون وکړو چې زیری درباندې کوم، هغه مشر چې تاسی ئې د لیدلو ارمانژن ئې د فرانکفورت ښار ته راغلے دی اؤ انشاء الله سبا به ستاسی لیدنه ور سره وشی۔

سبا ته خدای بخښلی تندر صیب خدای بخښلی ډاکټر کبیر جان ستوری، ډاکټر ګل جان ظریف اؤ زهٔ د ولی خان بابا هر کلی ته ورغلو په کوم ځاے کښې چې مو د لیدلو کتلو وعده کړې وه۔ مونږ انتظار درلود چې بابا ولی خان، د محترمې بی بی نسیم اؤ د نورو ملګرو سره راغے، کله چې مو سره لیدل وشو اؤ خانونه مو ورته وروپیژندل نو بیا زمونږ د هیلې په احساس دهٔ زمونږ بلنه قبوله کړه چې د محصلینو د اتحادئې د ټولو غړو سره ووینی۔

ډاکټر کبیر جان ستوری، په دغه غونډه کښې د ولی خان بابا هرې خبرې ته غوږ نیولې اؤ د دهٔ د خبرو د طرز، په غونډه کښې د محصلینو سره سلوک، د هغوی پوښتنو ته د ځواب ورکولو حوصلې ته ئې ډیره زیاته پاملرنه کوله۔

پښتون مشر ولی خان بابا زمونږ سره خدای په امانی وکړه اؤ مونږ ټول خپلو ځایونو ته ستانه شو۔

ماښام ما د کبیر جان نه پوښتنه وکړه چې څنګه مشر وو اؤ ستا په زړهٔ کښې څومره ځاے ونیولو؟

دهٔ راته په ځواب کښې وونیل کاش لس کاله د مخه مې لیدلی وې۔ د دهٔ څخه انسانیت اؤ پښتونولی سړی زده کولی شی۔ اؤ په سیاست کښې سادګی اختیارول خو هم د دهٔ نه باید خلق زده کړی۔ څومره په ساده ټکو کښې ئې راته خپل د زړهٔ مطلب وونیلو اؤ په دې خپله غیرتی پښتو ژبه ئې راته ډیر مسائل څومره اسان تشریح کړل۔ دومره ونیلے شم چې د خان ولی خان بابا لیدلو ډاکټر کبیر ستوری ته د پښتو اؤ پښتونولی یوه بله شمع بله کړه اؤ دې ئې نور وهڅولو چې د خپلې نظریې لپاره نهٔ ستړی کیدونکی کار وکړی۔

کبیر جان ستوری په زړهٔ کښې د لری پښتونخوا اولس سره مینه نوره هم زیاته شوه اؤ د دې د پاکو احساساتو، وفد ځوابی په ساده الفاظو د مطلب د اظهار د لوقوه اؤ د دې سیمې د مبارزینو د تاریخ څخه خو دا زیات متاثر شو چې د دغه کبله ئې کور د لری

پښتونخوا د پښتنو د يره هم وګرځېدله د هم دغه ليدلو کتنو نتيجه دا شوه چې په 1974ء کال کښې ډاکټر کبيرجان زمونږ په کډه په فرانکفورت کښې د پښتنو او بلوڅو د ټولنې په بنسټ ايښودلو بريالى شو او دا د دې ټولنې يو فعال موسس وو۔

کله چې دهٔ د ساپوهنې په برخه کښې ډپلومه واخستله نو د دې په څنګ کښې سياسى علوم، ټولنيز علوم او فلسفه ئې هم بنهٔ په ژوره تر مطالعې لاندې نيولې ده۔

کبير جان ستورى 'ډپلومه سا پوهه" وزرې نورې هم پاوړې شوې او د 1975ء عيدى کال کښې د کرنې ساپوهنې د نړى وال ټولنې غړى شو چې دا د دې لومړې ګام وو چې نړى وال ټولنې په لور ئې واخست او دا وياړ ئې په برخه شو چې په دغه نړى واله ټولنه کښې د خپل هېواد افغانستان نمائندګى وکړى او په دې توګه د ساپوهنې او پوهې په برخه کښې يو نړى وال شخصيت وګرځېد۔

د 1974ء کال کښې د شعر په ونېلو پښېل وکړو او تر اوسه ئې چې څومره شعرونه چاپ شوى دى دا خپلو خلقو او پښتنو ته د پېغام شکل لرى۔

د ساپوهنې په برخه کښې په پښتو ژبه ډېر مهم کتابونه ليکلى دى چې دا ئې پښتنو ته يوه بله مهمه پانګه پرېښې ده۔ چې بايد دغه کار ته د دهٔ نور ملګرى دوام ورکړى۔ او دغه کړى پرې نکړى۔

کله چې روسانو په افغانستان يرغل وکړو نو ډاکټر کبيرجان ستورى دا تحمل نکړه او په 1982ء عيدى کال کښې د پښتون سوشل ډېموکراټک پارټى تاسيس کړه او د وطن د ازادى غړ ئې يو ځل بيا وکړو۔

دې په پښتو او پښتونولى مئېن خپل ټول ژوند دوى ته وقف کړې وو۔ په ټوله لوېديزه اروپا کښې خپل بيرغونه اوچت کړهٔ۔ يو لوى کاروان ئې د پښتو د خدمت لپاره ملا وتړله او د ډاکټر کبيرجان د دې پښتنى کاروان مخکښې وياړ په برخه شو

ډاکټر کبير جان ستورى د خپله هېواد، ختيزى سيمې او خصوصاً د کنړ ولايت لپاره د وياړ وړ شخصيت وو۔ دا هم بايد دلته ووايم چې په ختيزو سيمو کښې او بيا خصوصاً د کنړ په ولايت کښې ډېر لوى شخصيتونه دنيا ته راغلے دى او ډېر زيات افتخارات ئې په برخه شوے دے۔ په تېره او لا تېره پېړى کښې سيد جمال الدين افغانى او د استقلال په جګړو کښې لوى خان او جنرالى ميرزمان خان او جنرال عبدالوکيل نورستانى په تاريخ کښې خپل نومونه ثبت کړى دى۔ ډېر وخت د هغوى ځاے خالى وو چې د افغان سيد جمال الدين د زېږدنې څخه 104 کاله وروستهٔ يعنى دا چې سيد جمال الدين افغانى په 1838 ء کښې په ايوب آباد کښې زېږېدلے وو او ډاکټر کبيرجان ستورى په 1942 کښې د کنړ ولايت د خاص کنړ د سنربه کلى کښې د خان لعل محمد خان په کور کښې دنيا ته سترګې وغړولې۔

کبير جان ستورى کولى شو چې د افغان سيد جمال الدين ځاى ونيسى۔ او هغه نړى وال شهرت ئې ومونډ چې افغانى درلود وياړ د کنړ په اتلانو او نړى والو ملى شخصيتونو۔

کبير جان ډېر ساده مزاج شخصيت وو او ډېر نرم طبعيت ئې وو۔ دې د لوې حوصلې څښتن وو۔ هر چا چې د دهٔ سره لومړې کتنه وشوه نو فکر به ئې کولو چو دا خو داسې د نرم طبعيت څښتن دے چې هر څهٔ

ورته دې والی نو ضرور به ئې منی۔

خو کله به چې د پښتو اؤ پښتونولی نوم واخستل شو نو په دې ځاے کښې ډاکټر کبیرجان ستوری دا په ډاګه کړه چې هو حوصله لری، طبیعت ئې نرم دے خو د پښتو اؤ پښتونولی لپاره د هر ګزار په مقابل کښې لکه د فولاد کلک دے اؤ هیڅ کله دې برخه کښې د خپل دریغ نه یوه ذره هم اخوا دېخوا نۀ کیږی۔

د ډاکټر کبیر خان ستوری ټینګ عزم اؤ ارادې دې د سیاست د ډیر یو منلی اتل وګرځولو اؤ په نړی والو ټولنو کښې خصوصاً د سوسیال ډیموکراټک په منځ کښې شهرت اؤ محبوبیت وموند اؤ په دې توګه یو منلی ملی اؤ نړی وال سیاست وال شو۔

د ملی سیاست په برخه کښې دۀ د فخر افغان بابا د څخه د کار اخستلو نظریه خپله کړې وه اؤ پخپل یو شعر کښې چې د مهلت تر سرخط لاندې لیکلی دی د بابا دا نظریه تائید اؤ لنډو الفاظو کښې ئې انسانی ټولنی، مللو قامونو د انسانی اؤ د ورورولی د اړیکو د ټینګ ساتلو لپاره د یو پیغام په ډول داسې وئیلی دی:

پیدائیښت سره پلان د مرګ هم جوړ شو
ژوند د مرګ اؤ پیدائښت تر منځ مهلت دی
دې مهلت نه ګټه واخله که پوهیږی
خوشبختی د انسان مینه محبت دی

دې د انسانانو د نیکمرغی لپاره مینه اؤ محبت چې د زور څخه د کار اخستی ضد وی ضامن بولی۔ کۀ دغه شعر ته تاسی ښۀ زیرشی نو وو به وینی چې ډاکټر کبیر ستوری د باچاخان فخر افغان بابا فلسفه د ملی شاعر اجمل خټک د شعر په سبق ګنی څنګه مناسبه ځای کړیده خکه چې دې د شعر په برخه کښې زمونږ د توان مشر خټک څخه ډیر زیات متأثر شویدی۔ پخپلو خینی شعرونو کښې دې ډیر بې پروا دی چې دلته د دۀ بې پروائی د یوې خوا د دۀ ټینګه اراده اؤ عزم ښائی اؤ له بله خوا داسې برېښی چې د خدای بخښلی خان عبدالغنی خان شعرونو پرې هم اغیزه درلوده:

ډاکټر کبیر ستوری اؤ زما په منځ اړیکی 42 کاله کیږی په دې 42 کاله کښې زۀ اؤ د دۀ تر منځ تعلقات ډیر نزدې وو د یو بل نه مو هیڅ راز نۀ پټولو۔

د راز خبره یاده شوه دې د راز په ساتلو کښې ډیر غښتلی شخصیت وو د غم اؤ د درد ډیر زیات تحمل ئې درلود۔ دۀ هر څۀ په زړۀ کښې ساتل اؤ کله ئې هم ما ته د خپل غم اؤ درد په حقله یو اوف هم نۀ دے کړے۔ دۀ خبرې په زړۀ کښې ساتلې۔ دۀ به ډیر نور ارمانونه هم درلودل خو ټول ئې په سینه کښې دننه پاتی شو۔

دا چې به نور هیڅ چا ئې خپل غم اؤ درد نۀ باررلو نو دې د زړۀ په رنځ اخته شو۔ خو دې په پښتو دومره مئین وو چې ډیر پخوانی روحیت اؤ پیغام په توګه دا چغه اوچته کړې وه:

که زما ستوری په قبر چیرته راغلی
په پښتو راته دعا کړه پرې مئین یم

د دۀ 64 ءکلین عمر پوره کېدو ته لا دوه ورځې پاتې وې د اپریل د میاشتې څلورمه ورځ وه د سحر د پنځو بجو په شاوخوا کښې ئې لومړی د شهادت کلیمه ووئیله اؤ حق ئې د تسلمیدو تیاری ونیوله خو دا اخری نعره ئې ضرور کړې ده چې:

"پښتونه پښتو ټینګه کړه"

☆☆☆☆☆



ارواښاد ډاکټر کبیرجان ستوري

لیک: محمد شیرین کردیوال جرمني

# ډاکټر کبیر ستوري سره ژمنه

د پښتو او پښتنو د ملي قافلې سرکښ، پیاوړی او ننګیالی، زما د سیاسي او ټولنیز ژوند کلک وياړلی، خوږ او نږدې دوست او ملګری ډاکټر کبیر ستوري د دې فاني دنیا نه د ابدي دنیا په سفر وخوځېده "انا لله و انا الیه راجعون"۔

د چا به پلار، د چا بابا، د چا کاکا ، د چا ماما به وي، خو د دې رشتې نه وروسته د دوستي انسانیت او پښتونولي د ټينګو مزو او تارونو په چوکاټ کښې ما ته د هر څه نه رانږدې دوست او ملګرے وی۔

ملګریه:

"څښتن تعالی دې جنتونه په نصیب کړه، خو ملګریه د جنت خاپېرو ته هم دا زېرې ورکړه چې ستا ملګري به ستا د ملي مبارزې او قامي وحدت ترانه ژوندۍ او ځلانده ساتي"۔

ملګریه!

"ستا ژوند د پښتنو او پښتونولي خزانه، د علم او ټولنیز ژوند د لارې او منزل ډیوه، د پت، غیرت، ښېګړې او وفا زمزمه، او د پښتنو د خیر، ابادي او سوکالي د پاره نرۍ د رنګینو نه ډکه او مسته وړمه وه۔

د پښتونولي د ستر بڼ طوطي! ته خو لارې خو زه او زما ملګري په ایمانداری سره، درسره دا ژمنه کوو چې ستا د پښتو او پښتونولي هڅې، او د قومي وحدت، د ملي ترانې او نارې څپې به د نړۍ په ګوټ ګوټ کښې د پښتو زړونو او فکرونو ته ور ور سوو"۔

د ډاکټر کبیر ستوري ژوند ته ځغلند نظر:

د هېواد ملي او منلي شخصیت د پښتون قامي وحدت تکړه او پیاوړی مبارز ـ

خدای بخښلی ډاکټر کبیر ستوري د پښتو ملي منلی، وتلی، شاعر، لیکوال، څېړونکی، ژورنالست او د پلوم سا پوه وو۔

د شاعری په نړۍ کښې د یوه پر مختللي ادبي بهیر پورې اړه لري۔ چې مشر نمائنده ئې د پښتو د ادب پلار اجمل ختټک دے۔ د پښتنو د یووالي، خپلواکي او سوکالي د پاره دۀ ته د باچاخان نظریو ژوند وربخښلے دے۔


ستوري د پښتو د یو ګڼ شمېر کتابونو مؤلف او لیکوال وۀ چې وائي:

ساه مې واخله خو پښتو رانه وا نخلې\
زۀ پښتون یم په پښتو بالدې پتمن یم\
کۀ زما ستوری په قبر چېرې راشي\
په پښتو راته دعا کړه پرې مئېن یم

(روح دې ئې ښاد وي)

☆☆☆☆☆☆☆☆☆

لیک: اجمل ختټک



# سپين غرته

سپينه غره سپينه ! هم حسينه هم سنگينه
جيگه دې شمله د ستورو خل سره لوبيږى
شنې ښکلې درې دې هم خوندونه هم رنگونه
ساز د ابشارونو دې نغمې د ښاپيرو دى
ستا د سپينو واورو مسکا زيږے مې د ژوند دے
ستا خوږې وږمې چې دې په ترو کښې گډيږى
ته مې د تاريخ د عظمتونو څوکيدار ئې
ته مې سپينه غره! د ناموس د نام و ننگ ئې
ستا اوچتې څوکې مې په ژوند کښې ارتقاء ده
نن ئې نخښه شوې زما غره په بمونو
تا باندې راغلے تور طوفان د زور او زر دے
وخليږه وخليږه ورکې دا تيارې کا
وينښ شه دا هيواد راته د بيت نيکه دعا کا
امن امن امن راته دا د مينې کور کا
ټول وطن د هرې سيمې گل يو گلدسته کا

ستا سرونه تورې تورې، ستا لمنې مينه مينه
ټنده دې روښانه ده سپوږمۍ پکښې موسيږى
مستې گل ورې دې هم مېوې دى هم گلونه
سر کښې د چينو دې ترانې د ښاپيرو دى
ستا په سند ريزو هواگانو کښې يو خوند دے
خوند ترې د ښکالو د معشوقو راپيدا کيږى
ته مې د غيرت د وراثت علمبردار ئې
ته مې د وطن په مسته خاوره کښې غورځنگ ئې
هره توره تيگه دې سنگر ده هم قلا ده
هم باران د وينو کښې او هم په تندرونو
نوے امتحان دے بيا راغلے نن په سر دے
ځان ته سپين سحر دا د اغيارو تورې شپې کا
پاځه يو جنت را ته دا خپله پښتونخوا کا
مينه مينه مينه را ته خپل تاريخى وررور کا
رنگا رنگ گلونو نه دې جوړه يو غنچه کا

وخوزه دا لویه ورورولی چمتو کول غواړي
دا د تاریخونو مېړنتوب را لړزول غواړي

دا په پردی اور کښې سوزېدلی ابادی غواړي
دا خپلو په کور کښې جنګولی خپلولی غواړي

وروپېژنه ځان په اوچت سر جهان ته وګوره
تا چې غرقول غواړي دې تور طوفان ته وګوره

ته هغه سپین غر ئې چې په تا څوک بلوڅېدلی دی
تا ئې سر مات کړې تمبولی تښتولی دی

ته جرګه جرګه ، مورچه مورچه، لښکر لښکر ئې
ننګ اؤ پت ناموس د پښتنو د لرا ؤ بر ئې

ته ښائسته ښائسته، جلوه جلوه، جانان جانان ئې
ته مو استقلال د وطن ته مو دین ایمان ئې

ته شه رابېر دا سوچه وینه راته سره کا
دا ایرو کښې پټ بڅری بیا لمبه لمبه کا

دا د مېړنو حجره جومات اؤ ډکر وساته
دا زما د جونو د حیا مازیګر وساته

اوساته د پټو خزانو د سرو لعلونو کور
دا د سیلانیانو جنت دا مو د ګلونو کور

پرق وکړه رڼا شه اولسونه را بېدار کاً
دا سپېرهٔ سپېرهٔ خزان د مینې نوبهار کا

سپینه غره! ستا سپینه پګړی پرې نن جرګه کا
غټه تیګه کېده، دا تس نس یو مرکه کا

سپین ښکاری کهٔ تور ښکاری یو ورور دے یو مو کور دے
هر څوک چې دے، هر څهٔ چې دے ، بیا د وطن ورور دے

وینه مو د پلار اؤ نیکهٔ یو ځایٔ بهېدلې ده
دا د مینې خاوره مو په یو چغه ساتلې ده

خپل افغانستان به د ښکلا اؤ امن کور کړو
ورک به سازشونه هم د زر اؤ هم د زور کړو

سیمه به د مینې کړو، نړی به ورورولی کړو
دا زمونږه کور به په دنیا کښې د سیالی کړو

سر به د غازیانو شهیدانو ارمانونه کړو
شین اسمان به نُور، دا خړه خاوره به رنګونه کړو

امن به ژوندون کړو دے د زور اؤ زر عالم کښې
مینه به قانون کړو دے د ظلم نه ډک چم کښې

ستا سپینه شمله به د انسان د شرافت شی
ستا دواړه لمنې به په دې دنیا جنت شی

☆☆☆☆☆☆☆☆

لیک: ډاکټر غزن خټک

# اؤ ـــ ما ته راياد شول

د خيالی دنيا دغه "مست خيالونه" به څنګه څوک هېرکړے شی چې په اسلامی جمهوريه پاکستان کښې به حاکمانو اؤ واکمنو د اسلام په مينه مست په 8.4 فيصد چټکتيا سره تاريخی پرمختګ ته په رسېدلو به د اسلام قلعه واکمنو په ډنګ ډونګ خپلو کښې يو بل ته شاباسی وئېل اؤ سره به يو بل ته موسکی موسکی کېدل. په دې به وياړ کېدلو چې په اسلامی پاکستان کښې د بهرنی پانګې اچونه (Foreign Investment) يو نيم ميليارد (1.5 Billion) ډالرو ته ورسېدله. څکه خو په اسلام د مئينو وزيرانو، پارليمانی سکرټيانو اؤ د پارليمانونو د ممبرانو اؤ غړيو "اسلامی" معاشونه يا تنخواه ګانې به په پرله پسې توګه زياتېدلې. د اعلیٰ شخصيتونو اؤ لوړ رتبه وګړو په پروټوکول يا په نورو ټکو کښې په "وښائم در وښائم" باندې به په يوه مياشت کښې د کروړونو روپيو د لګېدلو له کبله د اسلام په پاکه نامه تر لاسه کړے شوے اسلامی جمهوريه پاکستان "د پرېمانه پرمختګ ترلاسه کونکے هېواد" يادېدلو. د لويو خلقو يا د حقيقت په ژبه د لوړو بورژوا ګانو لپاره به په کروړونو روپو د شلګونو بلټ پروف يا ضدګلوله موټرونو اخستل د ثواب کار ګڼلے کېدلو اؤ ايمان به پرې تازه کېدلو. د جنرېل پروېز مشرف بې سارى جرنېلی واکمنی ته د "اسلامی اميرالمؤمنينی" د بنې ورکولو لپاره په اسلامی اساسی قانون (آئين) کښې د ترميم د منظورؤنکو "د الله په مينه مست" مُليانو صاحبانو په ميليون لاريونونو به روپيانې لکه د تېږو مولو غوندې لګولې کېدلې. دغه راز به دغه بورژواګان دروښان شپه اؤ ورځ د دنيا له ټولو اسانتياو څخه په خوند اخستلو بوخت وو اؤ داسې به په مزو چړچو کښې ګېر وو چې نۀ به ئې څوک نهرنهور په نظرراتللو اؤ نۀ به د دې نه خبرېدل. چې خودکشی يا ځان وژنې ورځ په ورځ ولې مخ په زياتېدو دی اؤ دا خو هسې "د جاهليت د مانې" د شاعرانو خبرې دی.

امید کا سایہ ہے نہ رستہ ہے نہ منزل
ہم کتنے اکیلے ہیں محبت کے سفر میں

نۀ اميد شته دے نۀ لارګودر معلوم دے
مونږ يوازې يو سفر د محبت کښې

اؤ دغه راز په کښې "ځينی جاهلان" داسې غږ

ځارنې هم کوي:

موت کی آخری ہچکی کو ذرا غور سے سن
زندگی بھر کا خلاصہ اسی آواز میں ہے

د مرګی وروستي سلګۍ بانديې غور وکړه
دې اواز کښې خلاصه ده د ژوندون

خو د اسلامي پاکستان په خوند رنګ کښې ډوبې دغې دنيا ته کله چا په ښۀ سترګه کتلے شول نو ځکه ئې دغه د مزوچرچو دنيا د نظره کړه. د انټرنېشنل هيومن رائټس مانيټرې (I.H.R.M) يعنې د بشري حقوقو ځارونکې بين المللي ادارې هېڅ بې هڅه په پاکستان يو راپور وړاندې کړو. د دغه راپور له مخې د اسلامي جمهوريه پاکستان په 145 مليون نفوسو کښې 45 مليون خلق د غريبۍ او نيستمنۍ نه هم په لاندې سويه په ژوند کولو مجبور دي او د پولې پرق ته هسې په طمع ناست دي او 45 مليونه يعنې څلورنيم کروړه داسې پاک او سوچه پاکستاني غريبانان دي چې تشه توره ئې د پولې د پرق طمع په برخه ده. ورته ئې د وررسېدلو امکان هم نيشته دے. دغه راز د دردېدونکو خوارانو، مظلومانو شمېرکابو (90000000) نهه کروړه دے. د دغو نهو کروړو خلقو د سرونو لپاره نۀ سم چت شته، نۀ ورته دوه وخته ډوډۍ خوارۀ ترلاسه کېږي، نۀ د وجود د پټولو لپاره سمه جامه لري او نۀ په ناروغتيا کښې د دارو درملو د اخستلو توان لري. بلې خوا ته د عېش عشرت دا حال دے چې د ټول ملي عائد (National Income) په لويه برخه په شمار شمېرلو بورژوا ګانو شتمنو ګېډه اچولې او منګلې ئې پرې ښخې کړې دي د دوي چې نرۍ غوندې تبه شي يا تش ټوخے او اتروشے هم ورشي نو د ډاکټرې معائنې لپاره واشنګټن او لندن ته په زغل وي او غالباً له هم دې کبله خلقو ته د صبر کولو تلقين کولے شي. خو بيا هم د صابرانو په صبر هم ډېر باور نۀ دے پکار ځکه چې:

ذرا سنبھل کے ہی رہنا جناب شیخ رندوں میں
یہاں پگڑی اچھلتی ہے اسے مے خانہ کہتے ہیں

شېخه خيال کوه رندانو منځ کښې ژوند دے
مے خانه ده دلته خېر د پټکي نشته

او رښتيا ما ته دا هم راياد شول چې---!

ځينې خلق د حکومت په کړونيوکې کوي. لکه دا چې د ملک اقتصادي او انتظامي ټولنيز نظام خراب دے. نو ځکه اولس مشر پرويز مشرف وائي ځينې وګړي خانونه د هر کار ماهران ګڼي. او داسې خبرې کوي لکه چې په هر څۀ پوهېږي. حال دا چې دوي د حقيقتونو څخه هډو بېخي خبر نۀ وي. دغه راز د علمائے کرام او مشائخ عظام لخوا د سپه سالارۍ سره سره په اميرالمؤمنيني ټاکلې شوي "صدر باتمکين" په دې خبره زور واچولو چې هر چا ته صرف د خپل کار سره کار لرل په کار دي. د اولس مشر ښاغلي پرويز مشرف دا خبره سل په سل سمه او صحيح ده او هېڅوک هم د دې نه سترګې نۀ شي پټولے خو د دې واقعيت د بيانولو سره جرنېل پرويز مشرف د دې حقيقت په ګوته کول هېر کړل چې د دې آفاقي رښتيا والي نه د فوځ او په تېره بيا د پاکستان د اسلامي فوځ افسران مستثنٰی دي ځکه چې د اسلامي پاکستان، د اسلامي فوځ افسران د دې قدرتي او فطري جوګه والے لري چې په هر کار کښې دې بې د څۀ زده کړې او بې د څۀ روزنې څخه مهارت ولري او په کار کښې تشې ګوتې وهل څۀ چې اوربوز دې هم ور کښې دننه باسي او د

علامه ډاکټر سر محمد اقبال د خوب د لیدو په نتیجه کښې جوړ کړے شوی اسلامی جمهوریه پاکستان کښې شپه اؤ ورځ دا حقیقتونه د هر چا د سترګو په وړاندې دی چې هر فوځی افسر د ژوندانۀ په هر ځانګه اؤ هر اړخ کښې ځان د هر متخصص نه زیات ماهر ګنی۔ د پاکستان په اسلام مئین ملت د خپلو دینی اؤ مذهبی علمائے کرام اؤ مشائخ عظام تر ځارنې لاندې د اسلام په نوم را منېنځ ته کړے شوی د پاکستان د فوځ د افسرانو مهارت ګام په ګام وینی اؤ په کتو کتو ورته لکه د دینی مشرانو غوندې خپله دین دنیا روښانه کېږی۔ خو په دنیا کښې داسې هېوادونه اؤ قامونه شته دے چې د دې روښانتیا ځخه برخه اخستل نۀ غواړی لکه دا اوس د دولت مشترکه (Common Wealth) په جرګه کښې چې د اولس مشر جرنېل پرویز مشرف دوستان اؤ خواخوږی په کښې د خپره سره په ګڼ شمېر کښې وو اؤ هر یو په ذاتی حېثیت د جرنېل مشرف ستائېنه هم کوله خو په هم دغه کانفرنس کښې صدراعظم شوکت عزیز اؤ د بهرنیوچارو وزیر خورشید محمود قصوری دې پوښتنې وار خطا کړی وو چې اولس مشرپرویز مشرف به فوځی وردی کله وباسی اؤ دغه راز به کله فوځی وردی ته په مخه ښه اؤ خدای په امانی وائی۔ حال دا چې د اولس مشری چوکی د یو فوځی جرنېل لخوا په ولقه کښې راوستل اؤ هغه هم داسې چې په ولسی جرګه کښې قابو تولو دینی عالمانو د دغه مرض لپاره په اساسی قانون کښې ترمیم اؤ اصلاح کړې ده اؤ د مارلرم دمونه ئې هم پرې اچولی دی۔ د اسلامی جمهوریه پاکستان بهخی یوه کورنی مسئله ده۔ بلکې د دینی اؤ مذهبی عالمانو لخوا ئې د تائید له کبله په مذهبی کارونو کښې لاس وهنه ده اؤ د مداخلت فی الدین معنٰی لری خو بیا هم د پاکستان د اولس مشر وردی باندې نیوکی کېدلې اؤ داسې ښودل کېدل چې تر څو پورې د پاکستان د اولس مشر لپاره د جرنېلی د وردی مسئله اواره شوی نۀ وی نو تر هغې پورې به دغه هېواد تر ځارنې لاندې ساتلے شی۔ دا داسې د "مداخلت فی الدین" ډوله زیاتے دے چې د پاکستان اسلامی حکومت ته پرې په کلکه اعتراض په کار دے بلکې ښۀ به دا وی چې هلته دولت مشترکه دې د اعتراض په توګه پرېښودے شی۔ ځکه چې دا یوه ورځ نۀ ده د پاکستانیانو خو د وردیو اغوستونکو اولس مشرانو اؤ صدارانو سره ژوند دے۔ کۀ نن د دنیا والو دغه اعتراض ومنلے شی اؤ پرویز مشرف دام ظله جرنېلی پرېږدی نو سبا ته چې بیا بل جرنېل راشی نو بیا به دغه اعتراضونه اؤ نیوکې وی له دې امله ښۀ به دا وی چې بیا بل جرنېل راشی نو بیا به دغه اعتراضونه او نیوکی وی له دې امله ښۀ به دا وی چې هلته نن دنیا وال په کلکه ورټلے شی چې سبا ته بیا زمونږ د جرنېلانو اؤ ورسره د دینی عالمانو په کړو نیوکی اؤ اعتراضونه نۀ کوی خو برېږو چې چرته څوک په دې پوښتنه کولو تندی ګونځې نکړی:

جرم مو څۀ دے چې د ظلم په مېچن دلېږو
خوارانو راشئ زمانې نه لږ تپوس خو وکړو

## راروانه ګڼه کښې

د جون په را روانه ګڼه کښې به د محترم اجمل خټک اؤ د هغۀ سره کابل ته د تلونکی ږفد په بابله خصوصی لیکنې اؤ رپورټونه خپرولے شی۔

اداره

: طاهر بونیرے

# ”موجوده پښتون اؤ قامي پاڅون“

نن مونږ هغه اجتماعی اؤ قامی شعور ولې نۀ لرو کوم ننګ، قامی غورځنګ اؤ شعور چې مونږ د باچاخان اؤ خان شهید په دور کښې د ډېر جبر اؤ قېدوبند باوجود لرلو؟؟؟

هاغه انقلابیان، سربازان اؤ ننګالی پښتانۀ چرته لاړل چې په غر اؤ سمه به ئې د پښتنو اؤ پښتونولی بېرغ هسک کړځولو۔ اؤ د جېلونو، وهلو ټکولو باوجود د هر چا په وجود کښې قامی جذبه لکه د سرې وینې توده اؤ ژوندی وه؟؟؟

هغه د غېرت نه ډکې نعرې څۀ شوې چې:

مرګ خو د شهید دے په شرنګا د سپینو توررو کښې
ورکې شه سلګی د ځنکدن په بسترو کښې لا

یا دا چې:

نۀ کلونه د غلام په غلامی کښې
نۀ ساعت د ازادی کۀ ځنکدن وی

محترم آصف صمیم د پوهاند رښتین په باره کښې لیکی چې ”رښتین صېب به وئېل چې په کال 1936ء کښې به ما په کابل کښې د چا سره پښتو وئېله نو کابلیانو به راپورې خندل چې دا لاکومه ژبه وائې؟“

د رښتین صېب دغه یوه حواله نن زمونږ د اوښ غېرت راپارولو د پاره کافی ده۔ چې وروستو رښتین صېب اؤ د افغانستان ځنې نوررو غېرت منو پښتنو، پښتو د افغانستان سرکاری ، دفتر اؤ تعلیمی ژبه وګرځوله۔ اؤ تر دې حده ئې را ورسوله چې په دې اخری وخت کښې به د ملا عمر صېب د لیکلو شوو فتوؤ نقلونه هم د کراچی اؤ پنجاب په اخبارونو کښې په پښتو ژبه چاپ کېدل۔

ولې بل خوا چې ګورو نو په کوم وخت کښې چې په کابلیانو د رښتین صېب په پښتو پورې مسخرې کولې هم په دغه زمانه کښې بلکې د دغه دور نه ډېر وروستو به چې کله باچاخان د میان والی اؤ اټک علاقو ته لاړو نو د میان والی اؤ اټک خلقو به ورته له خپله خانه خواستونه کول چې مونږ پښتانۀ یو ، مونږ یواځې مۀ پرېږدۍ۔ خو دې ته به د تاریخ جبر ووایو، یا بیا د پاکستان مهربانی، چې حکومت د باچاخان اؤ میان والی ، اټک د اولس تر منځه تعلق اؤ تړون وشلوؤ۔ اؤ نتیجه ئې دا شوه چې نن د دغه علاقو خلق نۀ یواځې پښتو نۀ شی وئېلے بلکې د کوم قام ژبه چې د هغوی د جذباتو اؤ احساساتو څرګندولو ذریعه وګرځېده نن هم د هغوی مفادات خپل مفادات ګنی۔ اؤ د پښتنو د تهذیب، کلتور اؤ پښتو ژبې سره هېڅ دلچسپی نۀ لری۔ ګویا د ځلوپښتو کلونو نه هم په مختصر وخت کښې یو قام د

خپلې ژبې، اؤ قامی شناخت نه محرومه کیدے شی۔ خو دومره نازک اؤ بوږنونکی حقیقت طرف ته دلته تر اوسه چا توجه نهٔ ده ورکړې۔ نن په پښتنو سیمو کښې میشته پښتانهٔ لګیا دی په خپلو ماشومانو شعوری طور پردی ژبې زده کوی۔ اؤ کوشش کوی چې خپل ماشوم پخپله د خپلې مورنی ژبې نه نا خبره وساتی۔ کهٔ دغه صورت حال هم دغسې جاری وی نو دا اندازه لګول ګران دی چې پنځوس کاله پس به دلته د پښتو ویونکو اؤ لوستونکو تعداد څهٔ وی۔۔۔؟؟

حکومت کهٔ یو طرف ته زمونږ په سکولونو کښې بلا وجې اؤ بغیر دکوم ضرورت نه د عربی استاذ ته د اووم سکیل په ځاے اولس ګریډه ورکړل۔ نو بل طرف ته ئې د سکولونو نه د پښتو استاذان ختم کړل۔ اوس نو په یو سکول کښې چې د پښتو استاذ نهٔ وی هلته به ماشوم پښتو د چا نه زده کوی؟؟ خو دې دومره لوئې المیې ته نهٔ پښتون سیاست دان توجهٔ ورکړې ده اؤ نهٔ پښتون لیکوال اؤ دانشور۔ بل طرف ته چې ګورو نو نن د لدهیانه اؤ لائل پور خلق لګیا دی په خپلو پخوانو رشتو په خپل لسانی اؤ تهذیبی تړون باندې کتابونه لیکی۔ د مشرقی اؤ مغربی پنجاب خلق خپلې تاریخی اؤ تهذیبی رشتې د مذهب اؤ سیاسی تقسیم نه بالاتر د شریک کلتور اؤ ژبې په وجه راتازه کوی۔ د "موناباؤ سیکټرم د پرانستې نه پس د پاکستان مهاجر اؤ د هندوستان اولس د یوبل په لیدو جذباتی نعرې وهی۔ هلته د جناح اؤ پاکستان په ځاے د "الطاف حسین زنده باد" اوازونه اوریدے شی۔ اؤ د پاکستانی بیرغ په ځاے د ایم کیو ایم بیرغونه رپیږی۔ دغه خلق چې ځانته د پاکستانی په ځاے مهاجر وائی۔ اؤ په دغه نوم فخر محسوسوی دلته په سینټ، قامی اؤ صوبائی اسمبلو کښې دومره بیر اکثریت لری۔ چې کهٔ وغواړی د هر حکومت تخته رانسکوروَلے شی۔ اؤ د "موناباؤ سیکټر" پرانستلو سره به ئې اکثریت نور هم زیات شی۔ په دې کښې شک نشته چې په یو وخت کښې دغه خلق د سرکار اؤ خفیه ایجنسو په اوړو دغه مقام ته رسیدلی دی۔ ولې نن خالص د اولسی بیدارۍ په برکت د خپل طاقت څرګندونه کوی۔ چې د خپل اولس سره ئې لیډرانو خپل تعلق برقرار ساتلے دے اؤ لا ئې ساتی۔

ولې پښتون لیډر نهٔ د خپلې ژبې سره تعلق ساتلے دی اؤ نهٔ د خپل قام سره۔ په کراچی کښې چې څومره پښتانهٔ له مودو راسې اباد دی۔ د پښتنو دومره شمیر په پیښور اؤ کابل کښې نشته۔ ولې یو طرف ته حکومت دغه پښتانهٔ په انتظامی طور داسې تقسیم کړی دی چې د انتخاباتو په وخت ئې ووټونه یو خوا بل خوا تقسیم شی۔ اؤ خپل یو نمائنده قامی یا صوبائی اسمبلی ته نهٔ شی ورلیږلے۔ حالانکې د کراچی ټرانسپورټ د نیمې نه زیات د پښتنو په لاس کښې دے۔ دغلته لکه د نورو قامونو په شان په پښتنو کښې هم مالداره، کاروباریان، بنګله وال اؤ د اعلیٰ سرکاری عهدو خاوندان موجود دی۔ اؤ ځینی پکښې عام مزدور پیشه خلق دی۔ خو له بده مرغه په کراچی کښې د قام، وطن اؤ پښتو سره مینه یواځې غریب اؤ مزدور پښتون لری۔ مالداره پښتو ته د پښتو اؤ قام ولی خبرې فضول کار ښکاری۔ ځینی مالداره پښتانهٔ چې دغلته د قام پرستو ډلو سره تعلق لری۔ هغوی یواځې د نوم اؤ نمائش په خاطر دغه تکلیف کوی۔ خو عملاً نهٔ په پښتو پوهیږی اؤ نهٔ ورسره څهٔ دلچسپی لری۔ ولې د کراچی اؤ اندرون

سندهـ عام پښتون وګړے د خپل قام، ژبې او وطن سره د لېونتوب، ترحده دلچسپي لري۔ د غلته چې کله هم د شمالي يا جنوبي پښتونخوا ليډران راپېښه وکړي۔ نو دوی ورته په لستونو ګډېږي۔ خپله مزدوري او دياړي قضا کړي۔ په جلسه کښې د خپلو قامي مشرانو په تقريرونو لاسونه پړقوي۔ خو کله چې د جلسې او جلوس پړق پړوق ختم شي نو دوی بيا د خان خانی او محرومي د ژوند سره مخامخ شي۔ ځکه چې تر اوسه پورې داسې څوک راپېدا نۀ شو۔ چې د غه تس نس شوی ګلان په يو امېل کښې وپئي۔ د خپل قامي شناخت، تاريخ، کلتور، او ژبې سره د تعلق او تړون احساس ورته ورکړي۔ د کراچۍ د پرنټ او اليکټرانک ميډيا په حواله لا تر اوسه پورې زمونږ قامي بادارانو څۀ فکر نۀ دے کړے۔ نۀ د دغه خاے پښتنو په اجتماعي توګه داسې کوم اواز پورته کړے دے۔ حالانکې د سندهـ د ځينې مشهورو اخبارونو په شا د پښتنو لاس دے۔ بل خوا په هندکو ژبه کښې تر اوسه پورې تول تال سل کتابونه هم نۀ دی چاپ شوي۔ خو په شمالي پښتونخوا کښې زمونږ هندکيان ورونه د هندکو د پاره د پښتو سره برابر مقام غواړي۔

بل اړخ ته چې په بلوچستان او شمالي پښتونخوا کښې د قام پرستانو بې وسي او د مذهبي ډلو چالاکي ته سړے ګوري نو حېران شي۔ چې د مجلس عمل کومو ليډرانو د تېرو پنځۀ دېرش کالو نه زياته موده په کشمير او افغانستان کښې د لکهونو پښتنو وينه توې کړه۔ او د 11 ستمبر نه پس ئې د ژوندي پاتې کېدلو هېڅ جواز نۀ وو۔ ولې په 2002ء کښې نۀ يواځې په ډراماني طور صوبائي، قامي اسمبليو او تر سېنټ پورې اور سېدل۔ بلکې د ځان سره ئې د خپلو کورونو زنانه هم په اسمبليو کښېنولې۔ د مجلس عمل مشرانو به د اليکشن 2002ء په موقعه په ډانګ پنبلی وئيل چې مونږ د طالبانو ملګري يو۔ اُسامه ئې خپل رهبر ګڼلو۔ او د پرويز مشرف او پاکستان خلاف به ئې نعرې وهلې۔ ولې نن ئې په شمالي پښتونخوا کښې خپل حکومت دے۔ او د وفاق خلاف د اپوزيشن کردار ادا کوي۔ او په بلوچستان کښې ئې د سرکاري مسلم ليګ (ق) سره شريک حکومت دے۔

په دې کښې شک نشته چې د کراچۍ د مهاجرو په شان ايم ايم اے هم زمونږ د سرکاري او خفيه ايجنسو ضرورت دے۔ او د دغه ضرورت تر مخه ئې کله په يو رنګ او کله په بل رنګ کښې ژوندی ساتل غواړي۔ خو پخپله د ايم ايم اے پروپېګنډه هم دومره زوروره ده چې د دومره تضاداتو باوجود هم په هسکه غړانګه ژوند تېروي۔ او هېڅوک نشته چې د دوی د غه تضاداتو ته ګوته ونيسي۔

يوه ډېره د تعجب خبره دا ده چې په ملاکنډ، سوات، شانګله، بونير او د شمالي پښتونخوا په نورو علاقو کښې .M.R.D.P او ځينې نورو غېرسرکاري فلاحي ادارو (N.G.O's) د سړکونو، هسپتالونو او نورو ادارو د توسيع او مرمت کوم کارونه د اليکشن 2002ء نه هم پخوا منظور کړي او شروع کړي۔ د مجلس عمل حکومت د غه ټول ترقياتي کارونه د خپل حکومت کارنامه ګڼي۔ او قام پرستان ورته خاموش ناست دي۔ د عام اولس ذهن تر دې حده پورې محدود او مفلوج شوے دے چې څوک دا تپوس هم نۀ کوي چې په بلوچستان کښې مجلس عمل د حکومت سره په

یو څو وزارتونو سودا اؤ ملگرتیا کوی۔ د L.F.O. په منلو ئې پرویز مشرف باوردی صدر تسلیم کړے دے۔ نو بیا ئې په شمالی پښتونخوا کښې د اپوزیشن ډرامه کوم مقصد د پاره جوړه کړې ده۔ اؤ د طالبانو سره د دوی د همدردی اؤ وروروولی هغه سوگندونه چرته لاړل۔

گویا مجلس عمل په دې لحاظ د قام پرستانو نه زیات اهمیت لری۔ چې هغوی خپل کارکنان د دې پابند کړی دی چې مونږ هر څهٔ وایو تاسو ئې د قرآن اؤ حدیث په رڼا کښې په خلقو کښې تشریح اؤ تبلیغ کوئ۔ ولې قام پرست کارکن یواځې ډنډه مار اؤ پیروکار پاتې دے۔ اؤ نور هیڅ شعور نهٔ لری۔ د سیاسی کارکنانو د ناپوهی نه دا اندازه په اسانه لگی۔ چې زمونږ قام پرستو، ترقی پسندو اؤ روشن فکره مشرانو په خپلو محفلونو کښې د علم، پوهې اؤ نظریې خبرې پرېښودې دی۔ یواځې په جلسو، جلوسونو اؤ زبانی خبرو گزاره کوی۔ زما خیال دے چې د ولی خان اؤ شیرعلی باچا نه پس نن زمونږ سره د افضل خان لالا اؤ افراسیاب خټک نه سیوا بل کوم داسې لیډر نشته چې پهٔ لیک لوست پوهیږی۔ نو کله چې په یو قام کښې داسې قامی لیډر اؤ رهبر پاتې نهٔ شی۔ چې په خپله ژبه کښې خپل اولس ته د خپل پرون، نن اؤ سبا په حواله د قامی ستونځو نشاندهی وکړی۔ نو کارکنان به زده کړه د چانه کوی۔ گویا د نورو استعماری قوتونو سره سره مونږ پخپله لگیا یو۔ په خپله ټولنه کښې د بې علمی اؤ جهالت کرونده کوو۔

په ریډیو، ټیلی وژن کهٔ د پښتون کلچر اؤ دود دستور جنازه وزخی نو یواځې پښتون ادیب، شاعر اؤ صحافی ئې غندنه کوی۔ محکمه ثقافت ، آرټس کونسل، اکادمی ادبیات، پښتو اکیډمی، څهٔ څهٔ کوی۔ اؤ څهٔ کول ورته پکار دی؟ یا د کومو ستونځو سره مخامخ دی۔ قامی لیډران دومره وخت نهٔ لری چې دې اړخ ته توجه ورکړی۔ بې شکه چې دغه ستونځې به سرکار اؤ برسراقتدار طبقه حل کوی۔ ولې د دغه ستونځو نشاندهی د ادیب، شاعر اؤ قامی لیډر فریضه ده۔ زمونږ په وطن کښې د ایران اؤ نورو ملکونو سفارت خانې خلقو ته د خپلې ژبې د زده کولو د پاره مفت تربیت ورکوی۔ ثقافتی میلې کوی۔ د خپل تاریخ ، تهذیب، اؤ کلچر په حواله د کتابونو نمائیشونه کوی۔ گویا په پردی وطن کښې هم په خپله ژبه، تهذیب، اؤ ثقافت باندې فخر کوی۔ خو د افغانستان په سفارت خانو اؤ قونصلگرو کښې پښتو اؤ پښتانهٔ دومره بې وسه، مظلومه اؤ یتیمه ښکاری لکه چې پښتو اؤ پښتانهٔ په افغانستان کښې څهٔ خاص اهمیت نهٔ لری۔ د لرې اؤ برې پښتونخوا په املاء کښې ورځ تر ورځ فاصلې سیوا کیږی۔ خو دومره بنیادی نکتې ته د دواړو طرف پښتنو دومره توجه نهٔ ده ورکړې څومره چې پکار ده۔ دغه ذمه داری زیاته د افغانستان په پښتنو راځی۔ چې نهٔ ئې د "باړه گلی" املا خپله کړه اؤ نهٔ ئې په دې حقله کوم بل د قدر وړ قدم پورته کړو۔

ډیر خلق دا خیال لری چې پاکستان یو غیرفطری وطن دے۔ په غیر فطری بنیادونو جوړ شوے دے۔ د دوه قامونو کومه نظریه چې د دوی بنیاد وو۔ دغه بنیاد ئې هم د بنگله دیش د جوړیدو سره راغورځیدلے دے۔ اؤ کهٔ خیر وی حالات د 11 ستمبر نه پس داسې روان دی چې د لر اؤ بر افغان به یو کیږی۔

خو زما خیال دے چې د پاکستان غیر فطری

نظام کښې هم يو تسلسل او توازن موجود دے۔ لکه چې کومو خلقو د دوی د پالیسو مرسته کړې ده نو دوی تل دغه خلق او د هغوی بچی نازولی دی۔ لکه په موجوده حکومت کښې هم د ايوب خان، ضياء الحق او اختر عبدالرحمان خامن ډېر د عزت او ارام ژوند تېروی۔ د مذهبی ډلو هغه مشران چې د سرکاری پالیسی تر مخه ئې د فرقه واریت خورولو د پاره ټول عمر يو بل ته سپکې سپورې وئیلی نن ئې د ورورولۍ لاسونه ورکړی دی۔ او د سرکار او سرکاری ايجنسو په اړو د اقتدار کرسیو ته رسېدلی دی۔ او ډېر په بازاری او مصنوعی طریقه خلقو ته دا تاثر ورکوی چې مونږ ازادخیاله خلق يو۔

ولې پښتانۀ نن هم هر سړے د سير غرګی نه غرنګ وباسی۔ په خپلو بچو نورې ژبې زده کوی۔ او خپله ژبه ترېنه هېروی۔ د هېڅ يوې پارټی سره داسې منشور او دستور نشته چې د نوو حالاتو او نوو تقاضو مطابق وی۔

پښتانۀ کۀ بل څۀ فکر کړی ناپوه دی
يا مغل له منخه ورک، يا پښتون خوار

☆☆☆☆☆☆

# تصویر

"انجنئېر اتل جنوبی پښتونخوا"

کۀ دا شپه چرې سبا شی — يا ښکاره ئې څۀ رڼا شی
بيا د وخت نوؤ فتوؤ کښې — انځورونه را روا شی
هسکو څوکو د خيبر کښې — روښانيان يو څو پيدا شی
رنګه بيا شی مغلواله — پښتنی سازونه وا شی
د شفق د مخ رنګونه — چې په برخه کله زما شی
د سپوږمۍ خوږې خبرې — يا مې ستوری په ملتيا شی
هغه سر کېږدی حساب ته — ورک خيالونه مې پيدا شی
دی سجدو نه سم اوزګاره — ياهوسامی لېږ ګناه شی
دا خزان له کلی بار شی — يا بدلی دا هوا شی
شبنم خور شی په ګلونه — نرګسی نازونه راشی
سپیلنی راوړی له قافله — يو په دې مې په رضا شی
وخت لمنې رڼا راکړی — نورې شپې بېرته په شا شی
بيا نو واوره دا اتله — داسې ورځ کۀ په ما راشی
يو تصوير به جوړومه — ښکلے نوم به ئې پښتونخوا شی

# "د ټپې هنداره"

یکم مئی د مزدورانو ورځ: خوار شي زما بده نصیبه
چې ګل کړمه مارکونډۍ ترې ټولومه

وانا وزیرستان: دا خو مې زړۀ دے ورته ټینګ دے
دو مره غمونه دریابونه اوچوینه

وانا وزیرستان مقامي خلق: د دې نه کونډه درته ښۀ یم
تا دې رب واخلی زۀ دې کونډه پاتې شمه

بلوچستان: د خربوزې پشان پخه شوم
لالیه زر مې پرهکوه ګیدړ مې خورینه

افغانستان، پښتونخوا: د یاره زړۀ صبرول ګران دی
په دریابونو کړښې چا راښکلی دینه

کابل کښې اجمل خټک سیمنار: خلق تپوس له د رنځور ځی
زۀ چې رنځور شم د جانان تپوس له ځمه

اسفندیار ولی امریکه دوره: یو دې غریب پیدا کړم خدایه
بل دې مئین په زوراورو خلقو کړمه

فرید طوفان بنام پارلمنټیرین: ما له ورورکے رهبار ښۀ دے
چې په یوه خبره سل قسمه خورینه

د ولی باغ مرور: وار مې د تورو زلفو تېر شو
په دلالانو جانان بولم نۀ راځینه

د اے این پی د مرورو: په خلۀ به جنګ در سره وکړم
د پاره عام معافی
د زړۀ کوځې به درنه ولې ښېلومه

اسلام آباد: زما د زړۀ د سر از غیه
نۀ دې ایسته شم نۀ دې حال وئیلے شمه

نواز شریف بېنظیر بهټو لندن ملاقات: انګار مې بیا د زړۀ تازه شو
ځۀ موده پس مې د یار وکړل دیدنونه

: منان باچا

# "یوم مئی"

## د پاکستان د سیاسی اؤ فوځی حکومتونو په تناظر کښې !!"

په هندوستان ژ خواشا بالدې چې کله د فرنګی سامراج قبضه وه اؤ اولس د ظلم جبر غلامی په حالت کښې د لوږې اؤ تندې سره مخامخ وو۔ نو فرنګی دا محسوس کړې وه چې دلته به د دغه نفرت خلاف بغاوت ضرور کېږی نو د دې مقصد د پاره ئې دلته د "ال انډیا نېشنل کانګریس" په نوم جماعت جوړ کړو چې دا جماعت به د هندوستان د اولس احساسات اؤ جذبات د "عرض داشت" "یاداشت" اؤ درخواست په شکل کښې تاج برطانیه ته رسوی چې په دې طریقه به د خلقو نفرت هم باهر ته راوځی اؤ فرنګی ته به د 1857ء په شان حالات هم دوباره نهٔ جوړېږی۔ خو دا په نړی کښې د مزدور طبقې راپورته شوے نوی د مزدورانو د تحریک اثر وو چې د هندوستان مزدورانو د دغه جماعت نه د مزاحمت اؤ احتجاج یو داسې قوت جوړ کړو چې هم دغه جماعت پخپله فرنګی ته لوئې دښمن ثابت شو۔

په پاکستان کښې د شروعاتو نه د قامی مسئلې د نه حل کولو اؤ د قامونو غلام ساتلو د پالیسی په وجه پاکستان آئین جوړ نهٔ کړے شو ځکه چې کهٔ دلته آئین جوړېدے نو قامونوته به پکښې ضرور څهٔ نه څهٔ حق ورکول غوښتل۔ ځکه دلته آئین جوړ نهٔ کړے شو۔ اؤ ملک په غلط طرف روان کړے شو۔ ټول واک اؤ اختیار د فرنګی د زمانې د بېروکرېټو په لاسونو کښې وو۔ د چا سره چې د فرنګی په وخت کښې د دې خاوے د قامی اؤ طبقاتی سیاست د مشرانو جنګ پاتے شوے وو۔

د فرنګی د وخت دغه بیوروکرېټو ملک د غلامی د دور په طریقه چلول غوښتل نو ځکه ئې د فرنګی د دور په مبارز قوتونو د غداری اؤ ملک دښمنی الزامونه ولګول اؤ په هغوی ئې بې رحمانه تشدد جاری وساتلو۔

په ملک کښې د ائین د عدم موجودګی په وجه نورو ډېرو بیمارو سر پورته کړو، کرپشن راغلو اؤ جاګیرداری نظام نور ډېر مضبوط شو۔ په سیاست کښې د فوج عمل دخل شروع شو۔ اؤ په ملک کښې د جمهوریت راتلو تصور هم ختم کړے شو۔

په موجوده پاکستان کښې ذوالفقار علی بهټو د یو سول مارشلاء ایډمنسټرېټر په توګه راغلو اؤ بیا ئې خپل شکل بدل کړو د 1973ء آئین منځ ته راغلو چې پکښې صوبائی خودمختاری تسلیم شوه اؤ په لس کاله کښې دننه دننه صوبو ته د مکمل خودمختارئ ورکولو وعده اوشوه۔ خو په دې عمل وو نشو۔ اؤ په دې آئین کښې هر حکمران د خپلې خوښې داسې بدلونونه وکړل چې اوس ځوک دې ته د 1973ء آئین نشی وئېلی۔

ذوالفقار علی بهټو د نشنلائزېشن په نوم د مخالف خلقو صنعتونه سرکاری کړل اؤ په دغه صنعتونو کښې ئې په سیاسی بنیادونو بهرتی وکړه اؤ د

د غه صنعتي ادارو ملازمینو له ئې ډېر مراعات ورکړل۔ بل طرف ته ئې د نورو نجي ادارو مزدوران د هر قسم حقوق نه محروم کړل هغه ئې په رياستي ادارو ووژل۔ کارخانې ئې بند کړې او مزدوران ئې د مشرق وسطیٰ شګو او صحراګانو ته مزدورو له ورديکه کړل۔ د ملک نه د مزدورانو لوئې تعداد باهر شو او د مزدور تحريک ملاماته شوه۔ قامي او جمهوري قوتونه ئې په وهلو وهلو ټکړے ټکړے کړل او پخپله ئې فوج ته په اقتدار د قبضې کولو لار هواره کړه۔

جنرل ضياء الحق د ټهيکيداري نظام په نوم کارخانه دارو له د مزدورانو د لوټ کولو او د هر قسم قانوني حق نه د محروم ساتلو اختيار وکړو۔

د مزدورانو په اجرت کښې د اضافې په ځاے کمے وکړے شو او اوقات کار ورله د اتۀ ګهنټو په ځاے دولس ګهنټې مقرر شو۔ د ذوالفقار علي بهټو او د ضياء الحق دا ټولې مزدور دښمن کاروانې په اصل کښې د ملټي نېشنل کمپنو د ايجنډې حصه وه۔ ځکه چې د 1970ء په دهائې کښې ملټي نېشنل کمپنو په دې کار شروع کړے وو چې به راروان وخت کښې به هغو د غريبو ملکونو وسائل ارزان مزدور د ښان پکار راولي۔

د پاکستان حکمرانان د ډېرې مودې نه دا خبرې کوي چې پاکستان له حقيقت پسندانه معيشيت اختيار کول پکار دي۔ دوي وائي چې د کوم څيزونو مثلاً غنم او چيني وغيره چې کوم قيمت په بين الاقوامي منډې کښې مقرر دے۔ نو هغه په پاکستان کښې هم پکار دے۔ او حکومت له په دې باندې سبسډي (Sub-sidy) نۀ دي ورکول پکار۔ خو دا د عقل نه راندۀ حکمرانان دا نۀ وائي چې بيا حکومت له دا حقيقت هم منل پکار دي چې په بين القوام کښې د مزدورانو کوم اجرت مقرر دے هغه اجرت په پاکستان کښې هم ورکول پکار دے۔ چې نرخ د بين القوام سره يو شان ضروري دے نو اجرت ولې يو شان پکار نۀ دے۔

په پاکستان کښې اکثر سياسي، مذهبي او مزدور ليډران د ګراني خلاف تقريرونه کوي او څوک پکښې دا هم وائي چې مونږ به ګراني ختم کړو حالانکې دا يو ناممکن کار دے خو دا خبره هيڅ څوک هم نۀ کوي چې په اجرت کښې دي اضافه وشي کوم چې ممکن ده۔

اوس وخت راغلے دے چې هره سياسي، مذهبي جماعت دي د مزدورانو په اجرت کښې د اضافې او د مزدورانو په اوقات کار کښې د کمې کولو خبره او غېږ پورته کړي۔ ځکه چې د مزدور طبقې د شموليت نه بغير په دې ملک کښې يو سياسي تحريک هم کاميابېدے نشي۔ او موجوده سياسي او مذهبي جماعتونه په خپل ترلي کارکنانو باندې کله هم دلته د حکومت مقابله نشي کولے۔

موجوده حکومت چې د نجکاري په نوم د سرکاري ادارو د اوبو په نرخ باندې کوم خرڅ وکړو د دې سره به بېروزګاري نوره زياته شي او په غربت کښې به نوره هم اضافه کېږي۔

د پاکستان نه چې کوم څيزونه مغربي ملکونو ته برآمد کېږي په هغې کښې د خوراک او ټېکسټائيل مصنوعات (Textile) شامل دي۔ هلته چې کوم سامان برآمد کېږي نو خريدارانو ته په هغه باندې ډېر زيات ليبر چارجز ښودلے کېږي۔ ځکه په مغربي ملکونو کښې د دغه سامان نرخ ګران وي او خرڅونکي لې خپل

گاهک ته گرانی وجه هم دا بنائی چې په دې باندې لیبر چارجز ډېر راغلی دی۔ خو هم په دغه مغربی ملکونو کښې بعضې سماجی تنظیمونه د دغه سامان دا خبره خوروی چې په پاکستان کښې د دې سامان جوړولو واله مزدورانو ته د پاکستان د رائج الوقت قانون اؤ د آئی ایل او (I.L.O.) د کنونشن په مطابق حقونه نۀ ورکولے کېږی اؤ په دې کښې د مزدورانو استحصال شامل دے۔ د مغربی ملکونو غټو خریدارانو د خپل نېک نامی ساتلو د پاره خپل اخلاقی ضابطې (Code of Con-duct) تیار کړی دی چې په هغې کښې ئې دا لیکلی دی چې مزدورانو ته به د دې ضابطې اؤ په دې کښې متعین شوی تمام حقوق چې پکښې د یونین جوړولو ازادی، د صحت تحفظ، معقول تنخوا چې یو خاندان پرې په قلاره گزاره کولے شی۔ اؤ تمام نور د ملکی قانون مطابق مراعات ورکړے کېږی۔ هغو خپل یو سوشل اډیټ هم جوړ کړې دے چې هغه پاکستان ته راځی اؤ د دغه کارخانو جاج اخلی چې په کوم کارخانو کښې د دغه تاجرانو د پاره مال تیارېږی چې په دغه کارخانو کښې په دغه اخلاقی ضابطې باندې عمل کېږی اؤ کنه؟؟؟

خو نه خو دلته په دغه اخلاقی ضابطو باندې عمل کېږی اؤ نۀ د دغه تاجرانو سوشل اډیټر د دې خاے د کارخانو خلاف څۀ ښکاره رپورټ شائع کوی۔ خو دا ټوله قیصه فرضی ده ځکه چې د مغربی ملکونو تاجران اؤ یا سماجی تنظیمونه د خپل ملک د پالیسو نه ازاد نۀ دی۔ اؤ د دغه ملکونو خپل سیاسی ترجیحات دی۔ چې هغۀ بدلېږی را بدلېږی۔ کۀ کله هم د دغه ملکونو د پاکستان د پاره سیاسی ترجیحات بدل شو نو هغو به په ډېره اسانه د پاکستان په برآمداتو پابندی ولگوی ځکه چې ټول حقائق اؤ مواد د هغو په ریکارډ دی۔

په موجوده حالاتو کښې په پاکستان کښې نۀ قامونه په یواځې خپل حق گټلی شی اؤ نۀ د مزدورانو ژوند ښۀ کېدے شی۔ ترڅو پورې چې په دې ملک کښې یو نوے آئین نۀ وی جوړ شوے۔ چې په هغه آئین کښې قامی مسئله نه وی حل شوی۔ جاگیرداری نظام ختم کړے شوے نۀ وی۔ مضبوط ادارې قائم کړې شوې نۀ وی، مزدورانو ته د روزگار ضمانت اؤ بهتر اجرت مقرر شوے نۀ وی اؤ په حقیقی معنو کښې د جمهوریت دور شروع شوے نۀ وی خو دا به هله ممکن وی چې کله د ملک ټول قام پرست مزدور دوست، سامراج دښمن جمهوری قوتونه د اولس په مدد دلته د ایران په شان بدلون راولی اؤ فوج عملاً د سیاست کولو نه بېدخله کړی۔

دا کار د یو مشترک پلېټ فارم جوړولو نه بغېر نشی کېدے۔ اؤ یو پلېټ فارم جوړولو د پاره به اول د خپل خواهشاتو قربانی ورکول غواړی۔ د خپل خواهشاتو په خاے به پروگرام له ترجیح ورکول غواړی اؤ بیا به د وینو قربانی ورکول غواړی نو هله به دا کار سر ته رسی اؤ ملک به خپلو پښو ودرېږی اؤ د خوشحالی اؤ ترقی په لار به روانېږی۔ د قربانی نه بغېر هیڅ چا ته هم خپل حق نشی ملاوېدے هم دغه د یکم مئی د مزدور شهیدانو د وینې پیغام دے اؤ حق گټلو والا د پاره د لارې مشال دے۔ چې د ظلم، جبر، غلامی اؤ استحصال نه د خلاصی د پاره په مبارزه کښې به د اولس د پاره د رڼا کار ورکوی۔

☆☆☆☆☆☆☆☆

لیک: جمیل یوسفزے

# مزدور په نمانځنو کښې

مونږ د نمانځنو مېړنی یُو۔ کله یوم ژبه، کله یوم ښځه، ژبه هم لاړه او ښځه هم۔ د ښځو او ژبو، یو بل سره ډېر کلک تړون دے۔ چې ژبه په واک وی نو ښځه په Walk خو واکمنان د Walk او تاک دواړو خلاف دی۔ د چا چې واک نۀ وی د هغوی به نۀ تاک نصیب شی او نۀ Walk ، دا د قاف او کاف قیصه ډېره اوږده ده۔ ملګری به وائی چې دا څۀ ، کاواک، دے، خو د کاواک سره هم د پښتنو یو تړون دے۔ هغۀ دا چې کله کاواک د ښی طرف وائی او کۀ د ګسه۔ سپی مچ دے، اوړی نا:

کۀ هر څو ئې اړوے کاواک کاواک دے

په کاواکه ګرزېدو کښې رنګین خیالونه ډېر خوند کوی

د ښی او ګسې خوبونه، لاړل د فکر په تال جوته شول، ګس لاسی ، په ښی طرف شول۔ څکه چې هلته د "ید العلیا" نه "سرۀ مهران" را دوړېږی۔ د کهسار دروازې پرانستې دی۔ Left اوس صرف تش لاس دے۔ د چا خبره Left is right and nothing is left in right ، په خوا دا تصور وو:

لکه دود چې غرونه ځرګندېږی

تار په تار شی په یوه نری شمال

نرے شمال اوس تار په تار کول نۀ کوی۔ بلکې نرے شمال دے اور بلونه لمدوینه۔ دا څۀ سپرلے دے چې ګلونه تار په تار پرانۀ دی؟ مونږه ټول عمر د شمال خبرې کولې، یو ایله شمالی اتحاد ته ورسېدو، خو شمالی اتحاد د اشتمالی اتحاد برابر چرته دے؟ د شمال او اشتمال تورې دومره لړزونکے دے چې دا اباده دنیا ئې ړنګه کړه۔ اورو چې په اخرت کښې به هم د "ذات الیمین" عملنامې په کیڼ لاس ورکېږی، څکه خو شاعر سره غم وو:

قافلې چې د یمین شمال بیلېږی

اے حافظه! تۀ به مل د کوم کاروان ئې؟

وائی چې کاروان نن سبا ښۀ روان دے۔ ما وې زۀ پرې څۀ وکړم؟ مونږ خو په هلک والی کښې The Car-van لوستے وو۔ خوند مو لا په خله کښې دے۔ هغه شان:

سوئے قطار می کشم ناقه بے زمام را

دا "ناقه" د کانی نه راوتې ده۔ او په تېږه به خلاصېږی۔ د پښتنو ناقه په ناکا (مکر مچ) اوړېدلې ده۔ د ناکو په دې جنګ کښې د پښتون ناکه بندی شروع ده۔ خدائے دې خېر کړی۔ د خوش فهمه خلقو خیال دے چې "لوگ آتے رہے اور کاروان بنتا رہا" خو داسې نۀ ده۔ عقل وائی څنګه به یو ځاے شی پښتانۀ پښتانۀ، تاسو به ما ته ناامیده وایئ، ټهیک ده ما به ستاسو امید ته سترګې وی چې څۀ زېږوی؟ او دا زوکړه د مغلوالې مقابله څنګه کوی؟

د نمانځنو خبره روانه وه، ژبه پرې شوه او ښځه توې، په غوځه ژبه د "توې" خبرې څوک وکړی؟ په توې کښې امن د طوې ټکے دے۔ پښتنې میاندې بچو ته وائی

خطرې خطرې دی، کرمې ته مۀ ځه

قطرې قطرې دی یو به د سینه

مونځونه او نمانځنې سنګ په سنګ روان دي۔

خو حاصل هیڅ هم نا۔ داسې خو نهٔ ده، چې اوس مونږ صرف نمانځنو ته پاتې یُو۔ نمانځنه، نمانځنه، ورځ نمانځنه، شپه نمانځنه، د قام نمانځنه۔ مونږ هر کال د یکم اپرېل تږوقې کوو۔ د مزدور د مزدورۍ د زیاتوالی خبرې کېږی، مزدور له د سهولیاتو ورکولو ژمنې هم اورېدې شي۔ خو حقیقت مونږ ټولو ته معلوم دے چې مزدور اوس هم هغه زړه خبره کوی۔

آج بھی سپرا اس کی خوشبو مل مالک لے جاتا ہے
میں لوہے کے ناف سے پیدا جو کستوری کرتا ہوں

شاعر څهٔ کولے شي؟ د خدایے پاک نه ګیله وکړی:

ہیں تلخ بہت بندۂ مزدور کے اوقات

وینځه به کله مهر من کېږی؟ مزدور ابن مزدور به تر څو د مُزد لارې څاری، او مُزد هم هاغه چې:

جس طرح دیتے ہیں اہل ثروت غریبوں کو زکوٰۃ

ابلیس چې په خپله شورئ کښې کومه خبره کړې وه:

"مزد کیت فتنہ فردا نہیں، اسلام ہے"

هغه رښتیا شوه۔ هر څوک چې خبره کوی نو هغهٔ حکم وی۔

دنیا کے مزدورو متحد ہو جاؤ!، دنیا کے مظلومو! متحد ہو جاؤ!

مزدور لا د حکم غلام دے، دې به نولڅن وی خو واکمن به نهٔ شي۔

پردے مزدور سحر وختی پاځی
د شوګېرو مېنهن اودهٔ پاتے شی

د یوم مئی مری شهیدان دی کهٔ آن جهانیان! دا یو خان له بحث دے، زمونږ د مړو سره څهٔ کار؟

"اخون له خو دې بې وی کهٔ د خرې او کهٔ د سپی وی"

بې کهٔ په پښتو کښې وی نو بادار ئې خوری، کهٔ په انګرېزی کښې وی نو هغه Pay د سرمایه دار وی۔ کهٔ د عربی فی وی نو د مُلا او مجاهد برخه ده۔ د عام سړی چرته هم بې او روپۍ کښې حصه نهٔ وی۔ څهٔ خاص فرق نهٔ دے راغلے، پخوا کهٔ مزدور اهرامونه جوړول، نو نن حرمونه جوړوی۔ نجیب به نجیب وی، او انجب به انجب (انجب د وینځې خوی ته وائی) فیا للعجب۔

نشته امن چرته هم د دې دهر په کور کښې
وې به همېشه دا د نېکی او بدی جنګ

☆☆☆☆☆☆☆

## ستاسو د لیک په جواب کښې د لیکوال مینه والو!!

ستاسو د طرفه د "یو لیک یو تاثر" د پاره ډېر ښکلی ښکلی لیکونه راغلی دی چې زما نه زما تاثر غواړی خو د لیکوال په لږو صفحو کښې فقط یو لیک د خپل تاثر سره ځایولے شم۔ په دغه حواله زهٔ د هغه ټولو لیکونکو نه بخښنه غواړم چې هغوی ټولو ته په یو وخت زهٔ په خپل تاثر کښې جواب ور نکړے شم۔

زما کوشش دے چې دغه ټول لیکونه زهٔ په خپل تاثر کښې راولم او په راروانو وختونو کښې دې لیکونو له کتابی شکل ورکړم۔ څکه چې د دغه ټولو لیکونو په یو یو حرف کښې یو جهان ارمانونه او مقصدونه پراته دی۔

✍: سید مدثر شاه

# د پښتنو د وحدت د پاره به څوک ځام پورته کوي؟

هسې خو پاکستان د خپل جوړښت نه واخله تر دې ساعته هر وخت د بحرانونو ښکار هېواد پاتې شوې دے۔ اؤ د دې اندازه د دېرشو اؤ شلوېښتو کالو د زړو ورځپاڼو د مطالعې نه په ښهٔ ډول کېږی، چې هر وخت د ملک سیاسی مشرانو داسې بیانونه خپارۀ کړی دی چې کهٔ دا رقم فېصله ورو نهٔ شوه یا دا کړنلاره غوره نهٔ کړې شوه نو ملک به ختم شی۔ اؤ یا دا چې دا وخت ملک د ډېر نازک صورتحال نه تېرېږی۔ بنده حېران شی چې دا څنگه ملک دے چې دې هر وخت د چړې لاندې ساه اخلی خو چارۀ پرې نهٔ تېرېږی۔ دا حقیقت هم دے څکه چې پاکستان د جوړېدو سره سم د استعماری منگولو کښې پرېوتو۔

استېبلشمنټ، فوځی جرنېلانو، مذهبی ټهېکېدارانو اؤ پنجابی بېوروکرېسی د دې ملک سیاست په داسې کرښو وچلولو چې گټه ئې فقط سامراج ته مېلاوېدو۔ اؤ په میلیونو وگړی ئې د فکر اؤ لوږې تندې سره مخامخ کړل۔ د اولس قابو ساتلو د پاره کله دوی اسلام په خطره کښې محسوس کړو اؤ کله ئې د پاکستان د ختمېدو دړکې ولړې۔ خو د یولسم ستمبر د واقعې نه پس اؤ بیا په تېره د امریکا د جمهور رئیس جارج بش د سوېلی اېشیاء د دورې نه وروستو د پاکستانی مقتدره قوتونو مخونه زوړند شوی دی اؤ وار گودر ترې خطا شوې دے۔ چې کوم داسې گامونه پورته کړی چې د دوی دغه ناولې لوبه جریان ولری۔ خو حقیقت دا دے چې موجوده نړی کښې د زړو پالیسو سره تگ یوه ناممکنه خبره ده۔ اؤ دا ځل داسې ښکاری چې دا هېواد واقعتاً د یو لوئې بحران نه تېرېږی۔

د نړی د مختلفو سیمو نه وړاندې هم په پاکستان دا تورونه لگېدل چې دغې هېواد کښې ډېموکراسی نشته۔ د وړو قامونو سره د دهٔ سلوک منصفانه نهٔ دے۔ د ترهه گری ملا تړ کوی۔ د جوهری وسلو په قاچاق کښې ککړ دے۔ بشری حقوق د پښو لاندې کوی اؤ دا رقم نور الزامونه۔ خو ولې هاغه وخت چون د غټو نړیوالو گټې د پاکستان په بقا کښې خوندی وی نو د دغې تورونو ژبه به ډېره کمزورې وه۔ خو دې کال د مارچ په میاشت کښې د جارج بش د هند افغانستان اؤ پاکستان دورې ثابته کړه چې د امریکا د پاره نور پاکستان په موجوده حالت کښې د قبلولو وړ نهٔ دے۔ جارج بش هند کښې د دغې هېواد سره د جوهری طاقت لوظنامه لاسلیک کړه اؤ پاکستان کښې ئې وئېل چې زهٔ د دې کتو له راغلے یم چې پاکستان د ترهه گری په جنگ کښې څومره فعالیت کوی اؤ آیا دلته جمهوریت په صحیح خطوط روان دے اؤ کهٔ نه۔ پاکستان چې د صدر بش د دورې سره کوم توقعات تړلی وو یعنی غوښتل ئې چې امریکا دې د کشمیر په معامله کښې منځگړتوب وکړی۔ هغه خاورې ایرې شول څکه چې هند اؤ اسلام آباد کښې صدر بش د کشمیر نوم قلرې هم وا نهٔ خستو۔ چې واضحه مطلب ئې دا دے چې امریکا د پاکستان په ځاے هند ته فوقیت ورکوی اؤ دا چې د کشمیر مسئله دې دواړه هېوادونه تر خپل منځه

حل کړی۔ د دې دورې په تناظر کښې کۀ د نوی واقعاتو جاج واخلو نو دوه خبرې اهمې د مارچ په میاشت کښې را منځ ته شوې، یوه دا چې جنرال مشرف په هند تور ولګولو چې هند افغانستان کښې د خپل سفارت اؤ قونصل خانو د لارې بلوچستان کښې لاس وهنه کوی اؤ بله دا چې د هند صدراعظم من موهن سنګهه وړاندېز وکړو چې کشمیر کښې دې د هند اؤ پاکستان د مشترکه انتظام بندوبست وشی چې د کنټرول کرښه د منځه ولاړه شی۔ (د دې ټکوتر لیکلو د پاکستان خواب نۀ دے څرګند شوے)۔

اوس یو طرفته کۀ وګورو نو په پاکستان خارجی فشار دومره سیوا شوے دے چې دې مجبور دے چې هند سره خپلې لانجې حل کړی او د دې د پاره دواړو هېوادونو بې شماره ګامونه هم پورته کړی۔ دې خو بل طرف ته د خارجه دفتر دا بیانونه هم جاری کېږی چې تر څو د کشمیر شخړه نۀ وی هواره ټول اقدامات بې مقصده دی۔ یعنی پاکستان دا وخت ستوان هم خوری اؤ شپیلی هم وهی۔ د حالاتو نه داسې برېښی چې اسټبلشمنټ کومه چې د پنجابی په لاسو کښې ده۔ د ټولو واقعاتو دقیقه جائزه اخستې ده اؤ غواړی چې د خان د پاره د زیاتو نه زیاتې لارې پرانستې پرېږدی۔ هم دغه وجه ده چې ورځ تر ورځه هند سره اړیکی مضبوطېږی خو د دې برعکس افغانستان سره تاؤتریخوالی کښې اضافه کېږی۔

هند سره د مثالی اړیکو جوړولو خوب تل د دې وطن روښان فکره سیکولر اؤ ترقی خوښو خلقو لیدو اؤ اوس هر کله چې دا تعلقات په مثبت لور روان دی نو ټول ئې د زړۀ د اخلاصه ملاتړ کوی۔ خو دا خبره د پښتنو د پاره د تشویش وړ ده چې کومې هلې ځلې هند سره د سفارتی، تجارتی اؤ کلتوری تعلقاتو جوړولو د پاره کېږی هغه د افغانستان په حواله ولې منفی دی۔ د مارچ په اخری هفته کښې د ورلډ سوشل فورم په پروګرام کښې د هند نه راغلو ګڼو لیکوالو، هنرمندانو اؤ سیاستمدارانو برخه واخسته لېکن د افغانستان هېڅ نمائنده نۀ ښکارېدو۔ برسېره د دې نه چې اکثرو وېنا کوونکو (هندیان اؤ پنجابیان دواړه) په حامد کرزی اؤ د هغۀ په حکومت سخت ټکونه وکړل۔ خو د جنرال مشرف اؤ من موهن سنګهه متعلق ئې هاغه الفاظ استعمال نۀ کړل کوم چې ئې د افغانستان جمهور رئیس حامد کرزی په سپکاوی کښې ادا کړل۔ د هند اؤ پاکستان د تعلقاتو په جوړولو کښې یو طرف ته سیاسی مشرانو، پوهانو، لیکوالو، اؤ هنرمندانو مثبت رول لوبولے دے نو بل طرف، ته پاکستانی اؤ هندی اسټبلشمنټ هم خپل کردار تر سره کړے دے، خو سوال دا پیدا کېږی چې د لر اؤ بر پښتنو تر منځه ولې د دې اړیکو جوړولو د پاره څوک ګام نۀ پورته کوی۔ د پنجابیانو کۀ یو بل سره ژبه اؤ کلتور شریک وی خو د پورې اؤ راپورې پنجابیان مختلف مذهبونه لری۔ بیا هم په لاهور، کراچی، امرتسر اؤ دهلی کښې دوی یو بل ته د ګلونو هارونه اؤ پګړی پسروی۔ د پښتنو خو هر څۀ شریک دی نو دوی ولې په پېښور، جلال آباد، کوئټه اؤ کابل کښې یو بل ته هر کلے نۀ وائی؟

حقیقت دا دے چې داسې اړیکی د پاکستان د واکدارې طبقې په حق کښې نۀ دی اؤ دوی ئې کول نۀ غواړی خو د پښتنوخوا قام پرستان ولې په دې معامله خاموشه دی؟

لیکـ: خان زمان کاکړ

قلعه سیف الله جنوبي پښتونخوا

# بلوچ مزاحمتي جنبش او موجوده صورتحال

**بلوچ مشران یوه عجیبه غوندې رویه لري، هغهٔ چې کله هم خبره کوي نو بلوچستان نهٔ یادوي، بلکې یوازې او یوازې د "بلوچ" نوم اخلي، دلته ما ته یو سوال راپیدا کیږي چې کهٔ چرته خبره د هر قام بنځله بنځله ده، نو بیا د "پونم" د جوړېدو څهٔ اړتیا وه او نن ئې کوم رول پاتے دے؟**

نن چې مونږ د پاکستاني سیاست جوشیلا افق ته نظر اچوو، نو بیا هم له دې دومره اوږده استحصال نه باوجود د محکوم قومونو د پنجابي مسلم لیګ او ملا صاحبانو په پنجو کښې پاتې دي۔ د معاشي او مالي بحران په دې انتها کښې هم محکوم قومونه د خپل ذلیل مرتبت د ادراک په ځاے د جذباتي سیاست او جذباتي نعرو په ښکیلاک کښې فعاله ښکاري، نن چې په بلوچستان کښې د ریاستي تشدد او فوځي بربریت په مقابل کښې کوم عوامي مزاحمتي خوځښت له خپلې ابتدائي مرحلې نه د ارتقائي پړاو په دریځو کښې نړیوالي سویې ته ځان ښکاره کوي او بلوچ مزاحمت کار خواکونه د پرنټ او الیکټرانک میډیا له لارې د پنجابي برغلګرتر غوږونو خپل دا موقف برملا رسوي، چې د محکوم بلوچ او پنجابي استعمار تر منځ روانه موجوده شخړه به اخري شخړه وي او دا ځل به ئې یو فیصله کن حل مخې ته راځي۔

دا خبره د یو قومي تحریک ډېرتینګ او مضبوط میکانیزم څرګندوي او د قومي تحریک د بریالیتوب ځانګړې نښه د خلقو په ټولنیز پاڅون کښې پټه ده۔

مونږ چې د ټولنیزې مبارزې د غوره بریالیتوب په حقله فکر کوو نو دا ټول څهٔ نن په بلوچ مزاحمتي پاڅون کښې وینو، کهٔ چرته دا طریق جنبش هم د غسې په خپل حال پاتې شي نو بیا د دې اوږده او پېچلې محکومیت زنځیر له غاړې ویستل څهٔ ګرانه خبره نهٔ ده۔

محکومو قومونو د خپل نجات ذریعه تل په دې ټولنیز مزاحمتي پاڅون کښې لټولې ده:

ظلم پھر ظلم ہے بڑھتا ہے تو مٹ جاتا ہے
خون پھر خون ہے ٹپکے گا تو جم جائے گا

بلوچ چې نن په کوم مزاحمتي پوزیشن کښې ښکاري، دا یقیناً هم د پاکستان بقاء (د دوی په وینا) ته زیان رسوي او کهٔ چرې ورته بنهٔ خبر شو، نو دا ځل ئې شړک

تر "نیا پاکستان" هم قوی معلومېږی، ځکه چې هغه وخت بهرنی لاسونه او پرغلګر په داخلی چارو کښې دومره خواکمن نهٔ وو، لکه نن چې دی۔

نن امریکې او چینې شبکی د خپل (The carrerist war of high class) په پوزیشن کښې ډېرې فعالې دی او داسې برېښی چې دا موجوده صورتحال هم د دوی زېږنده دے او دوی ئې داسې پړاؤ ته رسول غواړی، د کوم د لاندې چې ګران افغانستان وران کړے شو۔ خو دلته بلوچ عوامی مزاحمت صورتحال دې ته نهٔ پرېږدی، چې پکښې سامراجیت اباد شی بلکې هغهٔ ټول څهٔ د خان په ګټه تمامولے شی۔

او دا بغاوت یو قام ته انقلابی تاج پسروی۔ کله چې یو د غسې انقلاب د بریالیتوب پړاؤ ته رسی، نو دا انقلاب یوه تاریخی بنه خپلوی او د راروان وخت لپاره یوه سبق اموزه څېره پرېږدی۔

د بغاوت انجام او د دې دار تماشه کهٔ څوک کول غواړی، نو هغوی به ارو مرو د بلوچستان د سترګو سره ګوری، چې هم پکښې د زرګونو شهیدانو، غازیانو، انقلابیانو یادونه راتازه کېږی او هم پکښې د دې د محکومیت، قومی تحفظاتو، صوبائی خودمختاری، په خپلو وسائلو خپل اختیار او جمهوریت غوښتنه ډېره څرګنده ده، بلوچ خو بیا هم په بلوچستان کښې د خپل

**مونږ چې د ټولنیزی مبارزې د غوره بریالیتوب په حقله فکر کوو نو دا ټول څهٔ نن په بلوچ مزاحمتی پاڅون کښې وینو، کهٔ چرته دا طریق جنبش هم د غسې په خپل حال پاتې شی نو بیا د دې اوږده او پېچلی محکومیت زنځیر له غاړې ویستل څهٔ ګرانه خبره نهٔ ده**

په پاکستانی تاریخ کښې بلوچستان پنځهٔ ځله د فوځی یلغار او تسلط د لاندې ساه اخستې ده، دا مهال هم د حکومت له خوا خپله رویه بدله شوې نهٔ ده، حکومت ها غسې د ماضی په څېر د خپل ناپایه طاقت مظاهره کوی، البته دا ځل چې د نورو دورونو په پرتله کوم ځانګړے بدلون لیدلے کېږی، نو دا ټول د عوامی قوت زېږېدلے دے، هم دې قوت د بلوچ قومی تحفظاتو له منځه وړلو لپاره د "بلوچ لبریشن آرمی" څېره خپله کړه، چې په خپل تنظیمی چوکاټ یا اېجنډې کښې ټول بلوچ قوم راانغاړی، دا وخت د صوبائی خودمختیاری، جمهوریت او نورو حقوقو مسئلې یوازې او یوازې د قامی ازادی په نوم ختمې شوی دی او چې کله خبره د قامی ازادی راځی نو هغه وخت له ریاستی قوانینو او اصولو نه برملا بغاوت کېږی

قامی مزاحمتی تحریک ابتداء وکړه، خو پښتون اوس هم په دې صوبه (بلوچستان) کښې ها غسې اودهٔ پروت دے، بلوچ مشران یوه عجیبه غوندې رویه لری، هغهٔ چې کله هم خبره کوی نو بلوچستان نهٔ یادوی، بلکې یوازې او یوازې د "بلوچ" نوم اخلی، دلته ما ته یو سوال راپېدا کېږی چې کهٔ چرته خبره د هر قام بنهله بنهله ده، نو بیا د "پونم" د جوړېدو څهٔ اړتیا وه او نن ئې کوم رول پاتے دے؟ چې هسې ئې جذباتی سیاست ته ملا تړلې ده، مونږ خو تر اوسه هم د دې کومه تعمیری سرګرمی وو نهٔ لیده۔

نن بلوچ لیډران د بلوچ خود مختاری لپاره راپاڅېدلی دی، خو د پښتنو دعوېداران۔ دلته یوه خبره ډېره څرګنده ښکاری، چې د بلوچستان په دې پښتنې سیمه کښې چې د کوم قوم پرست سیاست دعوې کېږی، د دې

ټولو تعلق یوازې او یوازې له خبرو سره دے:

تم خوش رہو ہماری دعا ہے تمام عمر
اپنی تو خیر جیسی بھی گزری گزر گئی

د بلوچستان پنځمه شخړه اوس څۀ باندې دوه کلنه شوه، خو د 10 اپرېل 2006ء په ټولو ورځپاڼو کښې دا خبر په هېډ لائنز باندې راغلو چې حکومت ته څرګنده شوه چې بی ایل ای یو دهشت ګرد تنظیم دے۔ باغی بلوچیان نن دهشت ګردان شول۔ خو خبر دا د قومی تحریک ځانګړی برخې دی۔

وریسی په دې بله ورځ د "شیخ رشید عفی عنه" بیان راغلو جبه کار کوی، نو د ټولو سترګې پټې او لاسونه تړلی دی۔ د هر اخبار مین سټېټ منټس یا خو د وزیراعلیٰ صېب او ګورنر صېب وی او یا د هیروئن او چرس سره د ګرفتار شوو ملزمانو تصویرونه او رودادونه وی۔ سړے داسې فکر کوی، چې دلته بې له هیروئن کلچر او چرس کلچر نۀ سیوا بل کوم شے نشته۔ دلته د بجلی د مشکلاتو له کبله د عامو پښتنو رویه دومره سخته شوې ده چې هره لمحه بلوچ قوم د ښکنځلو په سوغاتونو نمانځی۔ دلته په مېډیا تل دا تاثر ورکولے کېږی چې دا تخریبی کارونه ټول د بلوچیانو له خوا تر سره کېږی، نن کۀ مشرف اېنډ کو د

**بلوچ خو بیا هم په بلوچستان کښې د خپل قامی مزاحمتی تحریک ابتداء وکړه، خو پښتون اوس هم په دې صوبه (بلوچستان) کښې هاغسې اوده پروت دے**

چې د مذاکرات وخت تېر شو او مونږ به دهشت ګردی له جرړو وباسو، بګټی او مېنګل به په مناسب وخت نیولے کېږی۔

اوس قیصه ډېره بل شانتې رخ ښکاره کوی۔ چرته د شیخ صېب دا مؤقف چې د مذاکرات وخت تېر شوے دے او چرته د امریکې اخبار "نیویارک ټائمز" دا مطالبه چې صدر بش دې مشرف په دې خبره رضا مند کړی چې د بلوچستان د مسئلې د حل په ړومبنی قدم کښې دې دې صوبې ته وسیع خودمختاری ورکړې شی۔

څو ورځې وړاندې حکومت په کراچی کښې د اختر مېنګل په کور چهاپه ووهله او د هغوی څو محافظان ئې ونیول او د دې اقدام د رد عمل په توګه په بلوچستان کښې احتجاجی لاریونو نه او هړتالونو دوام لری، د بجلی بشپړ سپلائی له تېرې یوې میاشتې منقطع شوې ده۔

بل خوا په بلوچستان کښې چې کومه صحافتی سلو کالو په مسلم لیګ + انګرېز مخلوط جدوجهد جوړ شوے ملک پاکستان په پنځوس کاله کښې دوه ځله ماتوی، نو د دوی له قبرونو نه به ختمی دا غېږ راپورته کېږی:

ہم کو ان سے وفا کی ہے امید
جو نہیں جانتے وفا کیا ہے

خو نن باید ټول سترګور خلق د سائل صېب په دې شعر عمل وکړی:

اې شاعرانو! د قلم په ازادۍ مئینو
حال د بلوچو ماشومانو د سلګو ولیکئ

☆☆☆☆☆☆☆☆☆

لیک: اکرم مبارز

قلعه سیف الله جنوبی پښتونخوا

# مزاحمت یا مصلحت

کهٔ محکوم افغان په 1947ء کښې ازادی تر لاسه کړې وې۔ نن به مونږ د ژوندانه په داسې درشل کښې ولاړ وو۔ کهٔ نړی ځینی قامونه دا اعلان کوو۔ چې مونږ اہتمی قوت یو۔ مونږ اقتصادی قوت یو۔ خو پښتون افغان به دا اعلان کوو چې زمونږ په وطن کښې غربت له منځه لاړو۔ زمونږ قام په سل کښې سل تعلیم یافته شو۔ په وطن کښې بې روزګاری نشته

د محکومو قامونوپه ژوند کښې داسې پړاؤ نه راځی۔ کهٔ محکوم قام اؤ قامی تحریک په هغه پړاؤ پوهه نشی خو د مصلحت لیار خپله کړی۔ نتیجه داشی چې قام له بد ترین شکست سره مخامخ شی۔ ځکه دغه پړاؤ د مصلحت نهٔ وی۔ بلکې قامی تحریک له د خپل هدف د پاره فیصله کن کردار ادا کول پکار دی۔ ځکه کهٔ یو ډرائیور غلطی وکړی، موټر وجنګوی۔ په نتیجه کښې پنځه یا لس کسان مړهٔ شی۔ یا لس کورنی خوارې شی۔ خو کهٔ یو سیاسی تحریک یا لیډر تیروتنه وکړی۔ نو هغه ټول قام له مرګ سره مخامخ کړی۔ د محکوم افغانِ په تاریخ کښې داسې ډیر پړاؤنه راغلل کهٔ له هغه بهیر ځخه قامی تحریک موثره ګټه تر لاسه کړی وے زهٔ ګمان کوم، هم به محکوم افغان نن آزاد ژوند کولو اؤ هم به ازاد افغانستان له داسې خطرناک حالت سره نهٔ مخامخ کیدے۔

لکه څنګه چې تیر شل دیرشو کالو کښې مخامخ شو کهٔ محکوم افغان اؤ قامی تحریک په هغه بهیر کښې چې فرنګی له هندوستان ځخه وتو۔ زمونږ د غلامی واګی د فرنګی په ځاے د پنجابی استعمارګر په لاس کښیوتی۔ محکوم پښتون په هغه وخت کښې ازادی ته نزدې وو۔

په کار هم دا وو چې قامی تحریک خپله غلامی چېلنج کړی وے۔ اؤ له هغه قسم ازادی ور په برخه کړی وے۔

خو قامی تحریک ښکار شو۔ د دې خبرې پخلې ستر پښتون رهبر خان عبدالولی خان هم په خپل کتاب (رښتیا رښتیا دی) کښې کړی دی۔ هغه والی چې په دغه مرحله کښې چې پاکستان جوړیدو خدائی خدمتګار یا قامی تحریک د مسلم لیګ په مسلمانی تیروتو۔ د تحریک د تیروتنې پالله دا شوه چې په پښتون قام اؤ قامی تحریک باندې نوی بادار هغه عذاب نازل کړو چې مونږ اؤ تاسو د هغه تصور هم نهٔ شو کولے۔ له 1947ء ځخه بیا

تر 1971ء پورې پښتون قام او قامي تحريک خپله مبارزه جاري وساتله او تر 1971ء پورې د بنګالي په شان مزاحمت ته ځان برابر کړی۔

بنګالي قام او قامي تحريک د مصلحت لاره زده کړه۔ د مزاحمت لاره ئې خپله کړه۔ نتيجه ئې ازادي او ازاد بنګله دېش شو۔

مونږ يو ځل بيا د مصلحت لاره خپله کړه په نتيجه کښې پښتون هغه شان تقسيم او بې اختياره پاتې شو۔ زمونږ قامي دښمن پنجابي نور هم ځان مضبوط کړو۔ او د خپل استعماري رياست بنيادونه ئې نور هم پاخه کړل۔ او د خپل استعماري رياست پراخېدو اراده ئې وکړه۔ چې ازاد افغانستان هم د خپل رياست پنځمه صوبه جوړه کړی۔ افغان ثور انقلاب چې د افغانانو د ښه سباؤن ضامن وو۔ په خلاف ئې سامراجي او غاصب قوتو په مرسته خونړی جګړه پېل کړه۔ نتيجه ئې دا شوه چې په لکونو افغانان ووژل شو۔ او افغان مملکت له منځه لاړو۔

هغه په وطن منېن او ننګيالي قام په سوالګر قام بدل شو۔ ننګ او ناموس ئې د جهان په هره منډهي کښې خرڅ شو۔

زهٔ داسې ګمان کوم کهٔ محکوم افغان د 1947ء او 1971ء په پړاؤنو کښې د خپل هدف د پاره ګټلي ګامونه، موثره ګامونه، اخستي وی۔ هم به ازاد افغانستان له داسې تاريخي ناوړه حالت سره نهٔ مخامخ کېدو۔ او هم به مونږ خپله ازادي تر لاسه کړې وې۔

ازاد افغان هم په داسې تاريخي پړاؤنو کښې چې د محکوم افغان په ژوند کښې راغلو خپل رول په ښهٔ توګه نهٔ دی ادا کړی۔

کهٔ محکوم افغان په 1947ء کښې ازادي تر لاسه کړې وې۔ نن به مونږ د ژوندانه په داسې درشل کښې ولاړ وو۔ کهٔ نړی ځينی قامونه دا اعلان کوو۔ چې مونږ اېټمي قوت يو۔ مونږ اقتصادي قوت يو۔ خو پښتون افغان به دا اعلان کوو چې زمونږ په وطن کښې غربت له منځه لاړو۔ زمونږ قام په سل کښې سل تعليم يافته شو۔ په وطن کښې بې روزګاري نشته۔

د يو ازاد قام په حېث به مونږ د انساني نړی د بقا لپاره له ازادو قامونو سره داسې لوط نامې "معاهدې" کولې۔ چې د انسانيت ژغوزنه پکښې وشی۔ خو مونږ له مصلحت ځخه کار واخستے۔ نتيجه نن زمونږ د غلامي انتها دا ده چې په لکونو پښتانهٔ د خپل پلار، مور، يا خور زهٔ په جنازه کښې شرکت نشی کولے۔ کهٔ يو وروړ د خپلې خور په جنازه کښې د غربت له لاسه ګډون وو نهٔ کړی۔ په داسې حالت کښې غلامي لښکر کوی۔ خو د قدرت فېصلې بل شان وی۔ چرته چې ګرمي زياته شی هلته باران وو ورېږی۔

او چېرته چې د ظالم ظلم انتها ته ورسېږی۔ هلته د مظلوم لپاره داسې لارې خلاصې شی چې انساني ذهن ورته حق پق شی۔ په 11 ستمبر په امريکه باندې خونړی حملې وشوې۔ چې پکښې په زرګونو خلق مړهٔ شول۔ د انسانيت له نظره دا پېښه دېره د خواشيني وړ ده خو په دې خونړی پېښه کښې د افغانستان د نيکمرغی راز پټ وو۔

د 11 ستمبر د پېښې په صورت کښې د نړی سياست د افغانستان په حقله تغير وخوړ۔ هغه قوتو چې د نړی په سياست کښې موثره او ژوندی رول درلودی۔ خو د افغانستان ئې له ساړه جنګ ځخه وروستهٔ د ګاونډيو د غوبل ته حواله کړی وو۔

د افغانستان په حقله ئې په خپل سياسي کړنلاره

غور وکړو- اؤ خپله قبله ئې سمه کړه اؤ مجبوراً ئې افغانستان ته د دوستی لاس ورکړو-

د افغانستان په حقله د اقوام متحده تر نظارت لاندې د بون تاریخی کانفرنس وشو- د افغانستان د مستقبل په حقله ستره (Strategy) جوړه شوه- نن افغانستان اولس مشرا اؤ خپلواکه پارلیمان لری- زمونږ قامی دښمن چې په لوګی لوګی فضاء کښې ځان پټ ساتلی وه- ډېر لوڅ شو-

نن هم په استعماری ښار اسلام آباد کښې د افغان اولس د نورې وینې تویولو دسیسی جوړیږی د پاکستان مذهبی کړیو یو ځل بیا خپل تاریخی اونه بخښونکی رول ته ځانونه چمتو کړی دی- په یو داسې وخت کښې چې ازاد افغانستان له تورې ورځې ښخه راوتلی دی- اؤ محکوم افغان مزاحمت ته ځان چمتو کوی- قامی تحریک له په کار ده چې دوؤ خبرو ته ځان چمتو کړی-

لمړی باید قامی تحریک خپل اولس ته نور هم ځان نزدې کړی- له اولس سره جرګې وکړی- پښتانهٔ ټول سیاسی قوتونه له ځان سره ملګری کړی- قامی هدف ته د رسېدو لپاره تر خپل ذات تېر شی- خو یاد ساتل پکار ده- چې تر ذات تېرېدل یوه خبره ده- اؤ تر قامی غوښتو تېرېده بله خبره ده- په قامی اهدافو کښې مصلحت کول تېروتنه نهٔ بلکې له خپل قام سره بې وفائی ده- ځکه مصلحت هغه لفظ دے چې نن ورځ ئې لر اؤ بر افغان له داسې حالت سره مخامخ کړے چې په تاریخ کښې ساری نهٔ لری-

دویم پنجابی لاس وهنه نن ډېره لوڅه اؤ بربنډه شوه- قامی تحریک له په کار ده چې د پنجابی د لاس وهنه په مېړانه مخ نیوی وکړی- کهٔ مونږ د پنجابی مخ نیوی وو نهٔ کړو اؤ افغانستان یو ځل بیا په خونړی جګړه کښې ښکېل شو- نو هغه د ملایانو په شان زمونږ غلامی اؤ بد حالت له ازل ښخه دی نه له دښمنه-

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

## غزل

(ساګر تنقیدی)

اوس مې درست عمر قسم ځکه د کونتون کړے دے
چې د ځوانی خوب مې د عمر په زنګون کړے دے
دا بد نصیب دے چې مې ستا پلونه موندلی نهٔ دی
ګنی نو ما خو په هر سمه غر لتون کړے دے
ما اؤ جانان به یو بل ښنګه ګرموؤ په دې کښې
مونږه په یو کالهٔ اؤ یو کور کښې بېلتون کړے دے
دا پښتانهٔ دی غلامان دی اؤ هم صبر کوی
نور په نړی کښې کوم یو قام داسې ژوندون کړے دے
زمونږ نه نهٔ شی نو مغرب ته لارې ښځهٔ له نیسو
پرېږدی مونږ ډېر کونتون د دغې سباوون کړے دے
مونږ مینه هم کوو اؤ چل د ناکام هم ښهٔ راځی
دغه ښځهٔ ګرانه نهٔ ده کوم کار چې مجنون کړے دے
دا ستا ښو نظر راټول کړو اؤ ما زړهٔ اونیوو
پرانیزه مهٔ سترګې، ایله مې زړهٔ سکون کړے دے
مونږ د ساګر د غورځنګونو په نوم ځکه یاد یُو
ودرېږو نه بس په یوه مخه مو تلون کړے دے

لیک: ولی خان دومړ

# بنګله دیش اؤ پښتونستان

بنګالی د یو ژوندی قام په حېث د خپلې ازادی هڅې شورو کړې۔ پاکستان د دوی په ضد فوځی عملیات پېل کړل۔ جنرل نیازی په بنګالیانو د کفر فتویٰ وزکړه په زرګونو ملایان اؤ اسلامی تندروی له دې ځایه و بنګال ته ورسول شول۔ چې سره کومې د الشمس اؤ البدر ډلې وې۔ د بنګالیانو په ضد جهاد اعلان شوی وو۔ د سپېڅلې جهاد پېل کېدو وو چې ټول بنګال په وینو ولمبول شو۔ د وېرې اؤ ترهې بازار تود شو۔ فضا د وینو اؤ باروتو له بويه ډکه شوه د بمونو چاودنې اؤ ډزې د ژوند برخه وګرځېدې د لمر له پرېوتو سره به پرلارو اؤ کوڅو د مرګ سیوری خور شو۔ د شپې په نیمائې کښې چې به چوپتیا ژوربېده ناڅاپه به چېرې چاودنه وشوه۔ چرې به د مرمیوړ غږونه راپورته شول۔ له دې سره به ژړا وې اؤ اسوېلې ترغوږو کېده۔ په ویرانو کوڅو کښې به د مرګ د قدمو ترپ صفا اورېدل کېده۔ په بنګال کښې د پنجابی فوځ کومندان جنرال نیازی به د البدر اؤ الشمس د ترهه ګرانو انسان وژنه اؤ جنسی تېرې د اسلام بریا اؤ سرلوړی ته به ئې شاباسونه ورکول۔ د الشمس اؤ البدر د ژاړه ماری تر چاړه لاندې راغلیو بې ګوره بې کفنه مړې چې به موندل کېده نو کارغانو اؤ سپوبه خوړل۔ تر څلوېښت زره زیاتې بنګالی پېغلې د پنجابی فوځ د البدر اؤ الشمس د داړه مارانو د مردار هوس ښکار شوې۔ ددې په خواب کښې بنګالیانو د "مکتبی باهنی" په نامه وسله وال جنګ پېل کړو۔ هغه ئې مرسته وکړه۔ یو لک پنجابی فوځ ئې ونیو۔ (په دوی کښې داسې هم بې شمېره وو چې هلته په خپل عمل ورسېدل) هندوپاکستان ته ګوابښ وکړو۔ چې وسله وغورځوه۔ بنګله دېش پربېږده۔ بیا څهٔ وشو۔ د بنګله دېش د پلازمینې ډهاکې درېس کورس وو۔ هغه ډاګرته ولاړ شو۔ چرې چې محکوم بنګالی قام د پنجاب د غلامی زنځیر له غاړې وغورځوه۔ اؤ دی ئې ورباندې زندی کړو۔

د مېلادی کال 1981ء د دسمبر 18 مه نېټه ده۔ هغه درېس کورس ډګر دی۔ چې جناح پکښې غونډه کړې وه۔ وخت دورځې 9 بجې دی د یوې غونډې تیارې روان دی په ډهاکې کښې له ځایه ځایه د ډزو غږونه راځی۔ هغه بې شانه ودانی چې د عظمت نښانی وې۔ ویرانی ښکاری۔ په زرهاوو خلق (ریس کورس) ډګر پرلور روان دی۔ د دوی په لاسو کښې نېزې اؤ په سترګو کښې لمبې دی۔ پنجابی فوځیان په ویره کښې دی۔ دوی د قرارګاوو په خواران دی۔ هلته به له دوی څخه وسله اخستل کېږی۔ د ټولو سترګې د هندی فوځ ته ځارنې لاندې د پاکستانی فوځ په ډګر

جنرال نیازی ښځې دی۔ د جنرال سترګې ځړېدلې دی۔ غریبې ژړا اوښتی دی۔ په جنګ کښې د ماتې خوړلو وروستهٔ پنجابی فوځ خپل راتلونکی ته په ویره کښې دی۔ له ښاره د راتلونکو خلقو ګڼه ګوڼه وار په وار ډېرېږی۔ د ژوندی دې وی اؤ "جی هند" نارې دی۔ په هندی فوځ د ګلونو باران لګ ټېز شوی دی۔ ډګر جنرال جګجیت سنګهـ، اروړا په چورلکه (هیلی کاپټر) کښې رارسېدونکی دی۔ د ډاکې هوائی ډګر د هند د شپې ورځې له بمبار څخه په بشپړه توګه وران شوی دی۔ پروران هوائی ډګر چورلکه کوزه شوه۔ د لوېدیزی جهبې قومندان جنرال اروړا ځینې راکښته کېږی۔جنرال نیازی ستړی مشی ورسره کوی۔ شورلېټ کار نزدې ولاړ دی۔ د واړه ورځېڑی د (رېس کورس) ډګر د دوی منزل دی۔ اوس د ورځې 9 بجې اؤ 10 بجې دقیقې دی د هند د کومندان لخوا د ورکړل شوی۔ الټی مېټم وپائی ته په رسېدو کښې فقط دقیقې پاتې دی۔ د هند اؤ پاکستان وخائی کومندانو ته یو تړون لاسلیک کول دی۔ د (رېس کورس) ډګر شاؤخوا هندی فوځ پراؤ اچولی دی۔ په ډګر کښې دننه زرګونه بنګالیان د وسلې اېږدلو ننداره ته راغلی دی۔ د ډګر په منځ کښې د لرګیو یو ساده غوندې مېز پروت دی۔ چې دواړو خواؤ ته ئې ئې هندی سرتېری اؤ څارندویه ډلی په لیکه کښې ولاړ دی۔ د مېز چاپېره اول جنرال ارواړ اؤ سره په جنګ کښې جنرال نیازی ناست وی۔ هغه چپ اؤ څهٔ خفه دی۔ د ورځپاڼو اؤ راډیوګانو خبریالان راغلی دی۔ د وخت په پوره کېدو تړون لاس لیک شو۔ پاکستانی فوځ وسله واچوله۔ جنرال عبدالله خان نیازی خپله توپانچه اؤ کمربند جنرال ارواړا ته ورکړل۔ اؤ د کار پرلور روان شو ۔ په دې حال کښې د خلقو له منځه یو سړی رامنډه کړه۔

جنرل نیازی ئې په سریه چوټه وهو۔ یو چا د شا لخوا لخته پسې ورکړه۔ جنرال نیازی لاندې وغورځېدو اؤ د کار په دراوزه کښې ونښت، نزدې د انټرکانټی نېنټنل هوټل د لوړ پورې ودانی په سر د پاکستان بېرغ د پرېوتونکی لمر په ژړا ژړا رڼا کښې په کوزېدو شو۔ اؤد بنګله دېش بېرغ لوړ په ختو ـــــ د څلورنیمو بجو وخت وو۔ لوېدیز پاکستان نړېدلی وو۔ خاورو په امبارې په بنګله دېش کښې یو باغ (غېږ) (بنګله بندهو) دا د شېخ مجیب الرحمان ړغ وو۔ د بنګالی قام د مشر اؤ لارښود چې په سر ئې د ازادی، لمر برېښیے دے۔ اؤ په رڼا کښې ئې بنګالی قام تودوالی اؤ توان احساسه وه۔

وړی تېری لڅ خړ بنګالی خپله خاوره د بنګله دېش په نامه د نړی په نقشه ثبت کړه۔ نن یو ځلې بیا حالاتو د 1971ء بڼه خپله کړې ده۔ بلوچیانو د خپلو سیاسی مشرانو تر مشرتابه لاندې خپل سیاسی جنګ په وسله وال جنګ بدل کړے دے۔ خپل غېږ ئې د نړیوالو قوتونو تر غوږو ورسولے دے۔ ښائی چې دوی ډېر څهٔ لاس ته راوړی هم۔ په قبائیلی پښتونخوا کښې روانه لوبه د خان په ګټه ګرځول اؤ له دې څخه د خپلې ازادی د پېلامې جوړولو توان پښتون قام نهٔ لری۔ په څلورو برخو وېشلی پښتون نشی کولې چې د ازاد پښتونستان لیدلی خوب رښتیا کړی۔ په داسې حال کښې چې په نس هم نهٔ وی موړ۔ په پردی مزدوری پسې په کلونو له وطنه ورک وی۔ بله ئې لا دا چې سیاسی پوهه اؤ شعور هم وو نهٔ لری۔ هغه قام به څنګه پښتونستان ازاد کړی؟ دا خوب به تر هغو خپله معنٰی وو نهٔ مومی تر څو چې ـــــ

(۱) پښتون په حېث د قام له چتراله تر بولانه د یووالی مخلصانه هلې ځلې وونکړی۔

(۲) ترڅو چې د دې خاورې د واک واګې د وطن پلورونکو سیاسي ملایانو، خان، ملک او پولیټیکل ایجنټ په لاس کښې وي۔

(۳) ترڅو چې دې د پنجاب او خفیه ایجنسي پښتانهٔ نوکران مخې ته ولاړ وي۔ له دې څخه د خلاصون لاره د هغه قامي سیاست ملاتړ کول دي۔ چې له بولانه تر چترال د پښتانهٔ قام د ژبې د یو والي او وحدت، خپلواکې او قامي واک و اختیار د پاره مبارزه کوي۔

کنې د خان د پاره پښتونخوا لیکل، بل پښتون بلوچستان بلل، یا هم د لر او بر یو افغان په نامه له اموتر اباسینه د پښتونخوا ناره وهل بیا ئې (اس پرچم کے سائے تلے ہم ایک ہیں) کونکې سیاست ملتیابه پښتون قام نور هم د خپل منزل څخه پرشاتېل وهي او اخر به ئې د بربادۍ هغې کندې ته غورځوي چې د راتلو هیڅ لاره او لودن به نهٔ لري۔ هو بې شکه لر او بر یو افغان خو په لوی افغانستان کښې۔

د افغانستان د ماتېدو او پاکستان پراخېدو په بدل له اموتر اباسینه پښتونخوا یو پښتون افغان هم نهٔ مني۔ باید له دغه فکره او شعاره لاس واخستل شي۔

ژوندی دې وی د ازاد پښتونستان هیله څو چې

پاته یو افغان وي څو چې دا جهان ودان وي۔

تل به دا افغانستان وي

تل به دا افغانستان وي

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

# بېړه

(سراج محمد افریدے)

ګوره معموره هغه بېړه د درمند په سر کښې چې په ټالو به مونږ د یو بل سره جنګ کولو زهٔ به په منډه چې د ستا نه مخکښې اوررسېدم ټال کښې به کښېناستم او پرې به مې غبرګ اونیوهٔ تهٔ د غصې نه به په تیګه نمر ته کښېناستلې ما به سندره د خپل ځانه سره اونیوله تا به د نازه په غوړونو کښې بیا ګوتې ورکړې زهٔ به د دې ادا په زړهٔ باندې سورے سورے کړم پاس به د ونې پله ما اسویلے اوېکلو هغه سرې بېرې چې ایله به په تنکی څوانې وې د اسویلو د ډېره تاوه به سرې اوتختېدې بیا به چې ستا یو سرسری نظر په ښاخ پرېوتو بیا به بلا ګیتې دې تا دې ګوتو اورېده زما خر پر تندے به هم پکښې په وینو سور شو خفه خفه سلګو نیولے به د ټال راکوز شوم د ونو پانې به مې بیا د سر په زخم کېښوې تا به په منډه را نه بیا هغه ټال وونیولو

بیا په خندا کښې په د ټال نه دې یو غېږ نعره کړه دغه ادا د جرګېدو دغه انداز څنګه رو

لیک: منیر حسین طوری

# هنګو د اور په لمبو کښې

د هنګو د عاشورې د پېښې یو سی ډی کېسټ تر لاسه شوے دے چې پکښې په حاتمی جلوس کښې یو ناپېژنده شل کلن دنګ شانې ځوان ښودلے شوے دے چې د ورمېږ نه لاندې ئې په تور څادر کښې ځان انغښتے دے خو د شیعه وګړیو په شان سینه کوبی نۀ کوی بلکې په بېړنی طور اؤ زر زر اخوا دېخوا ګوری چې ورپسې یو څو منټه یوه زورداره چاودنه کېږی خو د چاودنې سره سم یو څو هوائی ډزې هم کېږی۔ داسې معلومېږی چې نوموړے شکمن زلمی د سټېج سره جوخت د هغه وخت انتظار ویستو چې د هنګو ټول جلوسونه هلته وررسی خو غالباً د نزدې خلقو شک کېدو سره هغۀ د وخت نه مخکښې ځان الوځولے وی۔ بس بیا څۀ وو چې هنګو د اور په لمبو کښې وو اؤ په سلګونو دکانونه خاورې ایرې شوی وو چې د ایم پی اے عتیق الرحمان په قول ټول ټال یونیم اربه نقصان حساب شوے دے۔

د ایم ایم اے یو مشر د خورشید انور جوادی په قول د چاودنې سره سم هوائی ډزې اؤ بیا په ابراهیم زو د لشکر کشی خبره د دې ثبوت دے چې د هنګو خودکش چاودنه یو سازش وو اؤ ځنی مقامی خلق هم پکښې برابر شریک وو۔ د هنګو ضلع ناظم خو دا هم وئیلی وو چې د حالاتو د نزاکت په محسوسولو سره ما د هرې بدې پېښې د امکاناتو څخه د صوبه سرحد د کورنیو چارو مسئولین د مخکښې نه خبر کړی وو خو هغوی پوزه نۀ رپوله، نو اوس سوال راپورته کېږی چې حکومت اخر د دې سازش د مخنیوی د پاره ولې څۀ اقدامات وو نۀ کړل۔

د هنګو د خودکش چاودنې سی ډی کېسټ په پاکستان کښې دومره زیاته ویوړل شوه چې دا یو تاریخی ریکارډ دے۔ د کرمې د کملزو د سهارا سی ډی منټر مالک اؤ چلونکی عاشق حسین ووئیل چې ما د علی زو غوندې په واړه سټېشن کښې هم قابو دوه زره سی ډی کېسټونه ویستی دی۔ نو په ټول پاکستان کښې به نوموړے کېسټ د یو لکھ نه هم زیات وتلے وی۔

داسې خبرونه هم شته چې د ځان وژونکی ځوان ککری په سمدستی توګه د کوهاټ ائیرپورټ کښې د FBI مامورینو ته سپارلے شوې ده۔ چې هغۀ د یو څوورځې پس هلته د یو عمارت د چت نه تر لاسه شوې وه۔

خو تر اوسه نۀ خو دپلټنې نتیجه تر لاسه شوه اؤ نۀ خو د پاکستان پولیسو لخوا د ځان وژونکی کوائف په ګوته کړے شول۔ حالانکې په هم دغه هنګو کښې د پاکستان د پولیسو د تربیت یو لوې مرکز هم دے۔ دلته یوه نقطه دا هم د غور وړ ده چې د طالبانو حامی اؤ د پاکستان د قامی اسمبلی پخوانے غړے جاوید ابراهیم پراچه خو هسې د اخبارونو له لارې ډېرې ډرکې ورکوی، یو غر بل غر سره وولی اؤ د سر تېرو بریدونو په شمول د طالبانو اؤ القاعدې د هر اقدام تائید کوی خو کوهاټ ته د FBI د مامورینو په راتلو سره مونږ ګورو چې هغۀ په هغو د توپک چرخ هم ونکړو۔

د هنگو پښور روډ سنسان دے، اؤ کافی وخت نه د هنګو خلق په ویره کښې دی، هر څوک تر اوسه چرته د تګ راتګ نه ځانونه ژغوری۔ د خلقو لخوا په حکومت اؤ په پولیسو د هغوی باور ختم دے۔ حکومت تر اوسه پواځې د دې حالاتو تماشه کوی ځکه د حالاتو د لا خرابېدو ویره د هنګو په درودیوار کښې یو سړے ډېر په اسانه محسوسولے شی نو اخر نور به څۀ کېږی چې دا به د وخت سره معلومېږی۔

د هنګو د سنی سپریم کونسل مشر د مولوی عبدالله په مشری کښې یو شخصی توګه د عوامو په مرسته د یو متبادل روډ جوړول هم پېل شوے دے۔ چې دا به د مقامی شیعه ابادی نه غړېدلے سړک وی۔ د سړک جوړول یو خوا کۀ ډېر ښۀ کار دے خو د ځنی پوهو کسانو په قول د دې منفی اثرات هم د چا نه پټ نۀ دی ځکه چې دا به په نزدو کښې د هر دواړو خواؤ په منځ کښې د خلیج د لاسېوا کېدو سبب هم وی۔ ځکه خو خلق حېران دی چې د حکومت د غېر ذمه داری لړی به تر کومه دوام کوی؟

دلته د دې خبرې کول هم مناسب دے چې د هنګو شیعه سنی ابادی د صدو صدو څخه نۀ پواځې خپلوی اؤ رشتې لری بلکې د پولو پټو په معاملو کښې هم د یو بل سره تړلی شوی اؤ منسلک دی۔ خو ځنی بې ایمانه خلق یا مشران د دوی دغه ورورولی نۀ شی لیدے اؤ کوشش کوی چې هنګو د اور په لمبو کښې وی اؤ خپلې ذاتی ګټې تر لاسه کړی۔

د هنګو خلق د هنګو په معامله کښې په روان غفلت نۀ پواځې د ایم ایم اے صوبائی حکومت تورنوی بلکې په صدر جنرل پرویز مشرف هم سخت تکونه کوی۔ دې تضاد ته خو غور کونکی لا حېران دی چې د هنګو د پېښې مړیو ته یو یو لکهـ اؤ ژوبلو کسانو ته د پنځوس پنځوس زره روپو د معاوضې اعلان کړے شوے دے خو بل پلو د کراچی د نشترپارک د عید میلاد النبیؐ په جلوس کښې د بم چاودنې مړو ته درې درې لکهه اؤ ژوبلو کسانو ته د پنځوس پنځوس زره روپو د معاوضې اعلان شوے دے۔ د یادولو وړ دے چې په یولسم اپرېل د نشترپارک په چاودنه کښې د سنی تحریک د لس مشرانو په شمول ټول ټال اوۀ پنځوس کسان په هلاکت رسېدلی وو اؤ په درځنو زخمیان هم شوی وو۔ د حکومت لخوا په سندهی اؤ پښتون کښې د امتیاز د پاره دې نه علاوه یوه دغه خبره هم یو ژوندے ثبوت اؤ مثال دے۔ چې د کراچی د نشتر پارک په پېښې د بیان جاری کولو سره صدر جنرل پرویز مشرف وزیرداخله افتاب شېرپاؤ اؤ د مذهبی چارو وزیر اعجاز الحق هم هلته د خواخوږی د پاره ولېږل خو د دریو میاشتو د تېرېدو باوجود هغوی د هنګو د شخړې په باب هډو بیان هم جاری نۀ کړو۔ چې دا هم د حکومت د امتیاز سلوک یو غټ ثبوت دے۔ د ایم ایم اے صوبائی حکومت خو په اوائلو کښې د هنګو د متاثره سوداګرو د پاره د شل زرو څخه تر یو لکهـ روپو پورې د قرضې ورکولو اعلان کړے وو۔ خو نۀ پواځے هغه پېکج رد کړے شو بلکې د هنګو ضلع ناظم غنی الرحمان خو هغه د هنګو عوامو سره یو رېشخند ګڼلے وو نو اخر کار صوبائی حکومت ایله د 36 کروړو پېکج اعلان وکړو۔ خو د متاثرینو د خفګان د لرې کېدو خبره اوس هم ډېره لرې ده۔ ځکه چې د شوی نقصان په مقابل کښې نوموړے پېکج ډېر کم اؤکمزورے دے۔ د یادولو وړ دے چې دغې پېکج نه به مړیو اؤ ژوبلو ته د اعلان شوی امداد ورکولو

سره سره د هنگو متاثره سوداگرو ته د قرضې په شکل کښې مناسب مدد ورکولے شی۔

د ایم ایم اے مشران به پښور کښې خپل صوبائی حکومت یو مثالی حکومت یادوی خو دهنگو واقعې څخه ئې تر اوسه پرده پورته نۀ کړې شوه۔ د ایم ایم اے مشر اؤ قائد حزب اختلاف مولانا فضل الرحمان بی بی سی سره د یوې مرکې کولو په ترڅ کښې د نشترپارک په پېښه د سندهـ صوبائی حکومت نه د مستعفی کېدو غوښتنه وکړه خو د هنگو په پېښه ئې د صوبه سرحد صوبائی حکومت تر اوسه رټلے هم نۀ دی۔ چې دې سره د ایم ایم اے د مشرانو اصل څېره د خلقو په وړاندې کېږی۔

د هنگو ضلع ناظم غنی الرحمان په یو اخباری بیان کښې دا هم وئیلی وو چې دۀ د هنگو پېښې په حقله اعلیٰ اؤ متعلقه حاکمان د مخکښې نه خبر کړی وو۔ خو هغوی هېڅ توجه وو نکړه نو اوس هم چې څوک د صوبائی حکومت غفلت ته غفلت نۀ وائی نو څۀ به وائی!

د اورکزی ایجنسی څخه د شیعه سنی مشرانو د دولس کسیزی جرگې لخوا د خبرو اترو څو څو مرحلې ترسره شوې خو تر اوسه ئې نتیجه نۀ ده ورکړې۔ مگر دې سره سره یو څو داسې واقعات هم مخې ته راغلی دی چې کۀ حکومت د چشم پوشی لړی نوره هم جاری وساتی اؤ زرترزره د شخړې د ختمولو کوششونه وو نۀ کړی۔ نو د علاقې د لا خرابېدو امکانات موجود دی۔ د یو خبر تر مخه یو داسې شکمن زلمے هم نیولے شوے دے چې د پولیسو په قول هغۀ په هنگو کښې یو سنی جومات ته د بم د اچولو په نیت روان وو۔ خو ورسره په کاهی کښې د وسلې دوه سوداگر هم گرفتار کړې شوې دی۔ چې په لویه پېمانه ئې د هنگو ښار ته د تخریب کاری په نیت غټه اؤ خطرناکه اسله رارسوله۔ مگر د هغوی دغه منصوبه په مکمله توگه شته کړې شوه باید چې د هنگو خلق د حالاتو د نزاکت په محسوسولو سره په خپله د امن و امان د قائمولو په خاطر کار وکړی۔

د هنگو د عاشورې پېښې سره سم د صوبه سرحد وزیراعلیٰ اکرم خان درانی د هائی کورټ، د یو جج جسټس فضل الرحمان په مشری کښې یوه انکوائری هم شروع کړې وه چې د پېښې اصل عوامل خلقو ته په گوته کړی اؤ نور ککړ کسانو ته د عبرت نه ډکه سزا ورکړی۔ نو د خبرونو تر مخه هغه انکوائری اوس تکمیل ته رسېدلې ده اؤ په یو څو صفحو مشتمل د انکوائری دغه رپورټ وزیراعلیٰ ته هم استولے شوے دے۔ مگر د خبرونو تر مخه بیا هم د پېښې عوامل په صیغه راز کښې د ساتلو وئیلے شوی دی۔ اؤ څو پورې د دې پېښې د عواملو منظرعام ته راوړلو خبره ده نو نۀ یواځې د هنگو د پېښې بلکې د دې نه ورته د هېڅ یوې پېښې عوامل به په گوته نۀ کړے شی اؤ نزدې د پاکستان د مرگ پېښه به هم بس دغه رنگ په پردو کښې وی۔

دلته دا یوه خبره کول مناسب گنم چې کۀ د هنگو اؤ د کراچی د نشتر اباد چاودنې وی یا د وزیرستان اؤ بلوچستان کړکېچن حالات، په خیبر کښې د مفتی منیر شاکر اؤ د پیر سیف الرحمان د عقیدتمندو تر منځ د قتل مقابلې لړی وی اؤ کۀ په باجوړ باندې د امریکا وحشیانه بمباری نو دغه واړه پېښې را په گوته کوی اؤ هغو تجزیو ته تقویت ورکوی چې پاکستان گوندی په نزدو کښې تحلیل کېدونکے دے۔

☆☆☆☆☆☆

ساگر تنقیدی

# کراچی کښې د پښتنو هلې ځلې

کراچی د پاکستان تر لوی او د سندهـ مرکزی ښار دې تاریخی قدامت ئې لرغونی نهٔ دی کهٔ څهٔ هم دا وخت د سمندر په غاړه وی ځکه یو خاص تجارتی او فوځی اهمیت لری تر دې پخوا د سندهـ بندرګاه جهرک نومې ښار وو چې سمندر ته نزدې او د اباسین په غاړه اباد وو او هم به له دې جهرک څخه تر پهبنور پورې مانګیانو (ملاحیانو) د اوبو سفر کله چې د بمبی او کلکتې سوداګرو سندهـ کښې استوګنه شروع کړه ـ دا ښار ئې اباد کړو دې سوداګرو به هغه ګاډی د مالونو وړلو او راوړلو لپاره استعمالولو کوم چې په حیوانانو پورې تړل کېدو دی ګاډو ته په پښتنو کښې کراچی وئېل کېږی ځکه د دې ښار نوم هم کراچی شوه په دې لړ کښې یوه دلچسپه خبره درته منکشف کوم چې د سندهـ توری د پښتو له سیند څخه اخذ شوی دی چې دریا په معنٰی تر اوسه په پښتو کښې ژوندی دی او له سندهـ څخه د سینه توری اخذ شوی دی چې هندوستان په نامه مشهور ملک دے او اباسین (دریائے سندهـ) ته په انګرېزی کښې انډس وئېل کېږی چې د انډیا نوم ور څخه جوړ شوے دے۔

له سندهـ سره د پښتنو ډېر لرغونی تهذیبی معاشی او کلتوری اړیکی دی او تر اوسه ښته دا وخت کراچی کښې پنځهٔ دېرش لکه پښتانهٔ اباد دی او په سلګونو ابادی نهٔ لری دلته پښتانهٔ له ستونځو (مشکلاتو او مسائلو) سره مخامخ دی او کله چې پنجاب حکمرانانو خپل شریک حکمران هندوستانی پناه ګزینو ته د سندهیانو قومی تحریک وهلو لپاره د دوی په اختیاراتو کښې (زیاتوب) اضافه وکړه له دې سره د دی نسل پرستانو له لاسهٔ له پښتنو سره امتیازی سلوک هم زیات شو۔ پښتونخوا ملی عوامی پارټی سندهـ زون دا ناروا عمل په بار بار غندلی دی او په مختلفو مواقعو د دې خلاف د خپلې خفګانی (احتجاج) اظهار هم کړی دی چا ته چې احتجاج کېدو هغه افیسران په دې ناروا عمل کښې شریک وو بلکې هغهٔ پخپله دا ظلمونه کړی نو ځکه به د احتجاج نظر انداز کېدو تېره میاشت د شهری حکومت د ښار په منځ کښې د سلګونو کالو آباد کلی چې سندهیان د پرېس کلب تر مخ د پارټی مرکزی سیکرټری اکرم شاه لالا صوبائی جنرل سیکرټری حاجی حکیم خان مندوخېل صوبائی معاون سیکرټری سکندر خان یوسف زی صابرین چغرزی او نذرجان خاکسار وېناګانې وکړې دوی په خپلو وېنا کښې ووئېل چې پښتونخوا ملی عوامی پارټی د پښتنو د قومی نمائنده پارټی په حېث د پښتنو جمله

سیاسی معاشی اؤ ټولنیزو (سماجی) ستونځو حل کول خپله سیاسی فریضه گنی۔ د پښتنو وطن په قدرتی وسائلو د پنجابیانو د قبضې په نتیجه کښې پښتانهٔ نورو ښارونو ته د روزگار لپاره تگ اؤ کډه کولو ته مجبور شوی نن پښتانهٔ په خپل وطن کښې دومره گڼه ابادی نهٔ لری لکه چې څومره کراچی کښې خوار اؤ زار پراتهٔ دی کهٔ چیرته پښتنو ته قومی خودمختاری حق ورکړل شی اؤ د دوی په وسائلو دوی ته اختیار ورکړل شی۔ پښتون به په خپل وطن د عزت اؤ خوشحالی ژوند مالکان به شی مگر دا زمونږ د قام بدبختی ده چې د پاکستان له جوړېدلو څخه تر نن ورځې حکمرانان زمونږ دا موقف منلو څخه ډډه کوی اؤ پښتنو سره نسلی اؤ د ژبې په بنیاد تعصب ته ئې دوام ورکړی دی اؤ هر ناجائز ئې خان ته روا کړی دی پښتون چې چیرته آباد دی هغهٔ مختلفو مسائلو ته مخامخ دی د دوی ابادی له هر قسم بنیادی ضروریاتو اؤ سهولیاتو څخه محروم ساتل کیږی۔

کراچی کښې 4500000لاکهه پښتانهٔ اباد دی دا دوی 80 فی صد ابادی د خاص منصوبې لاندې حکمرانانو داسې تقسیم کړی دی چې پښتانهٔ په قومی اسمبلی صوبائی اسمبلی اؤ مقامی حکومت کښې نمائندگی نهٔ کړی پیدا په جهان کښې چې څوک له پارلیمانی نمائندگی اؤ سیاسی نمائندگی څخه محروم وی هغه انسان د هر قسم بنیادی حقوقوله سهولیاتو څخه هم محروم وی څکه نن د کراچی پښتون ابادیانی د څښکلو صفا اوبو محروم دی حالانکې د پښتنو د وطن په اوبو دا کراچی جوړه ده اؤ ټوله کراچی ته د اباسین اوبهٔ د څښکلو لپاره راځی۔ اباسین په اوبو د کراچی کارخانې چلیږی۔ خدای تعالیٰ مونږ ته د اوبو لوی نعمت راکړے دے۔ مگر مونږ خپلو اوبو ته تږی ناست یو سترگې مو ورته ختلی دی۔ چې کراچی کښې د پښتنو ابادیانې تر اوسه اب نکاسی (سیوریج) سسټم نهٔ لری۔

سکول کالج اؤ بنیادی صحت مراکز د کراچی په ټولو پښتون آبادیانو کښې نشته د سنده اصلی مالکانو څخه پښتنو دا دوی په کلو کښې د کور جوړولو لپاره ځکه په قیمت اخستی دی۔ مگر حکومت د تجاویزاتو په نامه د زرگونو پښتنو کورونه په تیره میاشت کښې رنگ (ویران) کړو حالانکې دا ابادیانې د روډ یا دېل ترقیاتی منصوبې په مخ کښې خند هم نهٔ دی دا تیره میاشت چې کوم گوټهو ویران کړل۔ دا ئې صرف نسلی اؤ لسانی تعصب په بنیاد ویران کړل زرگونه پښتنو له دې متاثره شول د هغو د بچو ئې د سر سایه واخسته کهٔ یوه ابادی د ترقیاتی کارونو په مخ کښې وی لکه تېر مقامی حکومت په دوران کښې لیارې ایکسپرېس نوې منصوبه شروع کړه۔ له دې منصوبې چې کوم خلق له هغې منصوبې متاثره شو هغو ته سرکار متبادل ځایونه ورکړل د ملبې قیمت ئې ورکړو هم دا شان د کچی ابادی یا گوټهو متاثرینو ته دې متبادل ځایونه ورکړل شی۔ اؤ هغو ته ملبې قیمت ادا کړی شی تیره میاشت چې حکومت څهٔ وکړل۔ مزید حکومت ته داسې اقدامو اجازه په هیڅ صورت نهٔ ورکوو اؤ نهٔ هغه وخت دے چې ریاستی ادارو څهٔ زرهٔ غواړی له دوی به پوښتنه څوک نهٔ کړی په تېرو وختو کښې د پیپلز پارټی په حکومت کښې د کچی ابادیانو دلیز کوم اعلان کړے وو په هغه دې فوری طور بلا امتیاز عمل وو شی۔ د پښتنو کچی ابادیانې تر اوسه له دې حق څخه محروم دی حکومت دې فوری طور دې مسئلې ته توجه ورکړی

اؤ پښتنو ته دلیز قانونی حق ورکړی دا شان صدر ایمپریس مارکیټ اؤ د کراچی په نورو ځایونو کښې پښتانهٔ تهېلې والا مقامی حکومت اؤ انتظامیه له روزګار څخه بند کړی دی۔ دا د پښتنو معاشی قتل عام دے اؤ صرف دا تعصب په بنیاد دا ناروا له موږ سره کړی حالانکې په بوری بازار کښې د تهېلې والو له لاسه تګ راتګ نهٔ کېږی۔ لیاقت اباد بازار روډ د ی قبضه کړی دی۔ هغو ته هر قسم ازادی ده خکه چې هغه خلق پښتانه نهٔ دی کهٔ چرته د پښتنو تهېلې د ټریفک په مخ کښې یا د خلقو په تګ راتګ کښې خنډوړی بیا دې دوی سره هغه سلوک وشی کوم چې حکومت حېدری مارکیټ، ناظم آباد، کریم آباد اؤ اردو بازار کښې د تهېله والو سره کړی اؤ د هغو په شان دی تهیلې والو ــی د کاروبار لپاره مستقل ځایونه ورکړی اؤ پښتانهٔ تهېلې والا هم داوی سلوک حقدار دی، پولیس اؤ انتظامیه چې له پښتنو سره کومه رویه اختیار کړی موږ په بار بار د دوی ناروا عمل نشاندهی کړې ده مګر د پولیس په وحشت اؤ لوټ مار کښې څه کمې نهٔ دې راغلے۔

د جامعه تلاشی په بهانه د خلقو له جېبونو پېسی وباسی، لوټ ئې کړی ، د شور کولو په صورت کښې په مقدماتو کښې د ملوث کولو دهمکی ورکوی خینی ساده اؤ مزدور پېشه پښتانهٔ بې د څهٔ کړو وړو تهانه کښې بند کړی اؤ ښکاره رشوت ترې نه غواړی کهٔ څوک بالا افیسرانو ته دې ناروا شکایت وکړی۔ د هغه نتیجه داشی چې مزید رشوت یعنی زیات رشوت ترې وغواړی اؤ پولیس اهلکار دعوې وکړی چې دا خبره د بالا افیسرانو په نوټس کښې راله هغه هم ونډه (حصه) غواړی له انسانیت وتلی له کارونه څخه د پولیس والا لاس واخلی اؤ موږ دې دے ته نهٔ مجبورروی چې موږ په هغه تهانه ورشو بیا کهٔ څهٔ پېښه شوه د دې ټوله ذمه واری به په متعلقه پولسی افیسرانو باندې وی۔ د پښتنو په ابادی کښې سکول اؤ کالجونه نشته کهٔ یو پښتون طالب علم د کراچی په تعلیمی ادارو کښې داخله اخستل غواړی هغو په مختلفو بهانو له دې حق څخه محروم کېږی۔

د پښتنو وینو اؤ خولو د کراچی ښار جوړ شوے دے مګر نن په دې ښار کښې هرپښتون ټرانسپورټر ډرائېور اؤ کنډیکټر په معمولی خبره هر څوک ئې ذلیل کوی کنځلې ورته کوی دا یو عام رجحان جوړ شوے دے۔ کهٔ د یو ډرائېور په غلطی چا ته څهٔ تاوان ورسېږی هغه ډرائېور کهٔ هر څوک وی په انتقام کښې د پښتنو ګاډی سېزل کېږی۔ تر اوسه د پښتنو په زرګونو ګاډی سېزل شوی دی۔ انتظامیه تل په دې سترګې پټې کړی دی حالانکې اولس مالی اؤ جانی تحفظ د انتظامیه ذمه داری ده اؤ که داسې واقعاتو کښې د پښتنو ما سوائے د بل چا نقصان ووشی هغو ته فوری طور معاوضه ورکول کېږی مګر د پښتنو نقصانات تر اوسه نظرانداز کړی دی۔ حکومت دې فوری طور هغو پښتنو ته معاوضه ورکړی د چا ګاډی چې سېزل شوی دی اؤ انتظامیه په دې لړ کښې چې کوم سلوک له پښتنو سره کړی موږ د دې په کلکه غندنه کوو اؤ انتظامیه دې پښتنو ته جانی اؤ مالی تحفظ ورکړی اؤ کهٔ موږ پخپله دې ته مجبور شو دا موږ ته څهٔ ګران کار نهٔ دے اؤ دا زموږ تاریخ دے چې موږ د هر چا د ځان اؤ د مال ښهٔ حفاظت کولې شو۔

☆☆☆☆☆☆☆☆

# د یو پاکستاني افسر او د یو افغان مکالمه

یو پاکستانی افسر چې پخپله هم یو پښتون سوچ او فکر لری ځکه نو داسې سوال ئې افغان ملاقاتی ته کېښودو۔ هغهٔ افغان ملاقاتی ته ووې!!!

☆ ما له د دې سوال جواب راکا چې مونږ سره د ژوند ډېرې اسانی شته خو مونږ سره فکر نشته او تاسو سره هېڅ نشته خو فکر در سره شته دا ولې!!؟

☆ افغان ملاقاتی ورته ووې بخښنه غواړم زهٔ د دې پوښتنې جواب نشم درکولې بیا به خفه شې!!!

☆ پاکستانی افسر ورته ووې ما تا ته کنځل هم بخښلی دی خو دا جواب راکا نو افغان ورته ووې!!

☆ ډېره بخښنه غواړم ستا د سوال جواب دا دے چې تاسو د سر نه هډو انسانان نهٔ ئې او سوچ فکر انسان سره وی۔ تاسو انسانان ځکه نهٔ ئې چې تاسو ګاډی او دوه پېسو او چې د خختو حصار درنه تاؤ وی هغې ته انسانیت وایې۔ دا درې واړه ضرورتونه ستاسو نه لرې کا او بیا تاسو انسانان نهٔ ئې۔

دا ستاسو ګناه نهٔ ده دا تاسو سره د برطانیې آقا ظلم کړے دے چې په بدن ئې درله قیمتی پوشاک راچړلے دے۔ خو په غاړه کښې مو د غلامی طوق پروت دے۔ تاسو مونږ ته د کابل پېغور راکوی چې کابل مو درې ورې کړو مونږ وایو تاسو مونږ په قلاره پرېږدی زمونږ د ختو لوټو کابل دے وران شو بیا به ئې خانته جوړ کړو۔

هغه ستاسو غنی خان چې خانته ئې لېونے وئېلو په خپل لېونتوب کښې ئې درنه پناه اخستې وه ځکه ئې درته څو مره ښکلې خبرې کړی دی هغهٔ وائی:

هر تېټو براق دے چې وی سور د محمد په شان
هر سفر کعبه ده چې اوسېږی ابراهیم پکښې
هره لار مکې ته ځی چې نیت دې د مکې وی
هر قبر ګلشن وی چې ورو ورو لېږی نسیم پکښې

☆☆☆☆☆☆



عمر مختار اپریدے د لیکوال د اسلام آباد د پاره نمائنده ټاکلے شوے دے د اسلام آباد لیکونکی او لوستونکی دې د بناغلی عمر مختار اپریدی سره رابطه لری۔

جناح سپر مارکیټ شاپ
نمبر18، بلاک 12، اسلام آباد
فون: 051-2650105
موبائل: 0300-9548133

: شوکت حیات خان

# حمزه بابا مونږ ملامته یُو

**د خپلې حیا اؤ پښتو دلالان شو۔ د بل ډول ته ګلېږو د بل سُرنا ته مو اتڼ اچولے دے۔ مونږه دو مره بې حسه شو اؤ دو مره بنکته راو غورزېدو چې ګلېږو اؤ اتڼ کښې راګېر یو خو دا هم راته پته نهٔ لګی چې ولې**

حمزه بابا خپله یو ځلاند اؤ نامتو شخصیت دے د ټولو د پاره یو Reol Model اؤ بل مشال۔ خپله د خرِ اؤ شارِ خېبرنه راوچت شو په وطنونو خور ورشو هر چا ته ئې خپله برخه ورسوله۔ د نظم و نثر اؤ تصوف په ژبه ئې خپله وینا پښتل کړه پوره ئې کړه۔ خپل یو مقام ئې وموند د غزل بادشاه شو د غزل پلار شو۔ نوے طرز ځانګړی لفظونه، اسلوب اؤ فکرونه ئې راپېدا کړل۔ غزل ئې پښتون کړو تصوف ئې پښتون کړو۔ عشق ئې پښتون کړو، نثر ئې پښتون کړو ، پښتو اؤ اسلام ورسره یو وو۔

حمزه پښتو د دین ایمان نښخه ده
خپل حقیقت ته رسا شوے یم

اؤ هغه خو هډو د پښتنې ابی راوړے نهٔ منی ځوک چې له اسلام بهرته ستون شی نو دغه ئې ثبوت دے د کلکوالی د غېرت اؤ فکر پښتون ئې دو مره خوښ چې:

حمزه سفر کهٔ د حجاز وی نو هم
زهٔ د پښتون د قافلو سره ځم

او بیا په تېره تېره خو د پښتو ژبې سره مینه ئې لاثانی ده:

وائی اغیار چې د دوزخ ژبه ده
زهٔ به جنت ته د پښتو سره ځم

اؤ بیا پښتون قام ته نصیحت کوی چې کهٔ وحدت درسره وی یو موټے اؤ راغونډ ئې نو لکه ونه به په خپل مقام مستقیم ئې

راوړی له فطرته دې مزاج دے د جمهور
پښتو کوه جرګې د پښتنو مهٔ هېروه

اؤ هم دغه د حمزه بابا مرام وو د پښتون وحدت خوږه روزولی ئې د ژوند لار اؤ مقصد۔

ځو چې راغونډ په یو مرکز ئې نکړم
هرې ټپې ته د جرګو سره ځم

نو حمزه بابا د پښتون ژوند غوښتلو اؤ ورله ئې هلې ځلې کولې مونږه ټول د اباسین یوسفزی سره په دغه دعا کښې شریک وو اؤ د زړهٔ له کومې مو سحر ماښام غوښتله چې:

خدایه چې ژوندو ته په درنه ګوری
داسې انسانان خو ګور ته مهٔ بوځه

خو اجل زوراور دے اؤ تل زوراور پاتے دے،

حمزه بابا د ګور سختن شو۔ نو دا وه یوه خاکه د حمزه بابا د فکر د تخیل۔ دغه ئې ارمان وو چې پښتون پښتون شي ژبه پښتو شي او دود ددستور ئې پښتني رنګونه اونیسي، ظاهر شي او پاخه شي خو نن سبا خبره څه اپوته ورانه شان ښکاري او چې سترګې په هر لور جاروزي نو تصویر دومره خوندناک نه دے، بد رنګ دے بل ته د ښودلو خو پرېږده خان له هم د کتو د کوره وتلے دے۔ حمزه بابا خو خپله مېرنے وو او مېړني ئې خوښ وو۔ مېړني غیږونه کاروانونه، کارونه ئې د ژوند لار او مقصد وو اوس بس دغه وئیلے شم:

اګر چې پاتې نه شولو د هیچا په دعا کښې
د خپلو باباګانو نښخې وګورم په چا کښې
(اباسین یوسفزے)

نو بابا ته خپله رېښتونے وے خپل منزل درته معلوم وو په خان دې اعتبار وو۔ خغل دې رسوو نو ګوزار هم رسا شو۔ د خېبر نه لوے شوے۔ غزل دې خوان او خان دې بابا کړو د فکروتخیل ډیوې دې لور په لور داسې بلې کړې چې ټول وطن رڼا رڼا شو۔ قیصی خو ډېره اوږده ده خو پرېکړے به ووایم۔ بابا مونږه ملامته یو۔

تا وئیل:

والی اغیار چې د دوزخ ژبه ده
زه به جنت ته د پښتو سره ځم

خو مونږ خو دلته د پښتو سره تګ او استوګنه هېره کړه۔ مونږ له هره ژبه راغله مونږه ډېرې زده کړلې خو کۀ زده مو نکړه نو بس یوه پښتو۔ هغه د ډاکټر راج ولي شاه وینا ده، مسلمانه! چې پښتو لیکلے نۀ شے، وئیلے نۀ شے نو کولے خو شے۔

خو بابا "مونږ پښتو وئیل او لیکل خو پرېږده کول هم پرېښودل۔ مونږ خو خان ته پښتون وئیل هم نۀ وایو۔ د پښتو په نوم شرمېږو۔ کنی تا خو نصیحت کړے دے۔

خپلې ژبې خپل تهذیب وته چې شاه کړی
ملګرتیا له هغه قامه ژوندون نه کا

خو زمونږ پرواه هم نشته مونږ وختی ژوندون بائیللے دے۔ بس ساه اخلو او لکه د چارپایو دې ژوند کښې ښۀ خوشحاله یو۔ احساس ئې هم راته نشته۔

ژوندون مو سور اور دے یو اللغاؤ تلغاؤ ساز دے خپل ور در رانه خطا دے۔ هیڅ په پته نۀ یو خبر چې کوم ځاے یو۔ کوم خوا او کوم منزل ته روان یو۔ مونږه ملامته یو چې ستا لارښود نه مو هېره کړه۔

بابا تا خو وئیل:

خو چې راغونډ په یو مرکز ئې نکړم
هرې ټپې ته د جرګو سره ځم

مرکز خو پرېږده مونږه خوارۀ وارۀ تس نس پراته یو۔ رور د رور سره په جنګ، خوی د پلار سره په جنګ او خان د خان سره په جنګ وجه هم نۀ لرو بس بدنیتی ده تربګنی ده۔ دشمنی ده یو عجب ماحول دے از غن از غن لو غړن لو غړن ، بابا تا وئیل:

دا سرکوزی پښتونه عشقه ولې
ستا د زلمو هغه پګړی شوې

نو تا خو په عشق کښې هم اوچت سر غوښتلو۔ خو دلته زمونږ حالت ډېر بدل شان دے۔ مونږه خو پګړی پرېږده ټوپی څادر هم ورک کړو۔ د خور کمڅی مو رور له ورکړے او د وررور سرتور سر مو خور له۔

مونږ عجب ادل بدل وکړو۔ مونږه د خپلې حیا اؤ پښتو دلالان شو۔ د بل ډول ته ګډېږو د بل سُرنا ته مو اتڼ اچولے دے۔ مونږه دومره بې حسه شو اؤ دومره بنکته راو غورزېدو چې ګډېږو اؤ اتڼ کښې راګېر يو خو دا هم راته پته نۀ لګی چې ولې۔ بس نۀ يو خبر بل مو ګډوی اؤ بل مو چلوی، هغه د سيف الرحمان سليم صيب وينا ده:

رهبران ئې خرڅوی په سوداګرو
خدائے دے مل شی د وطن او د ملګرو
څۀ خبر يې چې په کوم لوری مو بيايی
چې روان يی په ګډا اؤ په سندرو

نو بابا مونږه ملامته يو۔ ستا مو قدر وونکړو، ستا مو وو نۀ منل نو لکه د پرخې د نمر د پلوشو سره په تګ يو ۔ يو ساعت له راپېدا اؤ بل ساعت له به ورک شو۔ بس د بل ډيوه کښې به کله د تېلو تمام شو۔ نوبابا مونږه هم هغه وکړه د څۀ چې يره وه:

حيف دے د حمزه همته دا څۀ وو
بس چې ورنزدے شوے نو لونېدلے وے۔ ګنی

پکار خو دا وه اؤ اسان کار وو اسانه خبره وه:

واعظه بس کړه په هر جال به مسلمان او سمه
نور به څۀ غواړی ضمانت خو چې افغان أو سمه

خو بابا داسې وونشوه نۀ پوره د مسلمان غوندے شو اؤ نۀ د افغان غوندے۔

دلته خو امام هم د خرڅ دے اؤ مقتدی هم۔ دلته خو زردار هم په نيلام دے اؤ بې کار هم۔ دلته خو هر څوک اؤ هر څيز د خرڅ دے کۀ حيا ده کۀ پښتو ده اؤ کۀ غېرت۔ مېړنے دے اؤ که بګېلے لوی دے اؤ کۀ ورکوټے تور دے اؤ کۀ سپين، درروند دے اؤ کۀ سپک۔

مونږه خو ژوند بائېلو منزل مو بائېلو۔ نن مو بائېلو:

دا جوړ جواری د محبت نۀ وه
څان چې مې ګټۀ ته مې بائېللے وے

نو بابا ته پرون هم رښتيا وے اؤ نن هم ستا فکر و تخيل اؤ پېغام رښتيا اؤ رسا وو۔ خو کۀ ورانه ده نو د خانه ده اؤ د خوانه ده اؤ ز مونږ نه ده۔

بس يو ځل بيا مېړنی غېږونه چې راشی بيا نوې ولولې اؤ نوې غزونې پکار دی۔ بيا جرګې کول دی بيا کاروانونه سازول دی اؤ پښتنی معرکې پکار دی۔

وخت به درته خپله پېدا کېږی چې تۀ کار کړے
ور چې کړې ضربونه اوازونه پېدا کېږی

نو بابا ولېل څۀ اؤ کول څۀ اؤ غوښتل څۀ اؤ مونږ ترې څۀ جوړ کړل۔

په پايه کښې دومره وايم:

چې د ذات په آئينو کښې بنديوان يو
نا خبره د خپل څان اؤ د جهان يو
لا تر اوسه مو منزل په ګوته نکړو
خبر نه يو چې په کومه لار روان يو
د پښتو د سر سودا کوو په خپله
مونږ د وخت هغه بدبخته دلالان يو
د پردو نه ګيلې هسې کړو لائقه
مونږ د خپل اولس په خپله قاتلان يو

☆☆☆☆☆☆☆☆

# یو لیک یو تأثر

لیک: عادل خان عادل — تأثر: نورالبشر نوید

دا لیک عادل خان عادل د مزاحمتي تحریک مشر نثار خان چې دا وخت په سنټرل جېل پېښور کښې دے پحقله رالېږلے دے۔
• څکه نو د خپل تأثر مرکزی خیال هم ما د بندیوان نثار خان په حواله راجوړ کړے دے۔

ډېرګران اؤ محترم نوید ګله

سلام نه اؤ ډېره مینه!!!

ګرانه نوید ګله زۀ کندهار افغانستان ته د ژوب په لاره روان یم۔ د "ډېرو زندان" په خوا چې تېرېدم۔ نو ډېر ډېر څۀ رایاد شو۔ خو نن زۀ تا ته یو څو خپل لیونی داسې حرفونه در لېږم چې ما باندې ئې لکه د دوؤ بنو په زور ځان لیکلے دے۔ داسې حرفونه چې پکښې زما نثار، زما میروس، زما زرلخته اؤ زما د نثار ناوې اؤ زما لیکوال اؤ زما ځان نوید ګل په خپلو خپلو ژبو خبرې کوی۔ هر څنګه چې وی بنۀ وی اؤ کۀ بد وی صحیح دی اؤ کۀ غلط دی خو په ما داسې وخت کښې راورېدلی دی چې زۀ ئې بل هېڅ فکر ته نۀ یم پرېښے۔ زۀ نن تا ته دا خپل حرفونه در بخښم۔ زۀ ګورم چې تۀ به زما حرفونو ته په کوم نظر ګورے۔ زۀ ګورم چې تۀ به هم زما حرفونو پورې لکه د بندیوان نثار د قام خنداګانې وکړے۔ زۀ ګورم چې زما حرفونو ته به تۀ هم لکه د نثار د قام په خپلو ګوتو اور بل کړی۔ زۀ ګورم چې تۀ به ما ته هم لکه د نثار د قام د یو سوالګری لالچی ملنګ نوم راکړی۔ زۀ ګورم چې تۀ به هم لکه د نثار د قوم د بهرام بابا جوړ شی۔ اؤ د نثار وفا پورې به وخاندی اؤ زۀ ګورم چې تۀ به زما دردمن اؤ وفادار بندی اؤ قېدی نثار، اؤ زما د ممونو غوښتو واله وړوکے میروېس اؤ زما د ګوډیانو لوبولو والا وړه زرلخته اؤ زما د نثار ارمان ژنه ناوې اؤ زما خودداره لیکوال اؤ هر چا ته وائی چې ما ته غوږ شه اؤ ماته غوږ شه اؤ د پېښور په فټ پاتونو باندې نۀ ستړے کېدونکے نورالبشر نوید ګل سره زما په حرفونو کښې کوم سلوک کوے اؤ څۀ نوم به ورکوے انصاف په تاسو، دا حرفونه ستا په لاس کښې دی چې څنګه دې خوښه وی هم هغه شان ورسره وکړه اؤ زما پرواه بالکل مۀ ساته۔ څکه چې زۀ یو خودداره لېونے اؤ بې نیازه ملنګ یم۔ د چا نه خفګان نۀ کوم څکه چې ما زړۀ اؤ د زړۀ ټول خواهشات وژلی دی چې ژوندے دے نو فقط یو ضمیر!!!!!

ډېره ګرانه نوید ګله بخښنه غواړم د جذباتو په زور کښې کۀ څۀ غلطی شوې وی معالی غواړم۔ اؤ هسې هم لېونو پسې څوک سر ستړګه نۀ وړی خو بیا هم زما حرفونو ته کۀ تاسو په تنقیدی نظر وکتل نو زما د پاره بهٔ د خوشحالی زېرے وی۔ زۀ یو ځل بیا بخښنه غواړم۔ د خدائے په امان۔

عادل خان عادل

یکه غنډ مومند ایجنسی حال کوئټه

## تأثر:

ډېره ګرانه عادل خان عادل صېب!!!

ستا ليک ما ته ستا هغه ليونے ملاقات راياد کړو چې ته د محترم اجمل ختټک په وېنا د ليکوال دفتر ته راغلے خو نن دې راته په اول ځل د حرفونو لېونتوب داسې شور جوړ کړو لکه چې راته وائي!!!

اوبه دې وړينه

پاڅه لاليه مازيګر دے ، اوبه دې وړينه

ستا د ليک د حرفونو شور څکه لېونے دے چې په دې کښې د مومند مزاحمتی تحريک د مشر نثار خان د سنټرل جېل پېښور يو بنديوان احساس هم دے اؤ د يو بنديوان پښتون د ماشومې لور زرلختې اؤ زوی ميروېس دا خاموشه سوالونه هم ما محسوس کړل لکه چې ما ته وائي!!!

که ته ليکوال ئې نو بيا مونږ ته دا ووايه چې زمونږ دپلار جرم څه دے!!!؟؟

که ته د ازادی په معنٰی پوهېږے نو مونږ هم پوهه کړه چې ازادی څه ته والي!!!؟؟؟

که تا ته د لور د سلګی اؤ د زوی د ضد احساس وی نو ولې چپ ئې!!!؟؟

ګرانه عادل جانه!!!

ما ستا لفظونو ته عن لکه د بنديوان نثار د نازؤلو بچو پشان په زېر زېر ووکتل لکه چې دوی هم د مزاحمتی بابا پشان د ګستاخ وخت خلاف په لوے جلوس کښې روان دی اؤ د دې وطن کوڼ بادار د خپل کوتوال نه تپوس کوی!!

دا ماشومان څه وائي!!!

کوتوال د خپل بادار په غوږ کښې والي!!!

دا ماشومان د "ازاد وطن" جشن نمانځی۔

دا جلوس چې د ړوند قاضی په خوا تېرېږی اؤ هغه د مزاحمت چغې اوری نو په خپله قبا کښې پړې وېښتان زيګ زيګ شی اؤ حکم وکړی!!!

دا ماشومان زما په تله "ميزان" کښې واچوئ۔

د قانون فرښتې د خپل قاضی د فرمان په رڼا کښې د تيارهٔ انصاف دا رسم ادا کړی، ټول مزاحمتی ماشومان د زرلختې اؤ ميروېس سره د ړوند قاضی په ميزان کښې وتللے شی اؤ د هغوی د سزا په فېصله کښې ړوند قاضیووليکی!!!

☆ دا ماشومان ابن باغيان ابن باغيان ابن باغيان دی۔ د ازاد اسلامی جمهوريه پاکستان روښانه مستقبل د پاره دوی ټول خطرناک دی۔ د دوی په وينه کښې بغاوت اؤ مزاحمت د صدو صدو د يو نه بل ته منتقل شوے دے۔ د دوی نيکونو، پلارانو ته په داسې خطرناک جرم "عمرقېد" سزا ورکړے شوې ده څکه نو عدالت دوی ته هم د پاکستان د سبا وفاداران" پلاران نشی وئېلی۔ د دوی قلم، تختی، کتاب اؤ حرف اؤ د ازا خپلواک.ژوند ټول حقوق بحق سرکار ضبط!

زما ګرانه عادل خانه!! .

ته چې د خپل ليک د لېونو حرفونو په جواب کښې زما تأثر ګورے نو ته به وائي چې تا په خپل تأثر کښې فقط په سنټرل جېل پېښور بنې د مزاحمتی تحريک بنديوان سربراه نثار خان ولې راواخستو۔ زهٔ به دا ووايم چې ژهٔ پخپله د مزاحمتی دوررونو پېداوار يم ما د خپلو مشرانو نه د مزاحمت په غېږ کښې اوربدلی اؤ زده کړی دی !!!

ما په دار کړئ چې منصور خلقو ته ياد شی
مودې وشوې څوک په دا رنګ دی ختلی

چرته چې د دار رسن او زندان خبره راشی هلته د پښتنو باغيانو په يو لوئي قطار کښې د پښتنو د نشې د پښتو د غرور جيګ جيګ سرونه راپه ورانديې شی په دې خاوره چې نن څوک ځانته ازاد او خپلواک وائی هغوی د پښتنو د زندانونو د تاريخ څخه ناواقفه دی او مونږ د غلامی اداب نۀ پېژنو۔ هغوی خپلې غلامی له د "باوقاره قام" ښکلی ښکلی نومونه ايښی دی۔ مونږ دغه نامه نۀ لرو۔ هغوی د وينو په باران کښې هم د امن سپينې جنډې رپوی او زمونږ د وانا وزيرستان، بلوچستان، يکه غنډ، مومند ايجنسی، خېبرايجنسی پټکی او څادرونه د شکاګو د مزدورانو پشان د وينو د سرو جنډو په جلوس کښې رَوان يو او هر "جان نثار" په چغه وائی!!!

زۀ په انجام د بغاوت جانانه ښۀ پوهېږم
چې په دار نشی نو د سترګو خوا ته چرته رسی

د پښتنوٓ مهلو اعجاز ته وګورئ چې د خپلو بچو د زېږون په اولنی ژړا کښې خپل بچے پېژنی څکه خو ئې د نن مزاحمتی تحريک له هغه وخت "نثار" نوم ايښے دے۔ او داسې هر پښتون د خپل نوم په معنٰی خان څرګندوی خو خوش بخته او نيکرغه هغه مور وی چې د زوی نامه ئې رښتنی معنٰی ورکړی!!!

دا هغه بچی وی چې لکه د نثار په خپل زندان کښې د حبيب جالب په ژبه وائی:

شاہوں سے جو کچھ ربط نہ قائم ہوا اپنا
عادت کا بھی کچھ جبر تھا کچھ اپنی زباں تھی
صیاد نے یونہی تو قفس میں نہیں ڈالا
مشہور گلستان میں بہت میر فغاں تھی

تا زما نه د خپلو حرفونو ضمانت غوښتے دے زما عقيده او ايمان دے چې هڅ انسان مری خو حرفونه هيڅ مرګ نۀ لری او زۀ خو هغه حرفونه لکه د حجراسود په ثواب ښکلوم چې زما اودۀ لېونتوب پاروی او ما ته ما رايادوی۔ ستا به هم دا خيال وی چې ګنی بشر به د پېښور په شوَر کښې د يکه غنډ اوچه سپوره سلګی هېره کړی؟؟؟؟

يا به په داسې حالاتو کښې د مزاحمت او بغاوت جامې بدلې کړی!!!؟؟

يا به د فرېب او خوش فهمی په زانګو کښې لکه د نهر يتيم اودۀ شی!!!؟؟

يا به د غنو په سيوری د خپلې دمې ځاې ته خپل منزل ووائی!!!!؟؟؟

يا به د فرعون په غېږ کښې کښېنی د هغۀ ږيرې سره به په لوبو مشغول شی او د موسٰی فطرت به ترې ووځی!!!؟؟

يا به ئې څوک په دروغژنه وعده ځانته په انتظار کښېنوی او اسره باز به ورته ووائی؟؟؟

يا به ورله څوک لاسونه وتړی په شونډو به ورله د سکوت مهر ولګوی او د عالمی بشری حقونو علمبردارانو ته به ئې په تحفه کښې د ازاد صحافت په نمونه پېش کړی او ورته به ووائی:

بول کہ لب آزاد ہیں تیرے!!
نو داسې نۀ ده!!!
خو داسې ده!!!

ملګری خان يواځې وو نۀ ګنې
ملګری ستا انقلابی ژوندے دے
د ښار خانی مې درنه نشی خوړے
بشر د کلی د مزدور بچے دے

☆☆☆☆☆☆

# غزل

(فیصل فاران)

درسته نړی کېږي چې مړانه باندې ځار نهٔ لری
هم هغه قام په خپله سیمه اختیار نهٔ لری

راځئ چې بلې کړو د خپلې خپلې برخې شمعې
څو چې د وخت دا تکه توره شپه سهار نهٔ لری

زما پټکی باندې زما پښې اؤ لاسونه تړی
هغه سړے چې په میراث کېږي خپل دستار نهٔ لری

د ختېځونکی نمر بورجل ته سلامی کړی جهان
د پېښمنی نېستمن چراغ سره څوک لار نهٔ لری

د ټېا راوړی سرهٔ اوروونه ئې په کور پورې شو
مفلس افغان خو انغری کېږي هم انکار نهٔ لری

دلته د تېلو په ځاے سوزی په ډیوو کېږي وینې
هلته جانان وائی چې ذوق د انتظار نهٔ لری

د خپلو شاړو اوبهٔ خور غواړی فارانه هغه
مونږه په سیند لاهو کوی په مونږه کار نهٔ لری

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

# غزل

(داؤد بخت مندوخېل)

یو له پښتو ډک تاریخ د ویر له تاراپاته دی
بله کومه نخښه، کوم تصویر له تاراپاته دی

تا خو زمونږ له سیمې هر څهٔ یوړل، په بدل کښې ئې
جنګ له تاراپاته اؤ زنځیر له تاراپاته دی

مونږ له هر انسان سره تر هر څهٔ زیاته مینه کړه
تا سره خو ابدی کړو، تهکیر له تاراپاته دی

مونږ په ازادی، په ابادی اؤ په ښادی مئین
ښاد نهٔ شو، مُلا ، ملک اؤ پیر له تاراپاته دی

تا ازادی راکړه خو په حقه مونږ ازاد نهٔ یُو
دا چې درویزه اؤ عالمګیر له تاراپاته دی

چا چې به په ژبه پاکولې ستا کاسې په ویاړ
هغه جاګیردار، هغه امیر له تاراپاته دی

ما بخت چې لیدلی په هر ځاے کښې ستا ملګری دی
روایم چې دغه بې ضمیر له تاراپاته دی

☆☆☆☆☆☆☆☆☆

## سلیم راز

په نری نری باران کښې، په سپرلی سپرلی ماښام کښې
د ښائیست دنیا ده جام کښې، د دنیا ښائیست دې جام کښې

پـه ګـل ځـانګو چـې زېـړے دے، او ګلونـه ځـې دوړېـږی
خرابـی خـو څـه ضـرور شـته، د ګلشـن پـه انتظـام کښـې

مودې وشوې چې وئیلی، څه زمونږ خوشحال، رحمان وو(*)
نـن هـمُ هغسـې رښتیـا دی، بـاب د تُرکـو د بـاګرام کښـې

هغـه خلـق پـه تـاریخ کښـې، ورکېـدلے چـرې نـه شـی
ټېټې سـترګې چـې ولاړ وی، څـوك د زلفـو احتـرام کښـې

وجـود هلتـه بـې څهـرې شـی، د شـناخت اعتبـار بـائیلی
چرتـه فـرق چـې پـاتې نـه شی، پـه ثنـاء او پـه دشنام کښـې



د ابـلاغ لارې شـی بنـدې، فکـر ونښلـی پـه دوه کښـې
نقـادان د علـم و فـن چـې، حُسـن ښـائی پـه ابهـام کښـې

"مُـلا" ټکـو تـه ولاړ دے، ټکـی لاس پـه نـام "شـاعر" تـه
یـو بهـر رازه کـلام نـه، بـل موجـود پـه خپـل کـلام کښـې

* دې شعر دپاره د خوشحال خان خټك او د رحمان بابا د ددې شعرونو منت بار یم:

پښتـنې جونـه مـې ولیـدې پـه سـترګو
څـوك چـې تُـرکې د خطـا سـتایي خطـا دی
(خوشحال)

هم نغمې کانـدی، هم رقص کـا، هم خانـدی
د رحمـان پـه شـعر تُـرکې د بـاګرام
(رحمان)

په نړيواله سويه د خير ښېگړې په ترسره کوونکو غير سرکاري تنظيمونو کښې يو تنظيم د MSFH (ايم ايس ايف ايچ) هم دے چې د طب په ميدان کښې تر پنځلس کالو ناروغه او ضرورتمندو ماشومانو ته لگيا دے په باقاعده توگه ريليف ورکوی.

د ايم ايس ايف ايچ مطلب دے بې پولې طبيبان، دی د پاکستان په شمول د نړۍ روستو پاتې ډېر هېوادونو کښې د څه سياسی، مذهبی، سرحدی، لسانی او قامی قيد څخه پرته د خير ښېگړې خپل پروگرام ته ادامه ورکوی.

MSFH د هالېنډ له خوا چلولے کېږی او په پاکستان کښې له کال ۱۹۸۸ ميلادی څخه کار کوی. ډاکټر عين فينډلے (Dr. Anne Findlay) ئې پراجيکټ ډايريکټره او ميشل (Michal) ئې د لاجسټکی چارو مسئول دے.

MSFH که د هجرت په اوږدو کښې په کوټه او پېښور کښې د افغان کډوالو ډېر خدمت کړے دے: خو آزاد کشمير کښې ئې هم تير اکتوبر په زلزله کښې د زلزلې ځپلو سره يو لوړ مثالی مرستې کړې دی.

ايم ايس ايف ايچ د طبی مرستو نه علاوه خلقو سره خوراکی مرستې هم کړی دی؛ بلکې د آباد کارۍ دپاره ئې هغوی ته په لويه پيمانه Tool Kits هم رسولی دی.

ايم ايس ايف ايچ د يو نيم کال نه د کُرمې ششو Shasho افغان مهاجر کېمپ کښې کار کولو خو د افغان کډوالو وطن ته د ستنېدو سره ايم ايس ايف ايچ د کُرمې د پوليټکل انتظاميې په خواهش سره د ماشومانو روغتون د تحصيل هيډکوارټر هسپتال علی زو ته راوړو.

د خدمت د جذبې نه ډکې نوموړی اين جی او د خپل پروگرام دپاره د علی زو زوړ هسپتال مرمت او فعال کړو او هلته ئې په ډېر ترتيب سره د ماشومانو د تداوۍ نوموړے روغتون پرانستو. د او پی ډی نه علاوه د هر راز سهولتونو څخه ډك دوه بېلابېل وارډونه هم لری چې ناروغه ماشومانو ته پکښې مفت طبی امداد ورکول کېږی دې سره سره مفت ايکسرے، لېبارټری او د مفت ايمبولانس سهولت هم لری. نه يوازې د علی زو، صده او پاړه چينار خلق به ترې نه استفاده وکړی؛ بلکې نزدې د افغانستان د خوست ولايت خلق به هم ورځنې په اسانه استفاده وکړای شی، اوس به خلق هنگو، کوهاټ او پېښور کښې د ماشومانو ډاکټرانو ته د ناروغه ماشومانو د وړلو نه په مکمله توگه نجات ومومی.

په دېرشم مارچ د کُرمې پوليټيکل ايجنټ سليم خان د ماشومانو ددې روغتون په باقاعده توگه پرانسته وکړه.


د ايم ايس ايف ايچ د روغتون په دې افتتاحی غونډې کښې اے پی اے بصير خان، د کُرمې ايجنسی اے ډی ايچ او ډاکټر عمران الدين، ايس ايم او ډاکټر زوار حُسين او ايس ايم او ډاکټر صابر حسين هم شامل وو.

# THE MONTHLY LEEKWAL PESHAWAR

Post Box: 41 G.P.O. Peshawar.
Mob: 0300-5939673















خفه په پښتنو یم چې دسر خلق ئې سر خوری
کوم ستوری چې زمونږ د شب و تاره ځینی ووت






THE MONTHLY LEEKWAL PESHAWAR
لیکوال
زما پتیکی باندې زما پښې اولاسونه تړی
هغه سړے چې په میراث کښې خپل دستارنه لري
موجوده پښتون او قامی پا ځون
ډاکټر کبیر
دپښتون وحدت ستون
د مداره ووت!!!!
THE MONTHLY LEEKWAL PESHAWAR
Post Box: 41 G.P.O. Peshawar.
Mob: 0300-5939673
خفه په پښتنو یم چې د سر خلق ېٔ سر خوری
کوم ستوری چې زمونږ د شب و تاره ځینې ووت


نورالبشر نوید
نن هم ځان له په نن کښې خپل ورک شوے سبا گورم